# د حضرت یشعیاه نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## پیژندګلو

د حضرت یشعیاه په دې کِتاب کښې د هغوئ دپاره یوه سخته دهمکی ده چا چې د خُدائ پاک پېغام نظرانداز کړو خو دې سره سره د معافئ او اُمید پېغام بیا هم په کښې موجود دے. د یشعیاه اولنی ۳۹ بابونو کښې د یهوداه خلاف د عدالت سخت پېغامونه دی او ورته د توبې او پاکوالی دعوت دے. خلقو په ظاهره د خُدائ پرستئ شکل جوړ کړے وو خو زړونه یې د ګناه نه ډک وُو. خُدائ پاک هغوئ له د حضرت یشعیاه په ذریعه خبردارے ورکړو، چې راشی د خپلو ګناهونو اقرار وکړی او خپل ځانونه پاک کړی، خو خلقو د هغۀ پېغام ته غوږ ونۀ نیولو. حضرت یشعیاه د هغوئ په حقله پېشګوئې وکړه چې طاقتور قوم اسور به په هغوئ حمله وکړی او بندیوان به یې بوځی. هغه هم دا امید ورکوی چې یوه ورځ به خلاصونکے هغوئ بچ کړی. په آخری ۲۷ بابونو کښې د خُدائ پاک د معافئ، تسلئ، او اُمید ذکر دے کله چې خُدائ پاک د حضرت یشعیاه په وسیلې خبرې کوی، او ورته د حضرت عیسیٰ مسیح په راتلو کښې د خلاصون او برکت منصوبه څرګندوی. کله چې اِسرائیل پستئ طرف ته روان وو نو حضرت یشعیاه ورته د اسوریانو د حملې د خطرې په حقله وفرمائیل خو اِسرائیل د هغۀ خبرداری نه اِنکار وکړو او راتلونکی تباهئ ته یې هیڅ غور ونۀ کړو. هغۀ ورته خبردارے ورکړو چې د یهوداه د خلقو ګناه به په هغوئ د خُدائ پاک عدالت راولی، او هغۀ ورته دا هم وفرمائیل چې خُدائ پاک قادر مطلق دے او هغه به دوئ د جلاوطنئ نه د فارس د خورس بادشاه په وسیلې واپس راولی. دا کِتاب د یوې هستئ په حقله خبرې کوی چې ډېر غمونه به برداشت کړی، هغه به زمونږ د ګناهونو په بدل کښې زخمی کړے شی، او په تاریخ کښې به راشی چې هغه زمونږ خلاصونکے دے. په آخری بابونو کښې خُدائ پاک د یو نوی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تخلیق په حقله ښائسته بیان کوی په کوم کښې به چې خُدائ پاک د بادشاه په شان
حکمرانی کوی، د بدعملو عدالت به کوی او ابدی امن به قائموی. د حفظ کولو دپاره
۱۰:۴۱ آیت ”یربېږئ مهٔ، زهٔ ستاسو مل یم. زهٔ ستاسو خُدائ پاک یم، د څهٔ نه هم مهٔ
وارخطا کېږئ. زهٔ به تاسو مضبوط کړم او طاقت به درکړم، زهٔ به په خپل زورَور ښی
لاس سره ستاسو حِفاظت کوم.“

## اول باب

۱ ۱ په دې کِتاب کښې د یهوداه او د یروشلم په حقله هغه پېغامونه دی کوم چې
خُدائ پاک د آموص زوئ یشعیاه باندې په هغه وخت کښې څرګند کړل کله چې عُزیاه،
یوتام، احاز او حزقیاه د یهوداه بادشاهان وُو.

## یو سرکشه قوم

۲ مالِک خُدائ وفرمائیل، ”اے زمکې او آسمانه، زهٔ چې څهٔ وایم نو هغه واورئ. ما
چې د کومو بچو پالنه کړې ده او خیال مې ساتلے دے نو هغوئ زما خِلاف بغاوت
کړے دے. ۳ غوَیے خپل مالِک پېژنی او خر د خپل مالِک اخور پېژنی. خو بنی
اِسرائیل خپل مالِک نهٔ پېژنی، زما خلق د عقل نه خلاص دی.“ ۴ اے ګناهګار قومه،
تاسو خپلو ګناهونو رالاندې کړی یئ. بدعمله نسله، بدکرداره بچو، تاسو خپل مالِک
خُدائ رد کړے دے. کوم چې د بنی اِسرائیلو مقدس خُدائ پاک دے او تاسو د هغهٔ نه
مخ اړولے دے. ۵ تاسو خپله سرکشی ولې نهٔ پرېږدئ؟ تاسو غواړئ چې نوره سزا هم
درته مِلاو شی؟ ستاسو سرونه په زخمونو باندې پټ دی او ستاسو زړونه بیمار دی. ۶
د سر نه واخله تر پښو پورې ستاسو په بدن کښې یو ځائ هم روغ نشته. تاسو ټول
ټکېدلی یئ، زخمی یئ او تغمې درباندې ولاړې دی. نهٔ ستاسو زخمونه صفا کړے شوی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی، او نۀ وربانديږ مرهم پټۍ شوې ده. ٧ ستاسو مُلک شاړ شوے دے، ستاسو
ښارونه سوزولے شوی دی. ستاسو په وړاندې د پردی مُلک خلق ستاسو پټی لوټ
کوی، او هر څۀ چې وينی هغه تباه کوی. ٨ صرف صيون لور باقی پاتې ده، لکه چې د
انګورو په باغ کښې د څوکيدار جومپړۍ پاتې وی يا د بادرنګو په پټی کښې يو څپر
بےاسرې وی، او د محاصرې لاندې بےاسرې ښار وی. ٩ کۀ مالِک خُدائ ربُ الافواج
يو څو کسان ژوندی نۀ وے پرېښے، نو يروشلم به د سدوم او عموره په شان تباه شوے
وو. ١٠ اے يروشلمه، ستا حکمرانان او ستا خلق د سدوم او د عموره په شان دی.
چې مالِک خُدائ درته څۀ فرمائی نو هغې ته غوږ ونيسه او چې خُدائ پاک درته څۀ
ښودنه کوی نو هغې ته توجو وکړه. ١١ مالِک خُدائ فرمائی، ”کۀ تاسو بےشمېره
قربانيانې پېش کړئ نو زما پرې څۀ؟ زۀ د ښو څناورو وازګې او د ګډانو د سوزېدونکو
قربانو نه پوزې له راغلے يم. په دې زۀ نۀ خوشحالېږم چې تاسو ما ته د غوَيانو، ګډو او
د چېلو وينې پېش کوئ. ١٢ کله چې تاسو زما حضور ته راځئ نو ولې ستاسو خيال دا
دے څۀ چې زۀ دا غواړم چې ستاسو څناور دې زما په دربار کښې ګرځی؟ ١٣ تاسو
چې ما له کومې نذرانې راوړئ دا بےفائدې دی. تاسو چې د خوشبويۍ کومې مصالحې
سوزوئ نو د هغې نه زۀ نفرت کوم. زۀ ستاسو د نوې مياشتې اخترونه، ستاسو د سبت
ورځې او ستاسو مذهبی اجتماعګانې نۀ شم برداشت کولے، دا هر څۀ ستاسو د ګناهونو
په وجه خراب شوی دی. ١۴ ستاسو د نوې مياشتې د اخترونو او ستاسو د مقدسو
ورځو نه زۀ نفرت کوم، دا په ما باندې يو بوج جوړ شوے دے او د دې برداشت کولو نه
زۀ تنګ راغلے يم. ١۵ کله چې تاسو د دُعا دپاره لاسونه پورته کړئ، نو زۀ به ستاسو نه
مخ واړوم. تاسو چې هر څومره دُعاګانې وکړئ، نو زۀ به يې نۀ قبلوم، ځکه چې ستاسو
لاسونه په وينو رنګ دی. ١۶ اول ولامبئ او خپل ځان صفا کړئ. خپلې بد عملی زما د
سترګو نه لرې کړئ. آو، نور بد عمل مۀ کوئ، ١٧ نيکی کول زده کړئ. او ګورئ چې
اِنصاف کيږی، د چا سره چې ظلم شوے وی د هغوئ مدد کوئ، يتيمانانو له خپل
حقُونه ورکوئ او د کونډو د حق دِفاع کوئ.“ ١٨ مالِک خُدائ فرمائی، ”راځئ چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوس دا مسئله حل کړُو. اګر چې ستاسو ګناهونو تاسو تک سرهٔ داغی کړی يئ، خو زهٔ
به تاسو صفا کړم او لکه د واورې په شان به مو سپين کړم، اګر چې ستاسو داغونه تک
سرهٔ دی، خو تاسو به د وړی په شان تک سپين شئ. ۱۹ خو کهٔ تاسو خپلې رضا سره
تابعدار يئ، نو چې زمکه کوم ښهٔ خيزونه پيدا کوی، هغه به تاسو خورئ. ۲۰ خو کهٔ
تاسو اِنکار او سرکشی کوئ، نو د تُورې لاندې به ګېر شئ او مړهٔ به شئ. دا د مالِک
خُدائ د خولې کلام دے.“

## د ګناه نه ډک ښار

۲۱ هغه ښار چې په يو وخت کښې وفادار وو اوس د کنجرې په شان شوے دے. په
يوه زمانه کښې دا د صداقت او اِنصاف نه ډک وو، خو اوس په کښې صرف قاتِلان پاتې
دی. ۲۲ اے يروشلمه، ستا خالص سپين زر اوس د ملاوټ نه ډک دی، او ستا بهترينو
ميو کښې اوبهٔ ګډې شوې دی. ۲۳ ستا مشران باغيان شوی دی او د غلو ملګری شوی
دی، هغوئ هر وخت تُحفې او رشوتونه اخلی. هغوئ په عدالت کښې هيڅکله د يتيمانانو
دفاع نهٔ کوی او نهٔ هغوئ ته د کونډو فرياد را رسی. ۲۴ نو هغې ته غوږ ونيسئ څهٔ چې
مالِک خُدائ ربُ الافواج، د بنی اِسرائيلو خُدائ تعالىٰ فرمائی، ”زهٔ به خپلو دشمنانو نه
انتقام واخلم، او مخالفينو نه به بدل واخلم. ۲۵ زهٔ به ستاسو خِلاف خپل طاقت
استعمال کړم. زهٔ به تاسو داسې صفا کړم لکه څنګه چې اوسپنه په اور کښې صفا
کيږی او زهٔ به ستاسو نه ټول ملاوټ لرې کړم. ۲۶ زهٔ به تا له هغه شان قاضيان او
مشيران درکړم لکه څنګه چې دې پخوا لرل. نو بيا به يروشلم د صادقانو او وفادارو
خلقو ښار وبللے شی.“ ۲۷ مالِک خُدائ به اِنصاف سره يروشلم بيا آباد کړی او چې
څوک هلته توبه وباسی هغه به بچ کړی. ۲۸ خو مالِک خُدائ به هغه هر يو کس ريزې
ريزې کړی څوک چې ګناه کوی او د هغهٔ خِلاف بغاوت کوی، او څوک چې مالِک
خُدائ ته شا کړی نو هغه به تباه شی. ۲۹ د خېری د مقدسو ونو عبادت سره به چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو خوشحالېدئ نو د هغې په وجه به تاسو وشرمېږئ، او کوم باغونه چې تاسو د بُت
پرستۍ دپاره غوره کړی دی نو د هغې په وجه به تاسو وشرمېږئ. ۳۰ تاسو به د څېړۍ
د داسې ونې په شان يئ چې پاڼې يې اوچې شوی وی او د يو داسې باغ په شان به يئ چې
هيڅ اوبۀ په کښې نۀ وی. ۳۱ نو هغه تکړه سړی به لکه د بوسو په شان وی او د هغوئ
بد عملونه به د اور د بڅرکی په شان وی. دواړه به يو ځائ داسې اور واخلی چې هيڅ
څوک به يې مړ کولے نۀ شی.

## يروشلم به د ابدی امن مرکز وی

۲ ۱ دا هغه پېغام دے چې خُدائ پاک د آموص زوئ يشعياه باندې د يهوداه او
يروشلم په حقله نازل کړو. ۲ په راتلونکی وخت کښې، په کوم غرۀ باندې چې د مالِک
خُدائ کور جوړ دے، هغه به د ټولو نه اوچت غر وی، د غرونو په ټولو غونډو باندې به
دا د برج په شان اوچت وی. او ټول قومونه به د سېلاب په شان ور روان وی، ۳ او د
ډېرو قومونو خلق به راشی او ويه وائی، ”راځئ چې د مالِک خُدائ غر ته وخېژُو، او چې
د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک کور ته لاړ شُو، هلته به هغه مونږ ته خپلې لارې وښائی، او
مونږ به د هغۀ په لارو ځو.“ ځکه چې د صيون نه به د هغۀ تعليمات راوځی، او د هغۀ
کلام به د يروشلم نه راځی. ۴ مالِک خُدائ به د قومونو اِنصاف وکړی او د هغوئ په
مينځ کښې به لانجې هوارې کړی. هغوئ به د خپلو تُورو نه د يوې خولې جوړې کړی او
د خپلو نېزو نه به د بوټو قينچيانې جوړې کړی. قومونه به هيڅکله بيا جنګ له لاړ نۀ
شی، او نۀ به بيا دوئ د جنګ تربيت حاصلوی. ۵ نو اے د يعقوب اولاده، راځئ چې
مونږ د مالِک خُدائ په رڼا کښې ګرځو. ۶ اے مالِکه خُدايه، تا خپل خلق، د يعقوب
اولاد رد کړے دے. ځکه چې هغوئ خپل مُلک د نمرخاتۀ د طرف د جادوګرۍ نه ډک
کړے دے. د فلستيانو په شان هغوئ هم فالګرو له ځی او د بل مُلک خلقو سره غاړه
غتې اوسيږی. ۷ د هغوئ مُلک د سپينو زرو او سرو زرو نه ډک دے او د هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خزانې نۀ ختميږی. د هغوئ مُلک د آسونو نه ډک دے او د هغوئ جنگی گاډی بےشمېره
دی. ۸ د هغوئ مُلک د بُتانو نه ډک دے او هغوئ داسې څيزونو ته سجدې لگوی چې
هغوئ په خپلو لاسونو جوړ کړی دی. ۹ نو په دې وجه به هغوئ بےعزته او سپک شی.
اے مالِکه خُدايه، هغوئ مۀ معاف کوه. ۱۰ په غارونو کښې ورننوځئ او د مالِک خُدائ
د يرې نه او د هغۀ د شان او شوکت نه ځان په خاورو کښې پټ کړئ. ۱۱ د انسان
مغروره سترگې به ټيټې کړے شی او د انسان لوئی به په عاجزئ بدله شی. نو په هغه ورځ
به صرف د مالِک خُدائ ثناء صِفت کيږی. ۱۲ په هغه ورځ به مالِک خُدائ ربُ الافواج
ټول طاقتور خلق او هغه هر څوک چې مغروره يا لوئ وی، هغه ټول به عاجزه کړی. ۱۳
هغه به د لبنان لوړ لوړ دِيار او د بسن د مُلک د ځېرې ټولې ونې تباه کړی. ۱۴ هغه به
اوچت غرونه او د غرونو اوچتې غونډۍ هوارې کړی، ۱۵ هغه به هر يو اوچت برج او د
هرې قلعې مضبوط ديوالونه هوار کړی. ۱۶ هغه به ټول لوئ سمندری جهازُونه او ټولې
ښائسته کشتۍ ډوبې کړی. ۱۷-۱۸ د انسان غرور به په عاجزئ بدل شی او د انسان
لوئی به خاورې ايرې شی. بُتان به په مکمله توگه ورک شی او په هغه ورځ به صرف د
مالِک خُدائ ثناء صِفت کيږی. ۱۹ چې کله مالِک خُدائ د دُنيا يرولو دپاره پاڅی نو
خلق به د غرونو په غارونو کښې پټيږی او په زمکه کښې به په سوړو کښې پټيږی، د دې
دپاره چې د مالِک خُدائ د دهشت او جلال نه وتښتی. ۲۰ کله چې هغه ورځ راشی، نو
هغوئ چې کومې د سپينو زرو او سرو زرو بُتان جوړ کړی وی چې عبادت يې وکړی نو
هغه به وغورزوی. او هغوئ به منږکانو او ښاپيرکانو ته پرېږدی. ۲۱ چې کله مالِک
خُدائ د دُنيا يرولو دپاره پاڅی نو خلق به د غرونو په غارونو کښې پټيږی او په زمکه
کښې به په سوړو کښې پټيږی، د دې دپاره چې د مالِک خُدائ د دهشت او جلال نه
وتښتی. ۲۲ په انسان باندې توکل مۀ کوه، د هغوئ ژوند د يوې لحظې دے او د هغې
قدر څۀ دے؟

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په یروشلم کښې تباهي

۳ ۱ مالِک خُدائ، ربُ الافواج به د یروشلم او یهوداه نه هغه هر څۀ لرې کړی چې په
هغې پورې د خلقو ژوند تړلے دے. هغه به د هغوئ نه خوراک او د څښلو اوبۀ واخلی،
۲ د هغوئ نه به باتوران او فوجیان، قاضیان او پېغمبران، فالګران او مشران، ۳
فوجی آفسران، معتبر کسان، مشیران، ماهر کاریګران او جادوګران واخلی. ۴ زۀ به
هلکان د هغوئ مشران جوړ کړم، او ماشومان به په هغوئ حکومت کوی. ۵ خلق به
یو بل سره زیاتے کوی. هر یو سړے به په بل سړی او هر یو ګاونډی به په بل ګاونډی
رُعب اچوی. ځوانان به د خپلو مشرانو بې‌عزتی کوی او بدکرداره خلق به د عزتمندو
بې‌عزتی کوی. ۶ په هغه وخت کښې به یو کس خپل ورور ته ووائی، ”تر اوسه پورې تا
سره څادر شته نو په دې وجه راشه او زمونږ مشر جوړ شه. او د کنډراتو د دې ډېری
ذمه واری اوچته کړه.“ ۷ خو هغه به ورته په جواب کښې وائی، ”نه، زۀ ستاسو علاج
نۀ شم کولے. نۀ ما سره خوراک شته او نۀ ما څادر شته. ما د عوامو مشر مۀ جوړَوئ.“
۸ بې‌شکه چې یروشلم په لړزان دے. او په یهوداه زوال راغلے دے. هغوئ چې هر څۀ
وائی او کوم عمل کوی هغه د مالِک خُدائ خِلاف دے، هغوئ په جار بار د مالِک خُدائ
خلاف بغاوت کوی. ۹ د هغوئ مخونو نه د هغوئ ملامتیا څرګنده ده. هغوئ د سدوم
د خلقو په شان په جار بار ګناه کړې ده. په هغوئ افسوس. هغوئ په خپله تباهي په ځان
باندې راوستلې ده. ۱۰ صادقانو له خوشخبری ورکړه چې هغوئ بختور دی، ځکه چې
هغوئ به د خپلو اعمالو د ښې مېوې نه خوند واخلی. ۱۱ خو بدعمله خلق تباه دی،
هغوئ چې د نورو خلقو سره څۀ سلوک کړے وی نو هم هغه شان عمل به د هغوئ سره
هم وشی. ۱۲ ځوانان زما د خلقو سره زیاتے کوی، او ښځې په هغوئ باندې حکومت
کوی. اے زما خلقو، خپلو مشرانو تاسو په غلطه لار باندې روان کړی یئ، او هغوئ
ستاسو لارې ستاسو نه ګډې وډې کړې دی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مالِک خُدائ د خپلو خلقو عدالت کول

۱۳ مالِک خُدائ په خپل عدالت کښې تيار دے، او د خلقو د عدالت دپاره ولاړ دے.
۱۴ مالِک خُدائ د خپلو خلقو آفسران او مشران راولی چې د هغوئ عدالت وکړی. د
هغوئ خِلاف د مالِک خُدائ دا اِعتراض دے، ”تاسو زما د انګورو باغ تباه کړے دے او
د غريبانانو نه لوټ کړے شوے مال ستاسو په کورونو کښې دے. ۱۵ تاسو دا حق نهٔ
لرئ چې زما خلقو له رګړه ورکړئ او د غريبانانو پوزې زمکې پورې راکاږئ. ما مالِک
خُدائ، ربُ الافواج دا فرمائيلی دی.“

## د يروشلم ښځو دپاره خبردارے

۱۶ مالِک خُدائ فرمائی، ”ګورئ، د يروشلم ښځې خومره مغروره دی. هغوئ هسکه
غاړه نيولې وی او روانې وی. هغوئ تل نخرې کوی. هغوئ د نازونو او نخرو قدمونه
اخلی او پانزيبونه شرنګوی. ۱۷ زهٔ به د هغوئ په سرونو باندې دانې راوخېژوم او ګنجې
به يې کړم.“ ۱۸ داسې ورځ راروانه ده چې مالِک خُدائ به د يروشلم د ښځو نه هغه هر
څهٔ واخلی په څهٔ چې هغوئ ځانونه ښائسته کوی، پانزيبونه، هارونه، د سپوږمۍ په شان
کالے، ۱۹ والۍ، بنګړی، نقابونه، ۲۰ لوپټې، ګونګروګان، کمربندې، د عطرو بوتلې،
تعويذونه، ۲۱ ګوتمې، نتکۍ، ۲۲ ښائسته جامې، چُوغې، شالونه، پرسونه، ۲۳ شيشې،
د کتان جامې، پړُونی او بُرقعې. ۲۴ د عطرو د خوشبو په ځائ به د هغوئ نه بدبوئ
خېژی، د کمربند په ځائ به هغوئ د ځان نه پړی تاو کړی وی، د ښائسته زلفو لرلو په
ځائ به هغوئ ګنجې شی، د قيمتی جامو په ځائ به هغوئ د ټاټ جامې اغوستې وی. د
هغوئ حُسن به په شرم بدل شی. ۲۵ د ښار سړی به په تُوره وژلے شی، ستاسو تکړه
سړی او سپاهيان به په جنګ کښې مړهٔ شی. ۲۶ د ښار دروازې به ژړا او ماتم کوی او
ښار به په خپله د هغه ښځې په شان وی چې يواځې پاتې شی او په زمکه کښېنی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ ۱ کله چې هغه وخت راشی، نو اووهٔ ښځې به يو سړے راونيسی او ورته به ووائی،
”مونږ به په خپله د خپل ځان دپاره د جامو او روټۍ اِنتظام کوُو، خو چې مونږ صرف
ستا په نوم پورې تړلې يُو چې تهٔ زمونږ خاوند يې، او داسې به مونږ د شرم نه بچ شُو.“

## د يروشلم بحال کېدل

۲ هغه وخت راروان دے چې د مالِک خُدائ ښانګه به د هغه مُلک هر يو بوټے او ونه
لويه او ښائسته کړی. نو چې کوم اِسرائيليان ژوندی پاتې وی نو هغوئ ټول به خوشحاله
وی او په هغه فصلونو به فخر کوی چې په هغه مُلک کښې پيدا کيږی. ۳ هر څوک
چې په يروشلم کښې پاتې وی، نو خُدائ پاک به د هغهٔ دپاره ژوند غوره کړے وی نو هغه
به مقدس ګڼلے شی. ۴ مالِک خُدائ به د صيون ښار د ښځې ګندګی ووينځی، هغه به
د يروشلم نه د وينې داغونه د عدالت روح سره او د اور روح سره صفا کړی. ۵ بيا د
صيون په غرهٔ او په هغه ټولو خلقو چې هلته راغونډ وی، په هغوئ به مالِک خُدائ د
ورځې وريځ راولېږی او د شپې به ورباندې لوګے او ځلېدونکے اور راولېږی. د خُدائ
پاک جلال به هغه ټول ښار پټ کړی او د هغې حِفاظت به وکړی. ۶ د هغهٔ جلال به په
هغه ښار باندې لکه د خېمې په شان وی چې د ورځې د ګرمۍ نه سورے جوړ کړی او دا
به د امن ځائ وګرځوی او د باران او طوفان نه به يې محفوظ وساتی.

## د انګورو د باغ سندره

۵ ۱ راځئ چې زهٔ د خپل محبوب دپاره سندره وايم، دا زما د دوست او د هغهٔ د
انګورو د باغ سندره ده. زما د دوست د انګورو يو باغ وو، چې دا باغ په يوه زرخېزه
غونډۍ باندې وو. ۲ هغهٔ زمکه وکنستله او د هغې نه يې کانړی صفا کړل، هغهٔ د بهترينو
انګورو بوټی وکَرل. او د دې باغ په مينځ کښې يې د حِفاظت دپاره د څوکيدارۍ يو برج

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړ کړو، هغهٔ د انگورو نه د رس ويستلو دپاره د کانړی نه لنگرۍ جوړه کړه. هغهٔ د ښو
انگورو د پخيدو انتظار وکړو، خو چې کله انگور پاخهٔ شول نو هغه تړول تراوهٔ وُو. ٣ نو
اوس، اے د يروشلم او د يهوداه اوسېدونکو خلقو، زما او زما د انگورو د باغ په مينځ
کښې فيصله وکړئ. ٤ داسې څهٔ شته چې ما د دې باغ دپاره نهٔ وی کړی؟ نو بيا چې
ما د دې باغ نه د خوږو انگورو توقع ساتله، نو دې تراوهٔ ولې ونيول؟ ٥ نو زهٔ به اوس
تاسو ته ووايم، چې زهٔ به د دې خپل باغ سره څهٔ کوم. د دې نه گېرچاپېره چې کوم باړ
دے هغه به ترې نه اخوا کړم، د دې د حِفاظت دېوالونه به راوغورزوم او ځناور به
ورپرېږدم چې وې خوری او د پښو لاندې يې کړی. ٦ زهٔ به د هغې زمکه شاړه کړم. نهٔ
به يې په بوټو کښې قينچی کيږی او نهٔ به ورته گوډ کيږی، هلته به ازغی او مرکونډې
زرغونې شی. زهٔ به وريځې هم منع کړم چې په دې باندې باران نهٔ ورَوی. ٧ د اِسرائيل
قوم د مالِک خُدائ ربُ الافواج د انگورو باغ دے، او د يهوداه خلق د انگورو هغه بوټی
دی چې هغهٔ په خوشحالئ کَرلی دی. د هغهٔ د دوئ نه طمع وه چې اِنصاف به کوی، خو
په ځائ د دې هغوئ ظلمونه کول. هغهٔ ترې نه د صداقت طمع لرله، خو په ځائ د دې
هغهٔ د ژړا چغې واورېدې.

## د بدو عملونو دپاره عدالت

٨ په تاسو افسوس، تاسو نور نور کورونه او پټی اخلئ. خو په آخر کښې به د نورو
خلقو دپاره ځائ پاتې نهٔ شی او صرف تاسو به په هغه مُلک کښې اوسېږئ. ٩ ما
اورېدلی دی چې مالِک خُدائ ربُ الافواج قسم خوړلے دے چې، ”يقيناً چې د ډېرو
کورونو نه به کنډرې جوړې شی، او په دې غټو او ښائسته کورونو کښې به هيڅوک نهٔ
اوسيږی. ١٠ په شل جريبه زمکه باندې چې کوم د انگور باغ کَرلے شوے وی نو هغه به
صرف دوويشت ليټره مے پيدا کوی. يو سل او شپېتهٔ کلو تخم به صرف شپاړس کلو
غله پيدا کوی.“ ١١ په تاسو افسوس څوک چې سحر وختی پاڅئ او په شرابو ښخلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې شروع وکړئ او په ماښام کښې تر ناوخته پورې مے څښئ او ځانونه نشه کوئ.
١٢ ستاسو په محفلونو کښې تاسو سره رباب، بينجو، تمبلونه، شپېلۍ او مے وى. دا
خو ستاسو په خيال کښې هم نۀ راځى چې مالِک خُدائ څۀ کوى. او څۀ چې هغه کوى
نو تاسو د هغې لحاظ نۀ کوئ. ١٣ نو ځکه زما قوم به د خپلې ناپوهۍ له وجې جلاوطن
کړے شى. ستاسو مشران به د لوږې نه مړۀ شى او ستاسو عوام به د تندې نه مړۀ شى.
١٤ تورو خاورو هغوئ ته خپله خولۀ کولاو نيولې ده دپاره د دې چې د يروشلم غټ
خلق او عوام، مست او شور جوړونکى خلق به ژوندى تېر کړى. ١٥ هر يو کس به
سپک کړے شى او څوک چې مغرور وى نو هغوئ ټول به عاجزان کړے شى. ١٦ خو
مالِک خُدائ ربُ الافواج د خپلې لويئ اظهار د هغه کار په کولو سره کوى چې کوم د
اِنصاف وى او د خُدائ پاک راستى به د هغۀ د پاکوالى څرګندونه کوى. ١٧ د ښار په
کنډرو کښې به ګډُورى واښۀ خورى او د چېلو بچو ته به په کښې د څرن زمکه ملاوېږى.
١٨ په تاسو افسوس څوک چې د شګى مزى پورې خپل ګناهونه راکاږئ، او څوک چې
د غوَيانو د ګاډۍ په شان خپله بدعملې ځان پسې راکاږئ. ١٩ تاسو وايئ، "مالِک خُدائ
دې زر زر خپل کار وکړى چې مونږ دا وګورو. او چې د بنى اِسرائيلو مقدس ذات کومه
منصوبه جوړه کړې ده هغه دې زر سر ته ورسوى چې مونږ ته د هغې پته ولګى." ٢٠ په
تاسو افسوس دے. تاسو بدو ته ښۀ وايئ او ښو ته بد وايئ. تاسو تيارۀ نه رڼا جوړَوئ او
د رڼا نه تيارۀ جوړَوئ. کوم څيز چې تريخ وى نو د هغې نه خوږ جوړَوئ او چې کوم
خوږ وى نو د هغې نه تريخ جوړَوئ. ٢١ په تاسو افسوس دے. ستاسو خيال دا وى چې
تاسو عقلمند يئ او خپل ځان ډېر زيات هوښيار ګڼئ. ٢٢ په تاسو افسوس دے. د ميو
په څښلو کښې خو تاسو ډېر تکړه يئ. او د شرابو په ګډولو کښې تاسو ښۀ ځوانى ښايئ.
٢٣ خو د رشوت په وجه تاسو مجرمان آزادوئ او د بې‌ګناه خلقو حقُونه خورئ. ٢٤
نو اوس، لکه څنګه چې خسنى او اوچ واښۀ ټسېرى او په اور کښې ايرې کيږى، نو داسې
ستاسو جرړې به ورَستې شى او ستاسو غوټۍ به اوچې شى او هوا به يې يوسى. دا ځکه
چې تاسو د مالِک خُدائ د ربُ الافواج شريعت رد کړے دے، او د بنى اِسرائيلو د
مقدس ذات حکم ته مو سپک کتلى دى. ٢٥ نو ځکه مالِک خُدائ خپلو خلقو ته سخت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په قهر دے او خپل لاس يې اوچت کړے دے چې هغوئ له سزا ورکړی. غرونه به
وخوځيږی او چې څوک مړۀ شی نو د هغوئ لاشونه به په کوڅو کښې د ګند په شان
پاتې شی. خو د مالِک خُدائ غصه به بيا هم نۀ وی سړه شوې او هغۀ به د سزا دپاره
لاس اوچت کړے وی. ۲۶ هغه به يو لرې قوم ته د راغوښتلو دپاره اِشاره وکړی. هغه
هغوئ ته شپيلے ووهی چې د دُنيا د لرې سر نه راشی. او هغوئ زر زر او په منډه منډه
راشی. ۲۷ د هغوئ يو کس به هم نۀ ستړے کيږی، او نۀ به تيندکونه خوری. نۀ به هغوئ
د خوب دپاره ودريږی او نۀ د آرام دپاره. نۀ به هغوئ ملابند سپړی او نۀ به هغوئ د خپل
پېزار تسمې پرانيزی. ۲۸ د هغوئ غشی به تېرۀ وی او د هغوئ ليندې به د ويشتلو دپاره
تيارې وی. د هغوئ د آسونو د نالونو نه به بڅرکی الوځی او د هغوئ د جنګی ګاډو پايې
به د هوا په شان تاويږی. ۲۹ هغوئ د ازمرو په شان غړمبيږی، د داسې ازمرو په شان
غړمبيږی چې ښۀ په ځوانی کښې وی. هغوئ غړمبار سره خپل ښکار راونيسی او يو خوا
ته يې وړی او هيڅ څوک هم نۀ وی چې يې ترينه خلاص کړی. ۳۰ په دغه ورځ به هغوئ
په خپل دشمن باندې وغړمبيږی داسې لکه چې د سمندر چپې شور کوی. کۀ څوک هغه
مُلک ته وګوری نو صرف تيارې او مصيبتونه به ورته ښکاری. او د وريځې د خوريدو په
وجه به رڼا په تيارې بدله شی.

## د خُدائ پاک حضرت يشعياه راغوښتل

۶ ۱ په کوم کال چې عُزياه بادشاه مړ شو، نو ما مالِک خُدائ وليدو چې په اوچت
او د لوئې مرتبې په تخت ناست وو. او د هغۀ د چُوغې لمن سره د هغۀ کور ډک شو. ۲
د هغۀ نه ګېرچاپېره بليدونکے مخلوق ولاړ وو او د هر يو شپږ شپږ وزر وُو. دې هر يو
خپل مخ په دوو وزرو باندې پټ کړے وو، په دوو وزرو باندې يې پښې پټې کړې وې او د
دوو وزرو نه يې د الوتلو کار اخستلو. ۳ هغوئ يو بل ته نعرې وهلې، ”مقدس، مقدس.
مالِک خُدائ ربُ الافواج مقدس دے. د هغۀ د جلال نه دُنيا ډکه ده.“ ۴ د هغوئ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آوازونو شور د خُدائ پاک د کور چوکاټونه ولړزول او د مالِک خُدائ کور د لوګی نه
ډک شو. ۵ نو ما ووئيل، "په ما افسوس، زۀ تباه شوم، ځکه چې زما شونډې په ګناه
ککړې دی، او د کومو خلقو سره چې زۀ اوسېږم د هغوئ شونډې هم ګنده دی. خو بيا
هم ما په خپلو سترګو هغه بادشاه ليدلے دے چې هغه مالِک خُدائ ربُ الافواج دے."
۶ نو بيا د هغه بلېدونکی مخلوق نه يو زما طرف ته راوالوتلو. هغۀ يوه بَله سکروټه
راروانه کړې وه، هغۀ دا د قربانګاه نه د يوې چمټې سره راخستې وه. ۷ هغۀ زما
شونډو له بَله سکروټه وروړله او وې فرمائيل، "دا سکروټه ستا د شونډو سره لګېدلې ده،
نو په دې وجه ستا قصور ختم شو او ستا ګناهونه معاف شول." ۸ بيا ما د مالِک
خُدائ آواز واورېدو چې وې فرمائيل، "زۀ څوک ولېږم؟ زمونږ د طرف نۀ به څوک
ځی؟" نو ما ورته په جواب کښې ووئيل، "زۀ حاضر يم. ما ولېږه." ۹ نو هغۀ ما ته
وفرمائيل چې، "لاړ شه او دې قوم ته دا پېغام ورسوه، "هر څومره کۀ تاسو واورئ خو
تاسو به پرې پوهه نۀ شئ، هر څومره کۀ ورته ګورئ نو تاسو به پرې پوهېږئ نه." ۱۰ د
هغوئ زړونه سخت کړه، د هغوئ غوږونه کاڼۀ کړه او د هغوئ سترګې ړندې کړه، داسې
نۀ وی چې هغوئ په خپلو سترګو وګوری او په خپلو غوږُونو واوری او خپلو زړونو
کښې پوهه شی او زما طرف ته شفا دپاره راتاو شی." ۱۱ ما ترې نه تپوس وکړو، "اے
مالِکه خُدايه، دا به تر کومې پورې وی؟" هغۀ راته وفرمائيل، "دا به تر هغې پورې وی چې
ښارونه يې تباه او خوشې شی او چې د کورونو نه يې خلق ختم شی او زمکه يې شاړه
شی. ۱۲ تر هغې چې مالِک خُدائ هغوئ تر لرې لرې پورې وزغلوی او ټول مُلک يې
خوشے پاتې شی. ۱۳ کۀ په هغه مُلک کښې صرف لسمه حِصه خلق هم پاتې وی، نو
هغه به بيا وسوزولے شی. هغه به د څېړئ د ونې په شان داسې کټ شی چې صرف
مونډ يې باقی پاتې شی." دا مونډ به يو مقدس تخم وی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د احاز بادشاه دپاره یو پیغام

۷ ۱ کله چې د عُزیاه نمسی او د یوتام زوئ احاز بادشاه په یهوداه باندې بادشاهی
کوله، نو د شام بادشاه رضین او د اِسرائیل بادشاه د رملیاه زوئ فقح په یروشلم باندې
حمله وکړه، خو هغوئ د دې ښار قبضه کولو کښې ناکامه شول. ۲ کله چې دا خبر د
یهوداه بادشاه ته ورسېدو چې د شام فوجیان اِسرائیل سره په جنګ کښې ملګری شوی
دی، نو هغه او د هغهٔ ټول خلق دومره زیات وېرېدل او داسې ولړزېدل لکه چې په طوفان
کښې ونې خوځیږی. ۳ نو مالِک خُدائ یشعیاه ته وفرمائیل، "خپل زوئ شیاریشوب
ځان سره روان کړه او احاز بادشاه سره مِلاوېدو له لاړ شه. تهٔ به هغهٔ سره په هغه
سړک باندې مِلاو شې چرته چې دهوبیان جامې وینځی او د هغه نِهر لاندې سر سره په
کوم چې د تالاب نه اوبهٔ راکوزیږی. ۴ هغهٔ ته ووایه چې، وېښ اوسه او په قلار شه او
نهٔ چې وېرېږی او نهٔ پرېشانه شی. د رضین بادشاه، شامیانو او د رملیاه د زوئ غصه د
اور د هغه دوو لرګو په شان هیڅ هم نهٔ ده چې په مړ کېدو بدل وی. ۵ شام، سره
اِسرائیل او د رملیاه زوئ ستا خِلاف منصوبه جوړه کړې ده، او وائی، ۶ راځئ چې
مونږ په یهوداه باندې حمله وکړُو، خلق وېروو او قبضه یې کړُو، او بیا به د طابئیل زوئ
په تخت باندې کښېنوو. ۷ خو مالِک خُدائ فرمائی چې، د هغوئ منصوبه به ناکامه
شی. او دا به نهٔ کیږی. ۸ ولې چې د شام مشر دمشق دے او د دمشق مشر صرف
رضین دے. او ترڅو چې د اِسرائیلو خبره ده، نو هغه به په پینځو شپېتو کالو کښې ټوټې
ټوټې او په مکمل طور تباه شی. ۹ د اِسرائیل مشر سامریه دے او د سامریه مشر د
رملیاه زوئ دے. کهٔ په ایمان قائم پاتې نهٔ شوئ، نو یقیناً چې پخپله به قائم پاتې نهٔ شئ."
۱۰ مالِک خُدائ احاز له یو بل پیغام ولیږلو، ۱۱ "د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک نه
وغواړه چې یوه نښه درته وښائی. کهٔ هغه د آسمان نه پاس وی او کهٔ د عالمِ ارواح نه
لاندې وی." ۱۲ خو احاز ورته اِنکار وکړو او وئیل یې چې، "نه، نهٔ به زهٔ نښه غواړم او
نهٔ به مالِک خُدائ آزمائیم." ۱۳ نو په دې خبره یشعیاه ورته وفرمائیل، "اے د داؤد

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه اولاده، په کولاو غوړونو واورئ. ولې دا کافی نهٔ ده چې تاسو د انسان صبر تمام
کړئ؟ اوس تاسو زما د خُدائ پاک صبر هم تمامول غواړئ څهٔ؟ ۱۴ ښه نو بیا ګورئ،
مالِک خُدائ به په خپله تاسو ته یوه نښه وښائی. یوه پېغله به اُمیدواره شی او چې زوئ
یې پېدا شی نو "عمانوایل" یعنې، "خُدائ زمونږ مل دے" نوم به پرې کېږدی. ۱۵ په هغه
وخت کښې چې کله هغه دومره شی چې ملائی او شات خوړے شی نو د خپل ښهٔ او بد
فېصله به په خپله کولے شی. ۱۶ هغه وخت به لا راغلے هم نهٔ وی چې هغه د خپل ښهٔ
او بد فېصله پخپله کوی، نو د هغه دوو بادشاهانو مُلکونه به خوشی او برباد شی کوم
چې تاسو یروی. ۱۷ نو مالِک خُدائ به په تا، ستا په خلقو او په ټول شاهی خاندان
داسې سخت وخت راولی چې د کله نه اِسرائیل د یهوداه نه جدا شوے دے نو تر نن
ورځې پورې نهٔ دے راغلے. هغه به د اسور بادشاه راولی چې په تاسو باندې حمله
وکړی. ۱۸ کله چې هغه وخت راشی، نو مالِک خُدائ به د مِصریانو د راغوښتو دپاره
شپېلۍ ووهی چې د نیل دریاب د لرې غاړو نه د مچانو په شان راشی او اسوریانو ته به
شپېلۍ ووهی چې د شاتو د مچو په شان د خپل مُلک نه راشی. ۱۹ هغوئ ټول به راشی،
د ژورو وادۍ باندې او په غارونو او ګټو باندې او د ازغو په هر یو بوټے او په ولاړو اوبو
باندې به کښېنی. ۲۰ کله چې هغه وخت راشی، نو مالِک خُدائ به د اسور بادشاه د
نائی په توګه د فرات سیند د بلې غاړې نه راولی او هغه به ستاسو ږیرې، سر او په بدنونو
وېښتهٔ کل کړی. ۲۱ په هغه وخت چې کوم یو کس سره یوه سخۍ او یو دوه ګډې
چېلۍ پاتې وی نو هغه به خوش قسمته وی. ۲۲ دا به دومره زیات پئ ورکوی چې د هغهٔ
ضرورت به ښهٔ پوره کوی. آو، چې په هغه مُلک کښې څوک هم ژوندی پاتې وی نو
هغوئ به ملائی او شات خوری. ۲۳ کله چې هغه وخت راشی، نو د انګورو هغه ښهٔ
باغونه، چې په هر یو کښې یو زر د انګورو بوټی وی او د هر یو باغ قیمت د سپینو زرو یو
زر سیکې وی، نو هغه به هم د ازغو او غنو نه ډک وی. ۲۴ خلق به هلته د غشو او لیندو
سره د ښکار دپاره ځی. آو، هغه ټول مُلک به د ازغو او غنو نه ډک وی. ۲۵ په کومو
غونډو باندې چې د فصلونو دپاره کوداله کېده نو هغه به هم د ازغو نه داسې ډک وی چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هیڅ څوک به هلته نۀ شی تلے. هغه به یو داسې ځائ جوړ شی چې چرته څاروی او
ګډې څرېږی."

## د حضرت یشعیاه زوئ د خلقو دپاره یوه نښه

۸ ۱ مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل، "د لیکلو دپاره یوه لویه تخته واخله او په هغې
باندې صفا صفا دا ولیکه چې، د تېزئ مال غنیمت او زر زر لوټ مار." ۲ ما د اورِیاه
اِمام او د یبرکیاه زوئ زکریاه په وړاندې دا ولیکل او دا دواړه کسان ایمانداره ګواهان
ؤو. ۳ بیا زۀ د خپلې پېغمبرې ښځې سره څملاستم، هغه اُمیدواره شوه او یو زوئ مو
پېدا شو، نو مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل، "په هغۀ باندې "د تېزئ مال غنیمت او زر زر
لوټ مار" نوم کېږده. ۴ د هغې نه وړاندې چې ماشوم دومره لوئ شی چې ابو او امی
وئیلے شی، نو د دمشق ټول مال دولت او د سامریه ټول مال غنیمت به د اسور بادشاه
لوټ کړے وی."

## د اسور د بادشاه راتلل

۵ نو مالِک خُدائ یو ځل بیا ما سره کلام وکړو. هغۀ وفرمائیل، ۶ "دې خلقو د
شیلوخ قلارې روانې اوبۀ رد کړې دی او د رضین بادشاه او فقح بادشاه نه یرېدلی دی.
۷ نو په دې وجه به زۀ، مالِک خُدائ د اسور بادشاه او د هغۀ ټول لښکر راولم چې په
یهوداه حمله وکړی. د هغۀ لښکر به داسې وړاندې راشی لکه چې د فرات د سیند اوبۀ د
غاړو نه راوړیدلې وی. ۸ هغوئ به د سېلاب په شکل کښې د یهوداه نه تېر شی، اے
عمانوایله، اوبۀ به لکه د مرغۍ د وزرو په شان خوَرې وی او ستا ټول مُلک به یې نیولے
وی. او خلق به یې تر مرۍ مرۍ پورې پټ کړی وی." ۹ اے قومونو، په یره یره کښې
راغونډ شئ. اے د دُنیا لرې مُلکونو واورئ. د جنګ دپاره تیار شئ، خو تاسو به چخنی
کړے شئ. آو، تیار شئ، خو تاسو به چخنی کړے شئ. ۱۰ تاسو چې څۀ منصوبې هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړَوئ هغه به بېفائدې وى. تاسو چې څۀ فيصله هم کوئ هغه به ناکام کيږى، ځکه چې خُدائ پاک زمونږ مل دے.

## د مالِک خُدائ پېغمبر له خبردارے ورکول

۱۱ مالِک خُدائ زۀ کلک ونيولم او خبردارے يې راکړو چې په هغه لار به نۀ ځې چې په
کومه به نور خلق تلل. هغۀ وفرمائيل، ۱۲ ”هره خبره سازش مۀ گڼه څنګه چې يې دا
قوم ګڼى او د هغه څيزونو نه مۀ يرېږه چې کوم نه دوئ يرېږى. ۱۳ مالِک خُدائ، ربُ
الافواج مقدس ګڼئ، د هغۀ نه دهشت خورئ او د هغۀ نه يره کوئ. ۱۴ بيا به هغه تاسو
محفوظ ساتى. خو هغه به د اِسرائيل او د يهوداه دپاره يو داسې کاڼے وى چې د تيندک
باعث به جوړېږى، او خلق به پرې تيندک وخورى او راويه غورزيږى. او د يروشلم د
خلقو دپاره به هغه يو دام او يو جال جوړ شى. ۱۵ په هغوئ کښې به ډېر تيندک وخورى
راويه غورزيږى او ټوټې ټوټې به شى. هغوئ به په دام کښې راګېر شى.“

## د مړو د روحونو سره د مشورې کولو خِلاف خبردارے

۱۶ د څۀ تعليم چې ما ورکړو، نو هغه دې په طومار کښې درج کړے شى او زما
شاګردانو له دې ورکړے شى. ۱۷ زۀ به د مالِک خُدائ انتظار کوم او د هغۀ نه به اُميد
ساتم، اګر چې هغۀ د يعقوب خاندان رد کړے دے. ۱۸ زۀ دلته د هغه بچو سره يم چې
کوم مالِک خُدائ ما له راکړى دى. هغه مالِک خُدائ، ربُ الافواج چې د هغۀ تخت د
صيون په غر باندې دے، هغۀ مونږ اِسرائيل له د نښې او خبردارى په توګه رالېږلى يُو.
۱۹ کۀ څوک تاسو ته ووائى چې، ”د قسمت ښودونکو او مړو روحونو سره خبرو والا
نه پته وکړئ، د هغوئ نه چې په نرى آواز سره يا په ګونګسو کښې خبرې کوى،“ هغوئ
به وائى، ”د هر څۀ نه به ښۀ نۀ وى چې خلق د خپلو معبودانو سره مشوره وکړى؟ د
ژوندو د خاطره مونږ د مړو د روحونو سره ولې مشوره ونۀ کړُو؟“ ۲۰ د مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هدایاتو او تعلیماتو ته ګورئ. هغه خلق څوک چې د هغهٔ د کلام په مطابق پېغام نهٔ اوروی
نو د هغوئ مستقبل ښهٔ نهٔ وی. ۲۱ هغوئ به په هغه مُلک کښې سرګردانه ګرځی، اوږی
او بې‌حوصلې به وی. د لوږې نه به غصه وی او خپل بادشاه او خُدائ پاک ته به کنځل
کوی. هغوئ کهٔ آسمان ته سترګې پورته کړی ۲۲ یا کهٔ زمکې ته ګوری، خو هغوئ ته به
د پرېشانئ، مصیبت او تیارې نه بغیر هیڅ هم نهٔ ښکاری، په تکه توره او یرووونکې تیارهٔ
کښې به وغورزولے شی.

## د راتلونکی مسیح رڼا

۹ ۱ نو د هغوئ دپاره به دا مصیبت تر همېشه پورې جاری نهٔ وی. د زبولون او
نفتالی علاقه ته په یو وخت کښې سپک کتلے شول، خو په راتلونکی وخت کښې به دا
علاقه عزتمنده شی، نمرخاتهٔ طرف ته د مدیترانی سمندر نه واخله د دریاب طرف ته د
اُردن نه پورې او داسې ګلیل به هم عزتمند شی، چرته چې غېریهودیان اوسیږی. ۲
کوم خلق چې په تیارهٔ کښې ګرځېدل، نو هغوئ یوه لویه رڼا لیدلې ده، او هغوئ څوک
چې په تورو تیارو کښې اوسېدل، پرې نُور ځلیږی. ۳ تا د هغوئ قوم لوئ کړے دے
او لویه خوشحالی دې ورکړې ده. تا چې څهٔ کړی دی نو په هغې باندې هغوئ خوشحالی
کوی، هغوئ دومره خوشحالی کوی لکه چې خلق یې د فصل د رېبلو په وخت کوی، او
یا چې کله مالِ غنیمت تقسیمیږی. ۴ تهٔ به د هغوئ د غلامئ جغ مات کړې او د هغوئ
د اوږو نه به درووند بوج واخلې. او د ظالمانو زور به ختم کړې داسې لکه څنګه چې تا د
میدیان لښکر تباه کړے وو. ۵ د هر یو جنګیالی فوجی پېزار او د هغوئ هغه ټولې
جامې چې په وینو داغدارې دی، هغه به په اور وسوزولے شی. ۶ زمونږ دپاره یو
ماشوم پیدا شوے دے. مونږ له یو زوئ راکړے شوے دے. او حکمرانی به د هغهٔ په
اوږو وی. هغه به په دې نومونو سره یادیږی، "عظیم مشیر،" "خُدائ تعالیٰ،" "ابدی پلار"
او "د امن شهزاده." ۷ د هغهٔ شاهی طاقت به زیاتیږی، د هغهٔ بادشاهی به تل په امن

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښېږي وی. هغه به د داؤد نه پس بادشاه وی، د هغهٔ د بادشاهۍ بنیاد به په صداقت او
اِنصاف باندې قائم وی، د اوس نه واخله تر همېشه همېشه پورې به د هغهٔ بادشاهی قائمه
وی. د مالِک خُدائ ربُ الافواج غېرت به هم دغه شان وکړی.

## مالِک خُدائ به اِسرائیل له سزا ورکوی

٨ مالِک خُدائ د یعقوب خلاف کلام کړے دے، او هغه په اِسرائیل مسلط دے. ٩
د اِسرائیل ټول خلق او هغه هر یو کس چې په سامریه کښې اوسېږی، هغوئ ته به پته
ولګی چې دا هغهٔ کړی دی. خو اوس هغوئ مغروره او خود غرضه دی. هغوئ ووئیل،
١٠ "زمونږ د خښتو عمارتونه راغورزېدلی دی، خو مونږ به دا بیا د تراشلے شوو کاڼو
نه جوړ کړُو. د چِنار ونې راماتې شوې دی، خو مونږ به د دې په ځائ د دِیار ښائسته
ونې ولګوو." ١١ خو مالِک خُدائ د هغوئ دشمنان راپارولی دی چې په هغوئ باندې
حمله وکړی. ١٢ د نمرخاتهٔ طرف ته شام او د نمرپرېواتهٔ طرف ته فلستیه خولهٔ
پرانستلې ده چې اِسرائیل ژوندے تیر کړی. خو د مالِک خُدائ غصه تر اوسه پورې سړه
نهٔ ده، او هغهٔ د سزا دپاره تر اوسه پورې لاس اوچت نیولے دے. ١٣ اګر چې مالِک
خُدائ ربُ الافواج هغوئ له سزا هم ورکړې ده، خو د اِسرائیل خلقو توبه نهٔ ده ویستلې،
او هغوئ هغهٔ ته واپس نهٔ دی راګرځېدلی. ١٤ صرف په یوه ورځ کښې به مالِک خُدائ د
اِسرائیل مشرانو او خلقو له داسې سزا ورکړی چې د سر نه واخله تر بېخه پورې به ټول
ختم کړی. ١٥ مشران او عزتمند خلق د سر په شان دی او هغه پېغمبران د بېخ په شان
دی چې د چا تعلیمات د دروغو نه ډک وی. ١٦ د قوم مشرانو خلق بېلارې کړی دی او
د تباهۍ په طرف یې روان کړی دی. ١٧ نو مالِک خُدائ به د قوم د ځوانانو نه
خوشحاله نهٔ وی او هغه به په کونډو او یتیمانانو باندې هم رحم نهٔ کوی، ځکه چې ټول
خلق د خُدائ نه اوړېدلی دی او بدعمله شوی دی او هغوئ چې څهٔ هم وائی هغه بدی
وی. خو د مالِک خُدائ غصه به بیا هم نهٔ سړېږی او هغهٔ به د سزا ورکولو دپاره خپل
لاس اوچت کړے وی. ١٨ د خلقو بدعملی د هغه اور په شان بلیږی کوم چې د ازغو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بوټي او غنې سوزوی. دا د ځنګل د هغه اور په شان بليږی کوم چې پاس په هوا کښې د
لوږی ستنه جوړوی. ۱۹ د مالِک خُدائ ربُ الافواج غصې سره به ټول مُلک وسوزی
او په خلقو باندې به يې اور بَل وی او يو کس به په بل هيڅ ترس نۀ کوی. ۲۰ هغوئ به
خپل ګس طرف ته ګاونډيانو باندې حمله وکړی خو بيا به هم اوږې وی، په خپل ښي
طرف ګاونډيانو باندې به حمله وکړی خو بيا به يې هم لوږه نۀ ختميږی. په آخر کښې به
هغوئ خپل بچی هم وخوری. ۲۱ منسی به په اِفرائيم او اِفرائيم به په منسی حمله وکړی،
بيا به هغوئ يو ځائ په يهوداه حمله وکړی. خو د مالِک خُدائ غصه لا سړه نۀ ده، او
هغۀ د سزا ورکولو دپاره لاس اوچت نيولے دے.

# ۱۰

۱ په تاسو افسوس، تاسو د بې‌اِنصافئ قانون جوړَوئ او د ظلم فتوې ورکوئ.
۲ او د دې په وجه غريبانانو خلقو له موقع نۀ ورکوئ چې هغوئ ته خپل حق مِلاو شی
او د هغوئ سره اِنصاف وشی. او د دې قانون په وجه کونډې ستاسو په چال کښې
راګيرې شی او يتيمان لوټ کوئ. ۳ د عدالت په ورځ به تاسو څۀ کوئ؟ کله چې د يو
لرې مُلک نه په تاسو يو افت راشی نو تاسو به څۀ کوئ؟ د مدد دپاره به تاسو کوم ځائ
ته منډې وهئ؟ تاسو به خپل مال دولت چرته پټوئ؟ ۴ هيڅ به پاتې نۀ شی، يا خو به
تاسو د قېديانو په مينځ کښې د يرې نه زېړې داړې نيولې وی او يا به په جنګ کښې
ووژلے شئ. خو د مالِک خُدائ غصه به بيا هم نۀ سړيږی، هغۀ به تاسو له د سزا
درکولو دپاره خپل لاس اوچت کړے وی.

## د اسور بادشاه سره د خُدائ پاک عدالت

۵ بيا مالِک خُدائ وفرمائيل، ”اے اسوريانو، زۀ اسور د چُوکې په توګه استعمالوم
چې هغه خلقو له سزا ورکړم چې زۀ چا ته غصه يم. ۶ ما اسوريان ورولېږل چې په
دې بې‌دينه قوم باندې حمله وکړی، دا هغه خلق دی چې زۀ يې غصه کړے يم. ما هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دې دپاره ورلېږل چې هغوئ وشوکوی او لوټ يې کړی او هغه خلق د لارې د خاورې
په شان د پښو لاندې کړی." ۷ خو د اسور بادشاه په خپل زړهٔ کښې د ظلم نه ډکې
منصوبې لرلې. د هغهٔ اراده دا وه چې ډېر قومونه تباه کړی. ۸ هغهٔ وئيل چې، "زما هر
يو فوجی مشر بادشاه دے. ۹ ما د کلنو، کرکميس، حمات او د ارفاد ښارونه فتح
کړی دی. ما سامريه او دمشق فتح کړے دے. ۱۰ ما ډېر حکومتونه قابو کړی دی د
چا معبودان چې د يروشلم او سامريه د بُتانو نه بهتر وُو. ۱۱ ما سامريه او د دې ټول
بُتان تباه کړی دی او اوس به زهٔ يروشلم او د هغې ټول بُتان هم تباه کړم." ۱۲ خو
مالِک خُدائ وفرمائيل، "کله چې زهٔ هغه کار ختم کړم چې د صيون غر او د يروشلم
سره يې کوم، نو زهٔ به د اسور بادشاه له د هغهٔ د لافو او ټول غرور په وجه سزا ورکړم."
۱۳ د اسور بادشاه به په خپلو لافو کښې وئيل، "دا هر څهٔ ما په خپل لاس کړی دی،
ځکه چې زهٔ ډېر هوښيار يم. ما د قومونو په مينځ کښې سرحدونه ختم کړی دی او د
هغوئ خزانې مې لوټ کړی دی او د يو تکړه غوَيی په شان مې د هغې بادشاهان تباه
کړی دی. ۱۴ ما د دُنيا قومونو نه دولت داسې اخستے دے لکه چې څوک د ځالې نه
هګۍ راوچتوی او ما داسې ټول مُلکونه هم را اوچت کړی دی، داسې يو وزر هم نهٔ وو
چې زهٔ يې يرولے وے او نهٔ داسې مخُوکه وه چې په ما باندې چغېدلے وے." ۱۵ خو
مالِک خُدائ فرمائی، "ولې يو تبر دا دعویٰ کولے شی چې دا د هغه سړی نه تکړه دے
چې څوک دا تبر استعمالوی؟ ولې يو آرا دا دعویٰ کولے شی چې دا د هغه سړی نه تکړه
ده چې څوک دا استعمالوی؟ يوه چُوکه سړے نهٔ راپورته کوی بلکې سړے چُوکه راپورته
کوی." ۱۶ نو په دې وجه به مالِک خُدائ ربُ الافواج يو داسې مرض راولېږی چې د
اسور څربه جنګيالی به اوچ کلک شی. او د هغوئ لوئی به د اور په لمبو وسوزوی. ۱۷
هغه مقدس ذات کوم چې د بنی اِسرائيل رڼا ده، هغه به د اور په شان شی. هغه به د يوې
لمبې په شان شی، صرف په يوه ورځ کښې به د اسور د ازغو او غنو بوټی وسوزی. ۱۸
لوئ لوئ ځنګلونه او دا زرخيز پټی به بيخی داسې تباه شی لکه چې يو سخت مرض يو
کس تباه کوی. ۱۹ صرف د شمېر يو څو ونې به پاتې وی چې يو ماشوم يې هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شمېرلے شی.

## د بنی اِسرائيلو د ډېرو لږو کسانو توبه ويستل

۲۰ په هغه وخت به ژوندی پاتې شوی اِسرائيليان يعنې د يعقوب د خاندان بچ شوی
خلق نور په هغه قوم باندې اعتبار نۀ کوی چا چې دوئ وهلی وی. هغوئ به د زړۀ د
اخلاصه په مالِک خُدائ باندې ايمان ولری، کوم چې د بنی اِسرائيلو مقدس ذات دے.
۲۱ باقی پاتې به راوګرځی، د يعقوب باقی پاتې حِصه به خُدائ تعالىٰ ته راوګرځی. ۲۲
اګر چې اِسرائيل به د سمندر د شګو په شان بې‌شمېره وی، خو صرف يوه وړه پاتې
شوې حِصه به راوګرځی. مالِک خُدائ د خپلو خلقو د تباه کولو صحيح فيصله کړې ده.
۲۳ نو بې‌شکه چې مالِک خُدائ پاک، ربُ الافواج به په ټول مُلک باندې تباهی راولی،
لکه څنګه چې هغۀ فرمائيلی دی.

## د مالِک خُدائ اسوريانو له سزا ورکول

۲۴ مالِک خُدائ پاک ربُ الافواج فرمائی، "اے په صيون کښې زما خلقو، د اسوريانو
نه مۀ يرېږئ، اګر چې هغوئ په تاسو پسې چُوکه او ډنډه راخلی لکه څنګه به چې
مخکښې مِصريانو درسره کول. ۲۵ ډېر لږ وخت پس به زۀ تاسو له سزا درکول بند
کړم او بيا به زۀ هغوئ ته غصه شم او تباه به يې کړم. ۲۶ زۀ مالِک خُدائ ربُ الافواج
به زما په خپله کوړه هغوئ داسې ووهم لکه څنګه مې چې د ميديان خلق د عوريب ګټ
سره وهلی وُو. زۀ به اسوريانو له هغه شان سزا ورکړم لکه څنګه مې چې د مِصريانو
لښکر په سمندر کښې ډوب کړے وو. ۲۷ کله چې هغه وخت راشی، نو زۀ به تاسو د
اسوريانو د زور نه خلاص کړم او د هغوئ جغ به ستاسو د غاړو نه لرې کړم."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حمله کوونکو حمله

۲۸ د دشمن لښکر د عيات ښار قبضه کړے دے. هغوئ د مجرون نه تېر شوی دی. او
هغوئ خپل سامانونه په مِکماس کښې پرېښی دی. ۲۹ هغوئ د درې نه اوړېدلی دی او
شپه به په جبعه کښې تېروی. د راما په ښار کښې خلق يرېدلی دی او د ساؤل بادشاه د
ښار جبعې خلق تښتېدلی دی. ۳۰ د جليم خلقو چغې ووهئ. د ليس خلقو غوږ ونيسئ.
او د عنتوت خلقو جواب راکړئ. ۳۱ د مدمينه خلق وتښتېدل او جيبيم خلق د پناه
دپاره منډې وهی. ۳۲ دشمن نن د نوب په ښار کښې دے او هغه د يروشلم په ښار کښې
د صيون لور غر ته د دهمکۍ دپاره خپل لاس خوځوی. ۳۳ خو ګورئ، مالِک خُدائ
ربُ الافواج به هغوئ داسې لاندې راوغورزوی لکه چې د ونو نه څانګې څوک ماتوی. د
هغوئ لوئ لوئ او مغروره خلق به راغورزولی وی. ۳۴ هغه به تبر سره د ځنګل ونې
راوغورزوی، داسې لکه څنګه چې د لبنان غټې ونې راغورزولے شوې وی.

## د امن بادشاهی

۱۱ ۱ د يَسی مونډ به راوټوکيږی، او د هغې د جرړو نه به څانګه راوخېژی. ۲ د
مالِک خُدائ روح به د هغهٔ سره وی، او دا به د پوهې او حِکمت روح وی، د مشورې او
د قوت روح، د عِلم او د مالِک خُدائ نه د يرې روح، ۳ او هغهٔ ته به د مالِک خُدائ په
تابعدارۍ کښې خوشحالی ملاويږی. هغه به د خلقو په ظاهر صورت او د اورېدو په
خبرو باندې عدالت نهٔ کوی، ۴ هغه به اِنصاف سره د غريبانانو عدالت کوی، او هغه
به اِنصاف سره د بې‌اسرى خلقو فيصله کوی. د هغهٔ د کلام زور سره به زمکه رپيږی او
د هغهٔ د خولې يو پوکے به بدعمله تباه کوی. ۵ صداقت به د هغهٔ ملاتړ وی او
وفاداری به د هغهٔ کمربند وی. ۶ شرمخان او ګډې به په يو ځائ په سکون سره
اوسيږی، او پړانګ به د چيلو د بچو سره ملاست وی. د غواګانو او زمرو بچی به په يو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځائ خوراک کوی، او يو وړوکے ماشوم به دا بوتلے راوستے شی. ۷ غواګانې او
مېلوګان به په يو ځائ خوراک کوی، او د هغوئ بچی به په يو ځائ په امن سره پراتهٔ
وی. او زمرے به د غوَيی په شان بوس خوری. ۸ د پيو ماشوم به د مار سوړې سره
لوبې کوی او لږ لوئ ماشوم به د زهرژن مار سوړه کښې لاس اچوی. ۹ د خُدائ پاک
په مقدس غر به هيڅ تباهی نهٔ کيږی او نهٔ به چا ته نقصان رسی، ځکه چې هغه مُلک به د
مالِک خُدائ د عِلم نه داسې ډک وی لکه سمندرونه چې د اوبو نه ډک دی.

## د جلاوطن شوو خلقو راواپس کېدل

۱۰ په هغه وخت به د يَسی د جرړې نه راټوکېدلې ښاخ د قومونو دپاره د يوې جنډې
نښه وی. قومونه به د هغهٔ نه رهنمائی غواړی، او د هغهٔ د استوګنې ځائ به جلالی وی.
۱۱ کله چې هغه ورځ راشی، نو مالِک خُدائ به يو ځل بيا د خپل طاقت نه کار واخلی
او خپل هغه خلق به خپلو کورونو ته راولی کوم چې په اسور، مِصر، فتروس، ايتهوپيا،
عيلام، بابل او د حمات په مُلکونو کښې او د سمندر په غاړو کښې پاتې شوی وُو. ۱۲
مالِک خُدائ به د نښې دپاره يوه جنډا راواخلی چې قومونو ته وښائی چې هغه يو ځل بيا
د اِسرائيل او د يهوداه خوارهٔ وارهٔ خلق راغونډوی او د دُنيا د څلورو واړو سرونو نه يې
واپس راولی. ۱۳ د اِسرائيل حسد به ختم شی او د يهوداه د دشمنانو نام و نشان به ختم
شی. اِسرائيل به د يهوداه نه نور نفرت نهٔ کوی او نهٔ به يهوداه د اِسرائيل سره دشمنی
کوی. ۱۴ هغوئ به په يو ځائ د نمرپرېواتهٔ طرف په فلستيانو باندې حمله وکړی او چې
د نمرخاتهٔ طرف ته کوم خلق اوسيږی نو هغوئ به لوټ کړی. هغوئ به د ادوم او موآب
په خلقو باندې فتح حاصله کړی او د عمون خلق به د هغوئ تابعدار شی. ۱۵ مالِک
خُدائ به بحرِقُلزم اوچ کړی او هغه به خپل لاس د فرات سيند طرف ته اوچت کړی او
يوه ګرمه هوا به راولېږی او د دې نه به اووهٔ وارهٔ نِهرونه جوړ کړی، چې هغوئ په اوچه
زمکه په آسانئ تېر شی. ۱۶ هلته چې د هغهٔ کوم خپل خلق يعنې بنی اِسرائيليان ژوندی
پاتې وی نو د هغوئ دپاره به يو لوئ سړک وی چې د اسور نه به ووځی، هغسې لکه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځنګه چې د هغوئ پلار نیکۀ دپاره یوه لار جوړه وه کله چې هغوئ د مِصر نه روان شول.

## د شکرانې حمدوثناء

۱۲ (۱) په هغه ورځ به تاسو وايئ، ”اے مالِکه خُدايه، زۀ ستا ثناء صِفت کوم. تۀ ما
ته غصه وې، خو اوس ستا غصه سړه شوې ده او تۀ ما له تسلی راکوې. (۲) ګورئ،
خُدائ پاک زما خلاصونکے دے، زۀ به په هغۀ توکل کوم او نۀ به یرېږم. ځکه چې
مالِک خُدائ ما له طاقت راکوی او زما حفاظت کوی، هغه زما خلاصونکے دے.“ (۳)
په خوشحالئ سره به تاسو د خلاصون د چشمې نه اوبۀ راوباسئ. (۴) په هغه ورځ به
تاسو وايئ، ”د مالِک خُدائ شُکر ادا کړئ. هغۀ ته د مدد دپاره آواز وکړئ. هغۀ چې څۀ
کړی دی نو ټولو قومونو ته ووايئ. هغوئ ته ووايئ چې د هغۀ نوم څومره لوئ دے. (۵)
مالِک خُدائ چې کوم لوئ لوئ کارونه کړی دی نو د هغې په وجه د هغۀ حمدوثناء
کوئ. او ټولې دُنيا ته دې د دې خبر ورسيږی. (۶) اے د صيون خلقو په اوچت آواز د
خوشحالئ نعرې ووهئ. د بنی اِسرائيلو مقدس ذات ډېر لوئ دے، او هغه د خپلو خلقو
په مينځ کښې اوسيږی.“

## د بابل خِلاف پېشګوئي

۱۳ (۱) دا د بابل په حقله یو پېغام دے چې د آموص زوئ يشعياه ته څرګند شو. (۲)
په اوچت غر د جنګ جنډا اوچته کړه. هغوئ ته چغه ووهه او لاسونو سره اِشاره ورکړه
چې راشی او د هغه مغروره ښار په دروازو کښې ورداخل شی. (۳) ما مالِک خُدائ دا
فوجيان راغوښتی دی، آو، ما دا تکړه جنګياليان راغوښتی دی چې زما غصه څرګنده
کړی، او چې زما لوئی وشی نو هغوئ به خوشحالی وکړی. (۴) په غرونو باندې شور ته
غوږ ونيسئ، د خلقو لوئې ګڼې آوازونو ته غوږ ونيسئ، د قومونو او د بادشاهو د خلقو د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راغونډېدو آواز ته غوږ ونيسئ. مالِک خُدائ ربُ الافواج د جنګ دپاره لښکر تياروى.
۵ هغوئ د لرې لرې مُلکونو او د دُنيا د سرونو نه راځى. دوئ د مالِک خُدائ وسله ده
چې د هغهٔ غصه څرګنده کړى او هغه ټول مُلک برباد کړى. ۶ ژاړئ او فريادونه
کوئ. د مالِک خُدائ د قيامت ورځ رانزدې ده، هغه ورځ رانزدې ده چې په هغه ورځ به
قادر خُدائ تباهى راولى. ۷ د هر يو کس لاسونه به کار پرېږدى او ټول خلق به
بې‌حوصلې شى. ۸ هغوئ ټول به ويرېږى په دردونو کښې به راګېر شى، داسې دردونه
به وى لکه چې د يوې ښځې ماشوم پېدا کېږى. هغوئ به په يره يره کښې يو بل ته ګورى
او د يرې په وجه به د هغوئ مخونه زېړ شى. ۹ ګورئ، د مالِک خُدائ ورځ راروانه
ده، د هغهٔ د سخت قهر او غصې يوه سخته ورځ راروانه ده. د زمکې نه به بيابان جوړ
شى او هر يو ګناهګار به تباه شى. ۱۰ ټول ستورى او د ستورو قبيلې به ځلېدل بس
کړى، نمر چې راخېژى نو دا به تور وى او د سپوږمۍ رڼا به ختمه شى. ۱۱ مالِک
خُدائ وفرمائيل، ”د دُنيا د بدۍ له وجې به زهٔ دې له سزا ورکړم، او بدعمله خلقو له به د
هغوئ د ګناهونو سزا ورکړم. زهٔ به د مغرورانو غرور ختم کړم، او د ظالمانو لوئى به
خاورې کړم. ۱۲ زهٔ به انسانان د خالص سرو زرو نه زيات ناياب کړم، او خلق به د
اوفير د سرو زرو نه هم لږ وى. ۱۳ په هغه ورځ چې زهٔ مالِک خُدائ ربُ الافواج خپله
غصه څرګندوم نو زهٔ به آسمانونه ولړزوم او زمکه به د خپل ځائ نه وخوځى. ۱۴ په
بابل کښې به خلق داسې منډې وهى لکه چې هوسۍ د ښکاريانو نه منډې وهى يا ګډې د
شپون نه بغېر روانې وى، او هغوئ به خپل وطن او خپل قوم ته واپس د تلو کوشش
کوى. ۱۵ هر څوک چې ګير شى په تُوره به ووهلے شى، او هر څوک چې ونيولے شى
نو په تُوره باندې به ووژلے شى. ۱۶ د هغوئ د سترګو په وړاندې به د هغوئ د بچو نه
په وهلو وهلو باندې ساه وويستلے شى او د هغوئ کورونه به لوټ کړے شى او د هغوئ
د ښځو سره به په زور زنا وشى.“ ۱۷ مالِک خُدائ وفرمائيل، ”زهٔ ميديانيان راپاروومه
چې په بابل باندې حمله وکړى، ځکه چې هغوئ نهٔ د سپينو زرو پرواه ساتى او نهٔ هغوئ
دپاره سرهٔ زر څهٔ معنىٰ لرى. ۱۸ هغوئ به د خپلو غشو او ليندو سره زلمى ووژنى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ به په تې رَودُونکو ماشومانو او په نورو ماشومانو هيڅ رحم او ترس نۀ کوی. ١٩
د ټولو نه ښائسته بادشاهی د بابل ده، د هغې ځائ خلق په بابل باندې فخر کوی. خو
مالِک خُدائ به بابل هغه شان تباه کړی لکه څنګه چې يې سدوم او عموره تباه کړی وُو.
٢٠ هلته به بيا هيڅ څوک هم نۀ اوسيږی. دا به بيا کله هم آباد نۀ شی. نۀ به عرب هلته
خيمې لګوی او نۀ به شپانۀ خپلې رَمې ودروی. ٢١ دا به يو داسې ځائ وی چرته چې
ځنګلی ځناور اوسيږی او چرته چې ګونګا خپلې جالې جوړوی. هلته به شترمرغ
اوسيږی او ځنګلی چيلئ به په هغه کنډرو کښې ټوپونه وهی. ٢٢ د دې په مينارو او
محلونو کښې به د ځنګلی سپو او د ګيدړانو آوازونه وی. د بابل وخت رارسېدلے دے.
او د دې وخت تقريباً د ختمېدو والا دے.“

## د جلاوطنئ نه راواپس کېدل

۱۴ ١ خو مالِک خُدائ به يو ځل بيا د يعقوب په اولاد باندې رحم وکړی، او
اِسرائيل به بيا خپل غوره شوے قوم وګڼی. هغه به هغوئ واپس راولی چې په خپل مُلک
کښې بيا آباد شی او د پردی مُلک خلق به راځی او د هغوئ سره به په اتفاق اوسيږی.
٢ ډېر قومونه به د بنی اِسرائيلو مدد وکړی چې هغوئ خپل هغه مُلک ته واپس راشی
کوم چې مالِک خُدائ هغوئ له ورکړے دے. او هلته به هغه قومونه د وينځو او نوکرانو
په توګه د بنی اِسرائيلو خِدمت کوی. کومو خلقو چې په يو وخت کښې بنی اِسرائيليان
نيولی وُو نو اوس به بنی اِسرائيليان هغه خلق ونيسی او د بنی اِسرائيلو خلق به په هغه
خلقو حکومت کوی چا چې په يو وخت کښې په هغوئ ظلم زياتے کولو.

## د بابل د بادشاه زوال

٣ په هغه ورځ به مالِک خُدائ تاسو له د تکليفونو او پرېشانو نه آرام درکړی او د هغه
سخت کار نه به مو خلاص کړی چې د ستاسو نه په زور اخستے شو. ٤ نو تاسو به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د بابل بادشاه پورې ټوقې کوئ او وایئ به چې، "هغه ظالم بادشاه غورزېدلے دے. او د
هغهٔ غصه ختمه شوې ده. ۵ مالِک خُدائ د بدعملو طاقت ختم کړے دے او د
حکمرانانو اختیار یې مات کړے دے ۶ چا چې به په غصه کښې په خلقو باندې ظلم
زیاتے کولو او چې هغوئ کوم قومونه فتح کړی وُو نو د هغوئ خِلاف یې هیڅکله ظلم نهٔ
بس کولو. ۷ نو په آخر کښې به ټوله دُنیا د امن او سکون نه خوند اخلی او هر طرف
ته به د خوشحالئ سندرې وی. ۸ د سبر ونې او د لبنان د دِیار ونې په هغه بادشاه
باندې خوشحاله دی چې د چا بادشاهی ختمه شوې ده، ځکه چې داسې څوک نشته چې
دا ونې ووهی. ۹ د مړو دُنیا بادشاه ته د پخیر راغلې دپاره خپل ځان تیاروی. کوم
کسان چې په دُنیا کښې طاقتور وُو نو د هغوئ روحونه به بادشاه ته ودرېږی. د
بادشاهانو روحونه به د هغوئ د تختُونو نه ستا لیدو ته ودرېږی. ۱۰ هغوئ ټول به هغهٔ ته
آواز وکړی چې تهٔ هم زمونږ په شان کمزورے یې. تهٔ هم زمونږ په شان یې. ۱۱ ستا
شان او شوکت تا سره ښخ شوے دے، او ستا د بینجو ساز خاموش شوے دے. تهٔ د
وړو چینجو په بستره ملاست یې او د چینجو په کمبله پټ یې. ۱۲ اے ځلېدونکی
ستوریه، اے د سحر زویه. اوس د آسمان نه راپرېوتے یې. په تېره زمانه کښې تا قومونه
فتح کول، خو اوس تهٔ په خاوره کښې غورزولے شوے یې. ۱۳ تا په زړهٔ کښې وئیل
چې بره آسمان ته به وخېژم او په اوچتو ستورو به خپل تخت ولګوم، په شمال کښې به
په هغه غر د یو بادشاه په شان کښېنم چرته چې معبودان راغونډېږی. ۱۴ تا ووئیل چې
پاس ورېځو ته به وخېژم او د خُدائ تعالیٰ په شان به شم. ۱۵ خو تهٔ لاندې د مړو د دُنیا
هغه د ټولو نه ژورې کندې ته ویشتلے شوے یې. ۱۶ څوک هم چې تا ووینی نو هغوئ
به غور سره تا ته ګوری او سوچ به کوی چې، ولې دا هغه سړے دے چا چې زمکه
خوځوله او بادشاهئ به یې لړزولې؟ ۱۷ ولې دا هم هغه سړے دے چا چې ښارونه تباه
کړل او دُنیا یې په بیابان بدله کړه؟ ولې دا هغه سړے دے چې هغهٔ هیڅکله هم خپل
قیدیان نهٔ آزادول چې خپلو کورونو ته لاړ شی؟ ۱۸ د دُنیا ټول بادشاهان په خپلو
ښائسته قبرونو کښې پراتهٔ دی، ۱۹ ستا خو قبر هم نشته او لاش دې لکه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بېکاره څانګې په شان بهر غورزولې شوې دې. ستا لاش د فوجيانو په هغه لاشونو
کښې پټ دې کوم چې په جنګ کښې وژلې شوی دی. او تهٔ د هغوئ سره د کاڼو يوې
کندې ته غورزولې شوې يې او د پښو لاندې کړې شوې يې. ۲۰ ستا جنازه به د نورو
بادشاهانو په شان عزت سره نهٔ کيږی، ځکه چې تا خپل مُلک تباه کړې دې او خپل
خلق دې وژلی دی. د بدعمله کس اولاد به هيڅکله هم د عزت سره نهٔ يادېږی. ۲۱ د دې
سړی زامن ووژنئ، پرېږدئ چې د هغوئ د پلار نيکهٔ د ګناه په وجه مړهٔ شی. داسې نهٔ
وی چې هغوئ بيا په دُنيا باندې فتح حاصله کړی او دُنيا د هغوئ د ښارونو نه ډکه شی.“

## د خُدائ پاک د بابل تباه کول

۲۲ مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی، ”زهٔ پخپله د بابل خلاف راوچت شوې يم. زهٔ به د
دوئ اولاد تباه او برباد کړم. ما، مالِک خُدائ دا وئيلی دی. ۲۳ بابل به زهٔ په نمژنه
زمکه بدل کړم او هلته به ګونګا مارغان اوسيږی. زهٔ به په بابل باندې داسې جارُو ووهم
چې هغه به د ځان سره هر څهٔ جارُو کړی. زهٔ، مالِک خُدائ، ربُ الافواج دا اعلان
کوم.“

## د خُدائ پاک د اسور تباه کول

۲۴ مالِک خُدائ ربُ الافواج دا قسم کړې دې، ”ما چې کومه منصوبه جوړه کړې ده
نو هغه به پوره شی. ما چې د څهٔ اراده کړې ده نو هغه به کيږی. ۲۵ زهٔ به په خپل مُلک
اِسرائيل کښې اسوريان تباه کړم او زهٔ به هغوئ په خپلو غرونو کښې د پښو لاندې کړم.
د هغوئ جغ به زما د خلقو نه اخوا شی او بوج به د هغوئ د اوږو نه اوچت شی. ۲۶ د
ټولې دُنيا دپاره دا زما منصوبه ده او ما خپل لاس د ټولو قومونو خلاف اوچت کړې
دې.“ ۲۷ مالِک خُدائ ربُ الافواج دا فيصله کړې ده، نو څوک دا رد کولې شی؟ هغهٔ
خپل لاس اوچت کړې دې، څوک دا رايسارولې شی؟

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خُدائ پاک د فلستيه تباه کول

(۲۸) دا پيغام په هغه کال باندې راغلے وو په کوم کال چې احاز بادشاه مړ شو. (۲۹)
اے فلستيانو، په دې باندې خوشحالېږئ مۀ چې په کومه چوکه به تاسو وهل خوړل هغه
ماته شوې ده، ځکه چې د دغه مار نه به زيات زهرژن مار پيدا شى، يوه داسې اژدها چې
تاسو به تباه کړى. (۳۰) غريبانان به خوراک وکړے شى او ضرورتمند به په محفوظ
ځائ کښې آرام وکړے شى. خو ستاسو بېخ به د سخت قحط سره ختم کړم او چې کوم
ژوندى پاتې شى هغوئ به تباه کړم. (۳۱) اے د ښار دروازو ژاړئ. اے ښاره ماتم کوه.
اے فلستيانو د يرې نه رپېږئ. د شمال طرف نه د لوړى په شان وريځ راروانه ده، دا د
داسې فوجيانو لښکر دے چې په صفونو کښې يې يو بُزدل هم نشته. (۳۲) د فلستيه نه چې
کوم پيغام وړُونکى مونږ له راځى نو هغوئ له څۀ جواب ورکړُو؟ مونږ به ورته وايو چې
مالِک خُدائ صيون د دې دپاره محفوظ کړے دے، چې د هغۀ په خلقو کښې مظلومان
هلته پناه واخلى.

## د جلاوطنۍ نه راواپس کېدل

۱۵ (۱) دا پيغام د موآب په حقله دے. په يوه شپه د موآب ښار عار تباه شوے دے.
په يوه شپه د موآب ښار قير تباه شوے دے. (۲) د ديبون خلق غر ته ختلى دى چې په
خپله عبادتخانه کښې ژړا وکړى. د موآب خلق به د نبو او ميدبا په ښارونو د خفګان نه
ژړا کوى، هغوئ د خفګان نه خپل سرونه او ږيرې کلې کړې دى. (۳) په لارو کوڅو
کښې خلقو د ټاټ جامې اغوستې دى، د ښار په چوکونو کښې او د کورونو په چتونو
باندې خلق ژړا او ماتم کوى. (۴) د حسبون او اِلىعالى خلق په ژړا دى او د هغوئ ژړا
تر يهض پورې اورېدے شى. د موآب فوجيان په يره کښې نعرې وهى، او هغوئ
بې‌حوصلې شوى دى. (۵) زما زړۀ د موآب دپاره ژاړى. خلق د ضُغر ښار او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عجلت‌شلیشیاه ښار ته تښتېدلی دی. خلق په ژړا کښې د لوحیت په طرف خېژی، هغوئ
د حورونایم په لار په چغو چغو ژاړی. ۶ د نِمریم اوبۀ اوچې شوې دی او د دې وابښهٔ
اوچ شوی دی ټول شینکے ختم شوے دے او یو شین بوټے هم پاتې نۀ دے. ۷ نو په
دې وجه خلق د خپل ټول مال دولت او سامان سره خاروَلو د وادۍ نه تېرېږی. ۸ د
موآب د حد ټولو پولو سره د ژړا آوازونه راتمبیږی. دا ژړا د اجلائم او بیر ایلیم په
ښارونو کښې اورېدلے شی. ۹ د دیبون ښار سره سیند په وینه باندې سور دے او
خُدائ پاک به د هغه ځائ په خلقو باندې د هغې نه هم زیات مصیبت راولی. ازمری به په
هغوئ حمله وکړی چې څوک د موآب نۀ بچ وتې وی او په هغوئ هم څوک چې لا په
مُلک کښې وی.

## موآبیان د نااُمیدۍ په حالت کښې

16 ۱ د سلع نه د مُلک حکمران ته په کلنګ کښې ګډُوری ورولېږه. دا د صحرا په
لاره د صیون لور غرۀ ته ورولېږه. ۲ د موآب ښځې د ارنون سیند په غاړه باندې د
هغه مارغانو په شان دی چې د جالې نه شړلے شوی وی. ۳ هغوئ ژاړی او وائی،
”زمونږ مدد وکړئ، زمونږ دشمنانو نه زمونږ حِفاظت وکړئ. د هغوئ د حملې نه مونږ
بچ کړئ. اوس چې مونږ راتښتېدلی یُو نو مونږ سره دوکه مۀ کوئ. ۴ زمونږ مهاجر
پرېږدئ چې ستاسو په مُلک کښې ایسار شی. څوک چې هغوئ تباه کول غواړی هغوئ
نه ورله پناه ورکړئ.“ ظلم زیاتے او تباهی به ختم شی او څوک چې د نقصان رسولو
کوشش کوی نو هغوئ به مخ د زمکې نه ورک شی. ۵ بیا به د داؤد د اولاد یو کس
بادشاه شی او هغه به په وفادارۍ او مینې سره په خلقو باندې حکومت کوی. هغه به په
صحیح کار کولو کښې تېزی کوی او ګوری به چې د اِنصاف نه کار اخستے شوے
دے. ۶ مونږ د موآب د غرور په حقله اورېدلی دی. هغوئ مغروره، کبرژن، خود
غرضه او سپین سترګې دی. خو د هغوئ لاپې عبث دی. ۷ د موآب خلق په خپل حال

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې ژاړی، هغوئ په سلګو سلګو د قيرحراست ښار کشمش يادوی، د هغوئ حالت
بدترين دے. ۸ د حسبون پټی او د سبماه د انګورو باغونه تباه شوی دی، دا د انګورو
هغه باغونه ؤو چې د شرابو سره به يې د قومونو حکمرانان نشه کېدل. په يو وخت کښې
د يعزير ښار پورې او په صحرا کښې نمرخاتهٔ طرف ته او نمرپرېواتهٔ طرف ته د مړ
درياب بلې غاړې پورې د دې څانګې رسېدلې دی. ۹ خو اوس زهٔ د سبماه د انګورو
باغونو دپاره هم هغه شان ژاړم لکه څنګه چې د يعزير دپاره ژاړم. د حسبون او اِلیعالی
دپاره زما اوښکې توئيږی، ځکه چې د فصل لَو نهٔ کيږی چې خلق ورسره خوشحاله شی.
۱۰ د باغونو نه خندا او خوشحالی غيبه شوې ده. د انګورو په باغونو کښې يو کس هم
آوازونه نهٔ کوی او نهٔ سندرې وائی. هيڅ څوک هم انګور نهٔ چخنی کوی چې رس ترېنه
وباسی، ولې چې ما د خندا نعرې ختمې کړې دی. ۱۱ زړهٔ مې لکه د رباب په ساز
کښې د موآب د غمه چوی، او زما زړهٔ د قيرحراست دپاره غمژن دے. ۱۲ د موآب
خلق هسې خپل ځانونه ستړی کوی او هغوئ په غرونو باندې زيارتونو او خپلو عبادتخانو
ته د سوال دپاره ځی، دا به دوئ له هيڅ فائده ورنهٔ کړی. ۱۳ دا هغه پيغام وو چې مالِک
خُدائ د موآب په حقله مخکښې ورکړے وو. ۱۴ او اوس مالِک خُدائ فرمائی، ”پوره
په درې کاله کښې به د موآب لوئ مال دولت ختم شی. او د دې د ډېرو خلقو نه به
صرف يو څو ژوندی پاتې شی، او هغوئ به ډېر کمزوری وی.“

## د خُدائ پاک شام او اِسرائيل له سزا ورکول

۱۷ ۱ دا د دمشق په حقله پيغام دے، ”د دمشق ښار به تباه شی، او دا به تش د
کنډرو يو ډېرے پاتې شی. ۲ د عروعير ښارونه به د هميشه دپاره په کنډرو بدل شی. دا
به د ګډو او څاروو دپاره د څرن زمکه وګرځی، چې هيڅ څوک به يې ترې نه نهٔ شړی.
۳ د اِسرائيل پاخهٔ ښارونه به تباه شی او د دمشق بادشاهی به ختمه شی. کوم شاميان
چې ژوندی پاتې وی نو هغوئ به د بنی اِسرائيلو په شان د شرم سره مخ شی. ما مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ، ربُ الافواج دا فرمائیلی دی. ۴ په هغه ورځ به د اِسرائیل دبدبه ختمه شی او د
دې مالداری به په غریبۍ بدله شی. ۵ اِسرائیل به د یو داسې پټی په شان وی چې غله
ترې نه رېبلے شوې او راغونډه کړے شوې وی، دا به داسې وی لکه چې د رفائیم په
وادۍ کښې یو پټے شاړ پروت وی او چې د دې نه هر څۀ وړلے شوی وی. ۶ خو
صرف یو څو کسان به پاتې شی او اِسرائیل به د زیتُونو د داسې ونې په شان وی چې د
هغې نه ټول زیتون راټول کړے شوی وی خو صرف دوه درې دانې یې په آخری سر
باندې او یا یو څو یې په لاندې څانګو کښې پاتې وی. ما مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو
خُدائ پاک دا فرمائیلی دی.“ ۷ په هغه وخت به خلق په خپل خالِق بهروسه کوی، او
هغوئ به د بنی اِسرائیلو په مقدس ذات منحصر وی. ۸ هغوئ چې په خپلو لاسونو
کومې قربانګاه جوړې کړې دی هغوئ به په دې باندې نور یقین نۀ ساتی، او د اشیرې
بُت په نښو او د خوشبودارو مصالحو سوزولو په قربانګاه باندې به یې اعتبار ختم شی.
۹ په هغه وخت به د هغوئ پاخۀ ښارونه شاړ او ویجاړ شی او د هغه ښارونو په شان
به په کنډرو بدل شی لکه څنګه چې حِویانو او اموریانو په هغه وخت کښې پرېښی وُو
چې هغوئ د بنی اِسرائیلو نه تښتېدل. ۱۰ افسوس، تاسو خپل د خلاصون خُدائ پاک
هېر کړے دے او هغه مضبوط ګټ درته نۀ دے یاد چې تاسو پرې پناه اخستے شئ.
خو تاسو د پردی مُلک د معبود د عبادت دپاره ښائسته باغونه کَرلی دی. ۱۱ خو چې
کله تاسو کَرلی وی نو کۀ هم په هغه سحر دا غوټۍ او ګلونه هم شی، نو هیڅ پیداوار به یې
نۀ وی. تشه بیماری او لاعلاجه درد به درته ملاوېږی.

## د دشمن د قومونو شکست خوړل

۱۲ بېشمېره قومونه د سمندر د شور په شان شور کوی، هغوئ داسې شور کوی لکه
چې لوئې لوئې چپې په خپلو کښې جنګېږی. ۱۳ اګر کۀ هغوئ د سمندر د تېزو چپو په
شان شور کوی، خو خُدائ پاک به هغوئ خاموش کړی او هغوئ به وتښتی. هغوئ به
داسې تښتی لکه څنګه چې هوا بوس زغلی، یا څنګه چې دوړې په طوفان کښې الوځی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ په ماښام کښې به اِسرائيل سخت ويرېږى، خو تر سحره به د هغوئ ټول دشمنان
مړۀ وى. دا به د هغوئ قسمت او اَنجام وى چې څوک زمونږ د لوټ کولو کوشش کوى.

## د خُدائ پاک ايتهوپيا له سزا ورکول

۱۸ ۱ په هغه مُلک افسوس په کوم کښې چې د وزر آواز اورېدلے شى، او چرته
چې د ايتهوپيا سيندونه بهيږى. ۲ د هغه مُلک نه د نيل درياب ته سفيران په داسې
کشتو کښې ځى چې د لوخو نه جوړې وى. اے تېزو پيغام وړونکو، ځئ. هغه لوړو لوړو
او د هوارې ځرمنې خلقو له پيغام يوسئ د چا نه چې ټوله دُنيا يرېږى، هغه مضبوط او
جنګيالى قوم له پيغام يوسئ، د چا مُلک چې په سيندونو باندې تقسيم دے. ۳ څوک
چې په زمکه اوسيږى نو هغوئ ټول دا واورئ. هغه نښې ته وګورئ چې د غرونو په
سرونو به ښکاره شى. او چې بيګل غږيږى نو غوږ ورته ونيسئ. ۴ مالِک خُدائ ما ته
وفرمائيل، ”زۀ به خپل د استوګنې ځائ نه په خاموشئ سره ګورمه. خو زما دا خاموشى
به داسې وى لکه د تکنې غرمې د شُغلې په شان يا د لَو په وخت د سحر د پرخې په
شان.“ ۵ د انګورو راټولولو نه مخکښې، کله چې دا ټول ګلونه وغورزوى او انګور په
پخېدو وى، نو مالِک خُدائ به حبشيان داسې په آسانئ سره تباه کړى لکه چې د بوټو
قينچيانې د انګورو د بوټى نه ښاخګې پرې کوى. ۶ د هغوئ د فوجيانو لاشونه به
مارغانو او ځنګلى ځناورو ته پراتۀ وى. په اوړى کښې به هغوئ د مارغانو خوراک وى
او په ژمى کښې به د ځناورو خوراک وى. ۷ يو وخت به هغه مضبوط او جنګيالى
قومونه چې اوچت او هوارې ځرمنې دى، د چا نه چې ټوله دُنيا يرېږى مالِک خُدائ ربُ
الافواج ته به د هغه مُلک نه نذرانې راوړى، کوم مُلک چې په سيندونو باندې تقسيم شوے
دے. هغوئ به د صيون ښار ته راشى، چرته چې مالِک خُدائ ربُ الافواج استوګنه
کوى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خُدائ پاک مِصريانو له سزا ورکول

١٩ ١ دا پيغام د مِصر په حقله دے. گورئ، مالِک خُدائ مِصر ته د تېزې وريځې
دپاسه راروان دے. د مِصريانو بُتان د هغۀ په وړاندې لړزيږى او د مِصر خلق خپله
حوصله بائيلى. ٢ مالِک خُدائ فرمائى، ”زۀ به په مِصر کښې خانه جنگى راولم نو
ورور به د ورور خِلاف شى او گاونډى به د گاونډى خِلاف شى. ښار به د ښار خِلاف
شى او بادشاهى به د بادشاهۍ خِلاف شى. ٣ مِصريان به حوصله بائيلى او زۀ به د
هغوئ منصوبې گډې وډې کړم. هغوئ به د بُتانو، د مړو د روحونو والا نه او فالگرو نه
مشورې اخلى. ٤ زۀ به مِصر يو ظالم مالِک ته حواله کړم، يو طاقتور بادشاه به په
هغوئ حکومت کوى. ما مالِک خُدائ، ربُ الافواج دا فرمائيلى دى.“ ٥ د نيل په
درياب کښې به اوبۀ کمې شى او درياب به مکمل اوچ شى. ٦ کله چې د درياب
نِهرونه په کمېدو شى او اوچيږى نو د دې نه به خراب بوئ ځى. لوخې او جاړې به اوچې
شى، ٧ او د نيل درياب په غاړه چې څومره بوټى دى هغه به اوچ شى. او د درياب
سره نزدې ټول کَرلے شوى پټى به اوچ شى او په هوا کښې به والوځى. ٨ ماهيگر به
فرياد کوى او ژاړى به، د کُنډو او د جالونو والا به غمژن وى. ٩ جولاگان او څوک
چې د لِتې جامې جوړوى به نااُميده وى. ١٠ د کپړې جوړوونکى به سخت مايُوسه وى،
او ټول کاريگر به پرېشانه وى. ١١ د ضُعن ښار مشران کم عقل دى. د مِصر د بادشاه
ښۀ هوښيار مشيران کم عقلې مشورې ورکوى. چې تاسو دا جرأت څنگه کولے شئ چې
فِرعون بادشاه ته ووايئ چې، ”مونږ عالمانو شاگردان او د پخوانو بادشاهانو اولاد وُو.“
١٢ اے د مِصر بادشاه، ستا هغه هوښيار مشيران چرته دى؟ هغوئ دې معلوم کړى او
تا ته دې ووائى چې مالِک خُدائ ربُ الافواج د مِصر دپاره څۀ منصوبې لرى. ١٣ د
ضُعن مشران کم عقل دى او د ميمِفس مشرانو دوکه خوړلې ده. دغه مشرانو مِصر
بې لارې کړے دے. ١٤ مالِک خُدائ هغوئ کم عقل کړى دى، نو د هغوئ ټولې مشورې
غلطې دى. هغوئ مِصر داسې گډ وډ کړے دے لکه چې يو شرابى په نشه کښې په خپلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اولټو کښې ښوئيږى. ۱۵ او مِصر به هيڅ هم نۀ شى کولے، کۀ مشر وى او کۀ کشر، کۀ
لوئ وى او کۀ وړوکے.

## د مِصريانو د مالِک خُدائ عبادت کول

۱۶ په هغه ورځ به مِصريان د ښځو په شان کمزورى وى. چې مالِک خُدائ ربُ الافواج
هغوئ له د سزا ورکولو دپاره لاس اوچت کړى نو هغوئ به د يرې نه ولړزيږى. ۱۷ او د
يهوداه مُلک په وجه به په مِصريانو باندې يره راشى، هر چا ته چې د يهوداه نوم
واخستلے شى نو هغه به ويريږى، دا د هغه منصوبې په وجه چې مالِک خُدائ ربُ
الافواج د هغوئ خِلاف تياره کړې ده. ۱۸ په هغه وخت کښې به د مِصر په پينځو
ښارونو کښې عبرانى ژبه وئيلے شى. د هغه ځائ خلق به د مالِک خُدائ ربُ الافواج په
نوم د وفادارۍ قسمونه کوى. په هغه ښارونو کښې به د يو ښار نوم ”د نمر ښار“ وى.
۱۹ په هغه وخت کښې به د مِصر د مُلک په مينځ کښې د مالِک خُدائ دپاره يوه
قربان‌گاه وى او د مِصر په سرحد باندې به د کاڼى يو يادګار وى چې هغۀ ته وقف شوے
وى. ۲۰ دا به په مِصر کښې د مالِک خُدائ ربُ الافواج د موجودګۍ نښې وى. کله چې
هلته د خلقو سره ظلم زياتے کيږى او د مدد دپاره مالِک خُدائ ته آواز وکړى، نو هغه
به د هغوئ د بچ کولو دپاره خلاصونکے ورليږى. ۲۱ مالِک خُدائ به د مِصر خلقو ته
خپل ځان ښرګند کړى او هغوئ به يې قبول کړى او د هغۀ عبادت به کوى او هغۀ ته به
قربانۍ او نذرانې پيش کوى. هغوئ به د هغۀ سره پاخۀ لوظونه وکړى او خپلې وعدې به
ورسره پوره کوى. ۲۲ مالِک خُدائ به مِصريانو له سزا ورکړى، خو هغه به يې بيا روغ
کړى. هغوئ به هغۀ ته راوګرځى او هغه به د هغوئ سوال قبول کړى او هغوئ به روغ
کړى. ۲۳ په هغه وخت کښې به د مِصر او اسور په مينځ کښې يوه لويه لار وى. او د
دواړو مُلکونو خلق به د يو بل مُلک ته ځى راځى او د مِصر او اسور قومونه به په يو
ځائ عبادت کوى. ۲۴ په هغه وخت کښې به بنى اِسرائيل د مِصر او اسور سره
ملګرے شى او دا درې واړه قومونه به د ټولې دُنيا دپاره د برکت سبب جوړ شى. ۲۵

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ ربُ الافواج به دې قومونو له برکت ورکړی او وويه فرمائی، ”اے
مِصريانو، زما خلقو، اے اسوريانو، تاسو ما پېدا کړی يئ، اے بنی اِسرائيلو، تاسو زما
غوره شوی خلق يئ نو تاسو له زۀ برکت درکوم.“

## د يو پيغمبر نښه ښرګندول

۲۰ ۱ په کوم کال چې د اسور د بادشاه د سرجون په حُکم د اسوريانو د لښکر
فوجی مشر په اشدود ښار باندې حمله وکړه او دا يې قبضه کړو، ۲ په هغه وخت
کښې مالِک خُدائ د آموص زوئ يشعياه ته فرمائيلی وُو چې هغه ځپلې او د ټاټ هغه
جامې وباسی کومې چې هغۀ اغوستې وې. نو هغۀ دا حُکم ومنلو او بربنډ او بغېر د ځپلو
نه روان شو. ۳ نو بيا مالِک خُدائ وفرمائيل، ”زما خِدمت کوونکے يشعياه درې کاله
بربنډ او بغېر د ځپلو نه ګرځېدلے دے. دا د هغې نښه ده چې په مِصر او ايتهوپيا باندې
به څۀ کيږی. ۴ د اسور بادشاه چې د دې دوو مُلکونو نه قېديان نيولی دی نو هغوئ به
بربنډ بوځی. زلمی او بوډاګان به د ځپلو نه بغېر او بربنډ روان وی، د هغوئ کوناټی به
ښکاری، دا به د مِصر دپاره د شرم خبره وی. ۵ چا چې په ايتهوپيا باندې يقين
ساتلے وی او په مِصر باندې يې لافې وهلې وی نو هغوئ به مايوسه شی او وېره
شرمېږی. ۶ کله چې هغه وخت راشی نو کوم خلق چې د فلستيه د سمندر په غاړه
اوسيږی نو هغوئ به ووائی، وګورئ، په هغه خلقو څۀ وشول چې په چا باندې مونږ دا
يقين کولو چې مونږ به د اسور د بادشاه نه بچ کړی. خو اوس زمونږ دپاره د خلاصی لار
هم نشته.“

## د بابل د زوال پيشګوئي

۲۱ ۱ دا پيغام د بابل په حقله دے، چې درياب سره په صحرا کښې دے. لکه څنګه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په صحرا کښې تاوېدونکے باد چلېږی دغه شان به افت د صحرا نه راشی، او
يرووونکے مُلک به دربانديِ حمله وکړی. ۲ ما د خرابو حالاتو په حقله يوه رويا يعنې د
وېښې خوب ليدلے دے، ما وکتل چې دوکه باز دوکې کوی او تباه کار تباهی کوی. اے
د عيلام لښکره، حمله وکړه. اے د مادی لښکره، ښار محاصره کړه. د بابل په وجه چې
کوم مصيبت راغلے دے نو خُدائ پاک به هغه ختم کړی. ۳ نو په دې وجه زۀ د يرې
او درد سره مخ شوے يم، او دا درد داسې دے لکه چې ښځه يې د ماشوم د پېدا کولو په
وخت لرى. زۀ چې څۀ اورم نو په ما بد لګی او چې څۀ ګورم نو يرېږم. ۴ زما زړۀ
درزيږی او ريږېږم. اول به ماښام په ما ډېر ښۀ لګېدو خو اوس د تيارې نه زۀ يرېږم. ۵
ګورم چې لوئ خوراک تيارېږی، د خلقو د کښېناستو دپاره قالينونه غوړېدلی دی. هغوئ
خوراک څښاک کوی، "پاڅئ، اے آفسرانو، خپل ډالونه تيار کړئ." ۶ بيا مالِک
خُدائ ما ته وفرمائيل، "لاړ شه او يو محافظ ودروه او هر څيز چې هغه ګوری نو د هغې
خبر به راوړی. ۷ چې څنګه هغه دؤو آسونو والا جنګی ګاډی وګوری يا په خرونو او
اوښانو باندې سوارۀ کسان ووينی، نو هغه دې ښۀ بېدار اوسی." ۸ بيا څوکيدار آواز
وکړو، "مالِکه خُدايه، زۀ په خپل ځائ باندې د څوکيدارۍ دپاره شپه او ورځ ولاړ يم. ۹
اوس وګورئ، د دؤو آسونو والا جنګی ګاډی راروانه ده چې يو سړے پکښې سور دے."
څوکيدار ووئيل، "بابل ختم شوے دے. د بابل ټول بُتان ټوټې ټوټې شوی دی او په زمکه
باندې خوارۀ وارۀ پراتۀ دی." ۱۰ اے زما خلقو، تاسو د غنمو په شان په درمند باندې
غوبل شوی يئ، خو اوس زۀ تاسو ته يو ښۀ زېرے اوروم چې ما د مالِک خُدائ رب
الافواج نه اورېدلے دے، چې هغه د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک دے.

## د ادوم په حقله پېغام

۱۱ دا پېغام د ادوم په حقله دے. د ادوم نه ما ته چا آواز وکړو، "څوکيداره، دا شپه به
کله تېرېږی؟ سحر ته څومره وخت پاتې دے؟" ۱۲ نو ما جواب ورکړو، "سحر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راتلونکے دے، خو شپه به بيا راځی. که ته بيا تپوس کول غواړې، نو بيا راشه او تپوس
وکړه.“

## د عربو په حقله پېغام

۱۳ دا پېغام د عربو په حقله دے. اے د ددان قافِلو، د عربو په شاړ مُلک کښې شپه
تېره کړئ. ۱۴ اے د تيما خلقو، کوم خلق چې تږی دی نو هغوئ له اوبۀ ورکوئ. او
مهاجرو له خوراک ورکوئ، ۱۵ ځکه چې هغوئ د تُورو نه تښتی، او د داسې خلقو نه
چې تُوره په لاس او تير کمان په غاړه د هغوئ سره سخت جنګېدلی وی. ۱۶ بيا مالِک
خُدائ ما ته وفرمائيل، ”پوره په يو کال کښې دننه دننه به د قيدار شان او شوکت ختم
شی. ۱۷ د قيدار صرف يو څو غشی او لينده چلوونکی سړی به پاتې شی. ما مالِک
خُدائ، د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک دا فرمائيلی دی.“

## د يروشلم په حقله پېغام

۲۲ ۱ دا پېغام د رويا د وادئ د يروشلم په حقله دے. څۀ شوی دی؟ دا ټول خلق
ولې د کورونو چتونو ته د خوشحالئ دپاره خېژی؟ ۲ ټول ښار بےقراره دے او د شور
شرابې نه ډک دے. ستاسو مړی په تُوره نۀ دی قتل کړے شوی او نۀ په ميدانِ جنګ
کښې مړۀ دی. ۳ ستاسو ټول مشران وتښتېدل او هغوئ لا يو غشے هم نۀ وو ويشتلے
چې ونيولے شول. باقی خلقو هم د تښتېدو کوشش وکړو خو هغوئ هم قيد کړے شول.
۴ ځکه ما ووئيل، ”ما پرېږده چې په چغو چغو وژاړم. ما له د تسلئ راکولو کوشش
مۀ کوئ. ما پرېږدئ چې د خپلو خلقو دپاره وژاړم، زۀ ګورم چې هغوئ تباه کيږی.“ ۵
په حقيقت کښې مالِک خُدائ، ربُ الافواج دا وخت راوستے دے. د رويا په وادئ کښې
ګډوډی ده، خلق هيبتناکې منډې وهی او د هغوئ د ژړا چغې غرونو ته رسی. ۶ د
عيلام د مُلک نه په آسونو سوارۀ فوجيان راغلل، چې کمان او غشی ورسره وُو. او د قير

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د مُلک فوجیانو خپل ډالونه راخستی وُو. ۷ د یهوداه بهترینې وادیانې د جنګی ګاډو نه
ډکې وې، په آسونو سوارۀ فوجیان د یروشلم د دروازو په مخکښې حملې دپاره ولاړ وُو.
۸ یهوداه چې د خپل تحفُظ دپاره څومره بندوبست کړے وو هغه ختم شوے دے. په
هغه ورځ تاسو څۀ وکړل؟ په هغه وخت کښې تاسو په هغه وسله باندې بهروسه وکړه
کومه چې د ځنګل کور نومې ځائ کښې ساتلے شوې وه. ۹-۱۰ په یروشلم کښې
تاسو د هغه ځایونو جائزه واخسته چرته چې دېوالونو مرمت غوښتو. تاسو په یروشلم
کښې د ټولو کورونو معائنه وکړه او څۀ کورونه مو د دې دپاره راغورزول چې د ښار د
دېوالونو د مرمت کولو دپاره ترې نه کاڼی واخلئ. د اوبو جمع کولو دپاره، ۱۱ تاسو د
ښار د دېوالونو په مینځ کښې د هغه اوبو رایسارولو دپاره تالاب جوړ کړو کومې اوبۀ
چې د زوړ ډنډ نه رابهېدلې. خو تاسو خُدائ پاک ته هیڅ توجو ونۀ کړه، چې هغۀ ډېر د
پخوا نه د دې هر څۀ منصوبه جوړه کړې وه او هغۀ داسې وکړل. ۱۲ بیا مالِک خُدائ
پاک ربُ الافواج تاسو ته آوازونه کول چې ژړا او ماتم کوئ، خپل سرونه کل کړئ او د
ټاټ جامې واغوندئ. ۱۳ خو د هغې په ځائ، تاسو خندا او خوشحالی کوله. تاسو
څاروی او ګډې حلالې کړې چې وې خورئ او تاسو مے څښل. تاسو وئیل، ”مونږ له
ښۀ خوراک څښاک په کار دے، ځکه چې سبا به مرۀ یُو.“ ۱۴ مالِک خُدائ ربُ
الافواج په خپله ما سره خبرې وکړې او راته یې وفرمائیل، ”ترڅو پورې چې تاسو ژوندی
یئ نو دا بد عمل به درته هیڅکله معاف نۀ شی. ما، مالِک خُدائ پاک، ربُ الافواج دا
فرمائیلی دی.“

## د شبنا دپاره خبردارے

۱۵ مالِک خُدائ پاک، ربُ الافواج ما ته وفرمائیل چې، ”شبناه له لاړ شه، چې هغه د
شاهی خاندان اِنتظام کوونکے دے او هغۀ ته ووایه، ۱۶ تۀ دلته څۀ کوې؟ تا له دلته د
خپل قبر جوړولو اجازت چا درکړے دے؟ تۀ څوک یې چې دلته به د ځان دپاره په
اوچت ځائ کښې مزار جوړ کړې او په ګټ کښې د ځان دپاره قبر جوړ کړې؟ ۱۷ اے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سړیه، مالِک خُدائ به دې راونیسی او لرې به دې وغورزوی. ۱۸ هغه به تا د پنډوسکی
په شان ګول مول کړی او یو بل لوئ مُلک ته به دې وغورزوی. او تهٔ به هلته مړ شې، او
ستا ښائسته جنګی ګاډی به هم هلته پرتې وی. ولې چې تهٔ د خپل نېک د خاندان دپاره د
بېعزتۍ سبب جوړ شوې يې. ۱۹ مالِک خُدائ فرمائی، زهٔ به تا د خپلې عُهدې نه لرې
کړم او د خپل اوچت مقام نه به دې راکوز کړم. ۲۰ په هغه ورځ به زهٔ خپل خِدمتګار د
خِلقیاه زوئ اِلیاقیم راوغواړم. ۲۱ زهٔ به هغهٔ ته ستا سرکاری چُوغه او کمربند
ورواچوم او تا چې کوم اختیارات لرل نو هغه ټول به هغهٔ له ورکړم. هغه به د یروشلم او
د یهوداه د خلقو د پلار په شان وی. ۲۲ زهٔ به هغهٔ له د داؤد د خاندان چابیانې ورکړم.
چې کومه دروازه هغه کولاو کړی هغه به څوک بندولے نهٔ شی او چې کومه دروازه هغه
بند کړی هغه به څوک کولاولے نهٔ شی. ۲۳ زهٔ به هغهٔ یوه لویه مرتبه ورکړم لکه څنګه
چې په دېوال کښې مېخ کلک لګېدلے وی، او دا به د هغهٔ د خاندان دپاره د عزت سبب
وګرځی. ۲۴ بیا به د هغهٔ د پلار د خاندان ټول وزن په هغهٔ باندې راځوړند شی. او د هغهٔ
ټول اولاد او خپلوان به د لوښو په شان د وړې پیالۍ نه واخله تر غټ مرتبان پورې به دې
مېخ پورې راځوړند وی. ۲۵ ربُ الافواج وفرمائیل، یو وخت به راشی چې دا کلک
لګېدلے مېخ به راوغورزېږی او چې په دې باندې څهٔ هم راځوړند وی نو هغه به مات
شی. مالِک خُدائ دا فرمائیلی دی.“

## د صور ښار په حقله پېشګوئي

۲۳ ۱ دا پیغام د صور په حقله دے. اے د ترسیس سمندری جهازونو وژاړئ. ځکه
چې په صور کښې قلعه او کورونه تباه دی، په قبرص کښې چې تاسو کومه خبره
اورېدلې وه هغه رښتیا ده. ۲ اے د سمندر د غاړې اوسېدونکو ماتم وکړئ. اے د
صیدا سوداګرو، تاسو ماتم وکړئ. ستاسو تاجران به د سمندر نه تېرېدل ۳ او په
ژورو اوبو کښې به یې سفر کولو او د مِصر غله به یې تاسو له رارسوله، ولې چې تاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به د نيل د درياب د غاړې نه ګټه اخستله او دغه شان تاسو د ټولو قومونو دپاره د
تجارت مرکز وې. ۴ خو اوس تهٔ شرمېدلے يې، اے د صيدا ښاريې. د سمندر قلعه
بند ښار صور وائی، "زهٔ بې‌بچو يمه، زما هيڅ زامن او لوڼه نشته." ۵ کله چې
مِصريانو ته د صور خبر مِلاو شی نو هغوئ به په غم اخته شی. ۶ اے د سمندر د
غاړې خلقو، تاسو د خفګان نه وژاړئ. او ترسيس ته د تښتېدو کوشش وکړئ. ۷ آيا
دا ستاسو خوشحاله ښار دے کوم چې ډېر د پخوا نه آباد دے؟ آيا دا هغه ښار دے چې
خپل اوسېدونکی يې لرې مُلکونو ته ولېږل چې کورونه جوړ کړی. ۸ په صور باندې دا
افت چا راوستے دے، هغه صور ښار چې به يې بادشاهتونه جوړول؟ د هغې سوداګر
شهزادګان ؤو او د هغې تاجران عزتمند ګڼلے شول. ۹ خو دا د مالِک خُدائ ربُ
الافواج منصوبه وه چې هغه به ټول د شان او شوکت والا خلق سپک کړی، او عزتمند
کسان به وشرموی. ۱۰ اے د ترسيس خلقو، د خپلې علاقې نه خوارهٔ شئ لکه څنګه
چې د نيل درياب د غاړو نه اوړی. نور تاسو پابند نهٔ يئ. ۱۱ مالِک خُدائ په سمندر
باندې لاس اوچت کړے دے او بادشاهئ يې لړزولې دی. هغهٔ حُکم کړے دے چې
ستاسو قلعې دې تباه شی. ۱۲ هغهٔ وفرمائيل، "اے د صيدا خلقو، ستاسو خوشحالی
ختمه شوې ده او ستاسو خلقو سره ظلم زياتے شوے دے. کهٔ هغوئ قبرص ته هم
وتښتی، نو آرام به ورته مِلاو نهٔ شی." ۱۳ د بابل مُلک ته وګورئ. د دې مُلک خلق برباد
شوی دی. اسوريانو د هغوئ مُلک د ځنګلی ځناور کور جوړ کړے دے. اسوريانو د
محاصرې برجونه جوړ کړل او د هغوئ قلعې يې بربادې کړې. او د ملبې ډېرے يې ترينه
جوړ کړے دے. ۱۴ اے د ترسيس سمندری جهازونو د خفګان نه وژاړئ. ولې چې
ستاسو قلعه تباه شوې ده. ۱۵ يو داسې وخت راروان دے چې صور به اويا کاله دپاره
هېر کړے شی، چې اويا کاله د يو بادشاه د عُمر برابر وی. کله چې هغه کالونه ختم شی،
نو صور به بحال شی لکه څنګه چې سندره د کنجرې په حقله وئيلے شی، ۱۶ "اے
غريبې هېرې شوې کنجرې. خپله بينجو واخله او په ښار کښې وګرځه، ساز غږوه او
خپلې سندرې بيا بيا وايه، نو چې داسې يو ځل بيا ياده کړے شې." ۱۷ کله چې هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اويا کاله تېر شي، نو مالِک خُدائ به صور له موقع ورکړی چې هغه بيا د کنجرۍ په
شان پخوانے کاروبار شروع شي او د صور لېن دېن به د زمکې په مخ د ټولو
بادشاهتونو سره وی. ۱۸ خو دا ښار چې په تجارت کښې کومه ګټه کوی نو هغه به
مالِک خُدائ ته وقف کيږی. دا پيسه به نۀ شي جمع کولے، خو چې څوک د مالِک
خُدائ په حضور کښې پاتې کيږی نو هغوئ به په دې پيسو باندې ښۀ کافي خوراک او
ښائسته لباس اخلی.

## د مالِک خُدائ دُنيا له سزا ورکول

۲۴ ۱ ګوره، مالِک خُدائ به زمکه ورانه ويجاړه کړی او هم داسې شاړه به يې
پرېږدی. هغه به د زمکې مخ کندې کپرې کړی او د دې خلق به خوارۀ وارۀ کړی. ۲
هيڅ څوک به بچ پاتې نۀ شي، کۀ هغه اِمامان وی يا عام خلق، مالِک وی کۀ نوکر، مالِکه
وی کۀ نوکره، خرڅوونکی وی يا اخستونکی، قرض ورکوونکی يا قرض اخستونکی، کۀ
قرضدار وی او کۀ مالدار وی. ۳ زمکه به په مکمل طور ورانه ويجاړه او لوټ کړے
شي، مالِک خُدائ دا هر څۀ فرمائيلی دی. ۴ زمکه اوچيږی او خُشکيږی، ټوله دُنيا به
اوچه شي او مړاوې به شي، د دې لوئ لوئ خلق به فنا شي. ۵ خلقو دُنيا پليته کړې
ده ځکه چې هغوئ د خُدائ پاک قانون مات کړے دے او هغه لوظ يې مات کړے دے
کوم يې چې د همېشه دپاره ورسره کړے وو. ۶ نو په دې وجه به زمکه لعنتی شي او
نقصان به ورته ورسی، او چې د دې خلقو څۀ بد عمل کړے دے نو د هغې بدله ورته
ملاويږی. نو په دې وجه د دُنيا خلق کم شول او ډېر لږ خلق ژوندی پاتې شول. ۷ د
انګورو بوټی اوچ شوی دی او مے کم شوی دی. هر څوک چې مخکښې خوشحاله وُو نو
هغه اوس خفه دی، ۸ او د هغوئ د رباب او د تمبل خوشحالۍ نه ډک سازونه او د
جشن آوازونه بند شوی دی. ۹ اوس خلق د ميو سندرې نۀ وائی، بلکې شراب په
هغوئ باندې تراخۀ لګی. ۱۰ شاړ ښار برباد شوے دے او د هر يو کور دروازه کلکه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بنده ده چې څوک ورننه نۀ وځی. ۱۱ په کوڅو کښې خلق چغې وهی چې مے ختم
شوی دی. هره خوشحالی ختمه شوې ده، خوشحالی د زمکې نه ورکه شوې ده. ۱۲
ښار په کنډر بدل شوے دے او د دې دروازې ذرې ذرې شوې دی. ۱۳ نو په ټوله دُنیا
کښې هر یو قوم سره به هم داسې کیږی. صرف لږ خلق به پاتې شی داسې لکه چې د
زیتُونو راټولولو نه پس هم لږ پاتې وی او یا د انګورو د راشوکولو نه پس هم په باغ کښې
یو څو دانې پاتې وی. ۱۴ خو چې کوم لږ کسان ژوندی پاتې وی نو هغوئ به د
خوشحالۍ سندرې وائی. څوک چې د نمرپرېواتۀ طرف ته وی هغوئ به د مالِک خُدائ
لوئی بیانوی، ۱۵ د نمرخاتۀ په طرف مُلکونو کښې د مالِک خُدائ ثناء صِفت کوئ. کوم
خلق چې د سمندر په غاړه اوسیږی نو هغوئ دې د مالِک خُدائ ثناء صِفت کوی، کوم
چې د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک دے. ۱۶ مونږ د دُنیا د آخری سرونو نه سندرې اورو،
هغه سندرې چې صادق خُدائ پاک ته لوئی ورکوی. خو زما زړۀ د غمه ډک دے. زما
دپاره ژاړئ ځکه چې زۀ دوړېږم. دوکې تر اوسه موجودی دی او هر طرف ته دوکه باز
دی. ۱۷ اے د دُنیا خلقو واورئ. یره، کندې او دامونه ستاسو دپاره تیار دی. ۱۸ هر
څوک چې د یرې نه تښتېدل غواړی نو هغه به په کنده کښې پرېوځی او هر څوک چې د
کندې نه ځان خلاصوی نو په دام کښې به ګېرېږی. د آسمان نه به ډېر درونډ باران
وریږی او د زمکې بنیادونه به ولړزیږی. ۱۹ زمکه به وچوی، خوځیږی به او زنګیږی به.
۲۰ زمکه به د شرابی نشه کوونکی په شان زنګیږی او داسې رپیږی لکه چې په طوفان
کښې چې چوپال خوځیږی. دا د ګناه په وجه درَنه شوې ده، دا به راوغورزیږی او بیا به
هیڅکله پا نۀ څی. ۲۱ په هغه وخت به مالِک خُدائ آسمانی طاقتونو له او د زمکې
بادشاهانو له به سزا ورکړی. ۲۲ هغوئ به ګرفتار کړے شی او په یوه قیدخانه کښې به
بند کړے شی او ښۀ موده پس به ورته سزا ورکړے شی. ۲۳ نو سپوږمۍ به توره شی
او د نمر رڼا به کمه شی، ځکه چې مالِک خُدائ ربُ الافواج به حکومت کوی. هغه به په
یروشلم کښې د صیون په غرۀ باندې د مشرانو په وړاندې شان او شوکت سره بادشاهی
کوی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ثناء صِفت يو حمد

۲۵ ۱ اے مالِکه خُدايه، تهٔ زما خُدائ پاک يې، زهٔ به ستا درناوے کوم او ستا د
نوم ثناء صِفت به کوم. تا عجيبه عجيبه کارونه کړی دی، تا چې ډېر پخوا کومې
منصوبې جوړې کړې وې، تا بې‌شکه هغه د وفادارئ سره پوره کړې دی. ۲ تا ښارونو
نه د ملبو ډيری جوړ کړی دی، او د هغوئ د پَخو دېوالونو قلعې دې په کنډراتو بدل کړی
دی. د پردی مُلک د خلقو د قلعې په شان محلونه داسې خاورې شوی دی چې بيا به
هيڅکله ورته ښار ونهٔ شی وئيلے او نهٔ به کله دوباره آباد کړے شی. ۳ نو په دې وجه
د تکړه قومونو خلق به ستا ثناء صِفت کوی، او د ظالمانو قومونو په ښارونو کښې به
ستا نه يره کيږی. ۴ تهٔ د غريبانانو حفاظت کوونکے يې، او د مصيبت په وخت کښې
د ضرورتمندو حِفاظت کوونکے يې. تا هغوئ له د طوفانونو نه پناه ورکړې ده، او د
سوزونکی ګرمئ نه دې سورے ورکړے دے. د ظالمانو پوکی لکه د ژمی د طوفانی
باران په شان وی، ۵ لکه د صحرا د ګرمئ په شان دی. تا د پردی مُلک خلق غلی
کړی دی. تا د ظالمانو خلقو آوازونه داسې خاموش کړی دی، لکه چې وريځې سخته
ګرمی يخوی.

## د خُدائ پاک د يو مېلمستيا تيارے کول

۶ د صيون په غرهٔ به مالِک خُدائ ربُ الافواج د دُنيا د ټولو قومونو دپاره يوه
مېلمستيا وکړی، دا مېلمستيا به د ښې غوښې او د انګورو د ښو ميو وی. ۷ نو په دې
غر به هغه د خلقو نه د مرګ سورے ختم کړی، کوم سورے چې د ټولو قومونو دپاسه
ولاړ دے. ۸ مالِک خُدائ پاک به مرګ د تل دپاره ختم کړی. او د هر يو کس په مخ
باندې به اوښکې اوچې کړی او د ټولې دُنيا نه به د خپلو خلقو بې‌عزتی لرې کړی. مالِک
خُدائ په خپله دا فرمائيلی دی. ۹ په هغه وخت به هغوئ وائی، "وګورئ دا دے زمونږ
خُدائ پاک. مونږ د هغهٔ په انتظار وُو او هغهٔ مونږ آزاد کړُو. دا دے هغه مالِک خُدائ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چا چې مونږ په انتظار وُو. راځئ چې د هغهٔ په خلاصون باندې د خوشحالئ جشن
وکړُو.“

## د خُدائ پاک موآب له سزاورکول

۱۰ مالِک خُدائ به د صيون د غرهٔ حِفاظت کوی، خو موآب به داسې د پښو لاندې
کړے شی لکه چې بوس په غويل کښې د پښو لاندې کيږی. ۱۱ خُدائ پاک به موآب
داسې دباؤ کړی لکه څنګه چې لامبوزن اويهٔ خپلو لاسونو سره لاندې ديکه کوی، هغه به
د دوئ غرور او د دوئ ټول بد کارونه ختم کړی. ۱۲ هغه به د موآب د اوچتو دېوالونو
والا قلعې تباه کړی او را ويه يې غورزوی او د خاورو سره به يې خاورې کړی.

## د خُدائ پاک خپلو خلقو له فتح ورکول

۲۶ ۱ په هغه وخت به د يهوداه په مُلک کښې دا سندره وئيلے شی، ”زمونږ ښار
مضبوط دے. ولې چې د خُدائ پاک د خلاصون دېوالونه زمونږ چارچاپيره دی. ۲ د
ښار دروازې کولاو کړئ چې صادق قوم ورننوځی، هغه قوم چې وفادار پاتې دے. ۳
د چا ايمان چې مضبوط دے تهٔ هغوئ بلکل محفوظ ساتې، ولې چې هغوئ په تا بهروسه
ساتی. ۴ په مالِک خُدائ باندې تل يقين ساتئ، ولې چې مالِک خُدائ پاک ابدی
حِفاظت کوونکے دے. ۵ څوک چې مغروره وُو نو هغهٔ عاجزان کړی دی، او هغهٔ
اوچت ښارونه راګزار کړی دی او خاورو سره يې خاورې کړی دی. ۶ او دوئ به د
غريبانانو او مظلومانو د پښو لاندې راشی او چخنی به شی.“ ۷ اے مالِکه خُدايه، د
صادقانو لار هواره ده، نو د صادقانو دپاره چې کومه لار تهٔ جوړوې نو هغه نيغه ده. ۸
اے مالِکه خُدايه، ستا فرمانبرداری کولو سره مونږ تا ته خپله بهروسه ښايُو، او زمونږ د
زړهٔ خواهش دے چې ستا د نوم لوئی وکړُو. ۹ توله شپه زهٔ ستا په لټون کښې يم، په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سحر کښې د زړۀ د اخلاصه زۀ ستا طلبګار يم، کله چې تۀ د دُنيا د عدالت دپاره راشې
نو خلق به پوهه شی چې اِنصاف څۀ څيز دے. ۱۰ کۀ په بدعمله باندې رحم وشی نو
هغه د اِنصاف په مطلب څان نۀ پوهوی، بلکې په کوم مُلک کښې چې اِنصاف کيږی هلته
هم هغوئ بدعملی کوی، هغوئ د مالِک خُدائ لوئی نۀ منی. ۱۱ اے مالِکه خُدايه، ستا
لاس هغوئ ته سزا ورکولو دپاره اوچت شوے دے خو هغوئ هيڅ غور نۀ کوی، او
هغوئ چې ستا قوم دپاره ستا غيرت ته وګوری نو ويه شرميږی. او بيا به تۀ سور اور په
خپلو دشمنانو نازل کړې. ۱۲ اے مالِکه خُدايه، تۀ به مونږ له امن راکوې، څکه چې
زمونږ ټولې کاميابئ ستا د لاسه دی. ۱۳ اے مالِکه خُدايه، خُدايه پاکه، نورو مالِکانو په
مونږ حکمرانی کړې ده، خو يواځې تۀ هغه هستی يې چې مونږ يې عبادت کوُو. ۱۴ خو
اوس هغوئ مړۀ شوی دی او بيا به نۀ راژوندی کيږی، د هغوئ روحونه به واپس نۀ
راځی، څکه چې تا دوئ له سزا ورکړې ده او تباه کړی دې دی. او د هغوئ نوم او نشان
دې ختم کړے دے. ۱۵ اے مالِکه خُدايه، تا خپل قوم له ترقی ورکړې ده، تا خپل قوم
لوئ کړے دے او خپله لوئی دې څرګنده کړې ده. ستا د وجې د هغوئ علاقه په هر
طرف باندې خوره شوې ده. ۱۶ اے مالِکه خُدايه، چې هغوئ په مصيبت کښې ګير
شول نو ستا تلاش يې شروع کړو او ستا د تنبيه لاندې يې دُعا شروع کړه. ۱۷ اے
مالِکه خُدايه، تا مونږ داسې ژړولی يُو، لکه چې يوه ښځه د بچی د پيدا کيدو د درد په وجه
ژاړی. ۱۸ مونږ په خوږ او درد مبتلا يُو، خو زمونږ د تکليف نه هيڅ هم پيدا نۀ شول. نۀ
مونږ زمکې ته خلاصون ورکړے دے، او نۀ مو دُنيا ته ژوندون راوړے دے. ۱۹ خو
زمونږ کوم خلق چې مړۀ شوی دی نو هغه بيا راژوندی شی. د هغوئ مړۀ جسمونه به بيا
راژوندی شی. کوم چې په قبرونو کښې پراتۀ دی نو هغه به راپاڅی او د خوشحالئ
سندرې به وائی. لکه څنګه چې د پرخې څاڅکی زمکه تازه کوی، نو داسې به مالِک
خُدائ هغه خلق بيا راژوندی کړی کوم چې پخواه مړۀ شوی دی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عدالت او بحال کېدل

(٢٠) زما خلقو، خپلو کورونو ته ننوځئ او په ځان پسې دروازې بندې کړئ. د څۀ وخت
دپاره ځانونه پټ کړئ چې د خُدائ پاک غصه سړه شی. (٢١) وګورئ، مالِک خُدائ په
آسمان کښې د خپل اوسېدو ځائ نه راروان دے چې د زمکې خلقو له د هغوئ د ګناه په
وجه سزا ورکړی. کومه وینه چې په زمکه باندې تويه شوې وه نو هغه به راښکاره کړے
شی او چې څوک وژلی شوی وی نو زمکه به یې نۀ پټوی.

٢٧ (١) په هغه ورځ به مالِک خُدائ د خپلې زورَورې او کلکې تُورې نه کار واخلی
چې هغه تښتېدونکې بلا له یعنې تاوېدونکې راتاوېدونکې بلا له سزا ورکړی او وې ووژنی
کومه چې په سمندر کښې اوسیږی. (٢) په هغه ورځ د انګورو ښائسته باغ په حقله
سندره ووایئ، (٣) ”زۀ مالِک خُدائ پخپله د دې خیال ساتم او پابندئ سره اوبۀ ورکوم.
او شپه او ورځ د دې څوکیداری کوم چې څوک نقصان ور ونۀ رسوی. (٤) زما غصه
اوس يخه شوې ده. خو کۀ په دې باغ کښې ازغی او مرکوندئ وشول نو زۀ به ورسره
جنګ وکړم او ټول به وسوزوم. (٥) خو کۀ هغوئ زما نه مدد وغواړی، نو هغوئ دې ما
سره روغه وکړی. آو، پرېږدئ چې هغوئ ما سره صُلح وکړی.“ (٦) هغه وخت راروان
دے چې د یعقوب اولاد به جرړې وکړی، اِسرائیل به غوټئ ونیسی او ګلونه به وکړی. او
میوه به یې دُنیا ډکه کړی. (٧) ولې مالِک خُدائ اِسرائیل داسې وهلے دے لکه څنګه یې
چې د هغۀ دشمنان وهلی دی؟ ولې بنی اِسرائیل داسې قتل شوی دی لکه څنګه چې د هغۀ
دشمنان قتل شوی دی؟ (٨) نه، بلکې مالِک خُدائ د هغوئ مخالفت وکړو او جلاوطن
یې کړل. هغوئ یې د نمرخاتۀ په طرف د یوې زورَورې هوا سره وشړل. (٩) نو داسې به
د یعقوب ګناه معاف شی، او چې کله د اِسرائیل ګناهونه ختم شی نو په نتیجه کښې به
هغوئ د غېرو قومونو قربانګاه د چونې د کانړی په شان ذرې ذرې کړی او د قربانګاه
خوشبودارې مصالحې او د اشیرې د بُت نښې به پاتې نۀ شی. (١٠) د قلعې په شان د پَخو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دېوالونو ښار کنډر پروت دے. دا د يو خوشى بيابان په شان وران ويجاړ پروت دے. او
بيا به په دې کښې خاروى څرېږى آرام به کوى او څانګې به خورى. ۱۱ د ونو څانګې
اوچې شوې او ماتې شوې دى او ښځې يې د خشاک په توګه راغونډوى. خلق په هيڅ
څيز باندې هم ځان نه پوهوى نو په دې وجه چا چې هغوئ پيدا کړى دى وربانډې هيڅ
رحم نۀ کوى، چا چې هغوئ تخليق کړى دى وربانډې هيڅ ترس نۀ کوى. ۱۲ په هغه
ورځ به مالِک خُدائ د فرات سيند نه واخله تر مِصر سرحده پورې خپل خلق يو يو کس
راغونډ کړى، داسې لکه څوک چې د بوسو نه غنم رابېلوى. ۱۳ په هغه وخت به يو بيګل
وغږولے شى چې د اسور او مِصر نه هغه ټول بنى اِسرائيليان راوغواړى کوم چې په
جلاوطنۍ کښې وى. نو هغوئ به د هغۀ په مقدس غر په يروشلم کښې د مالِک خُدائ
عبادت وکړى.

## د شمالى بادشاهۍ دپاره خبردارے

۲۸ ۱ په سامريه باندې افسوس چې د شرابى بنى اِسرائيلو شاندار تاج دے. په هغه
ښار باندې افسوس چې د بنى اِسرائيلو شان او شوکت وو خو اوس مړاوے کېدونکے
ګل دے. په هغه آبادۍ باندې افسوس چې په نشه کښې د ډوبو خلقو په زرخيزه وادۍ
باندې ولاړه ده. ۲ ګورئ، مالِک خُدائ به داسې قوى او طاقتور لښکر راولېږى، لکه د
ږلۍ طوفان او زل زول او د باران د طوفان په شان، دا به لکه د زورَور سېلاب پرې
حمله وکړى او په زمکه به يې سر د لاندې راوولى. ۳ بيا به سامريه د بنى اِسرائيلو
شرابيانو شاندار تاج د پښو لاندې ذرې ذرې شى. ۴ بيا به د دې مړاوے کېدونکے ګل
شان او شوکت ختم شى چې په زرخيزه وادۍ باندې ولاړ وى. د هغوئ حال د موسم د
وړومبو اينځرو په شان دے چې څنګه پاخۀ شى نو راوشوکولے شى او وخوړلے شى.
۵ په هغه ورځ به مالِک خُدائ ربُ الافواج د خپلو هغه خلقو دپاره د ګلونو د شاندار
تاج په شان وى چې کوم خلق ژوندى پاتې وى. ۶ هغه به هغه کسانو له د اِنصاف

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جذبه ورکړی چې څوک د قاضیانو په توګه کار کوی او هغوئ له به حوصله ورکړی
چې څوک د حملې نه د ښار د دروازو حِفاظت کوی.

## نا اهله مشرانو ته سزا مِلاوېدل

۷ نو بیا پېغمبران او اِمامان هم دومره نشه دی تر دې پورې چې ډغرې وهی. هغوئ
مے او شراب دومره زیات څښلی دی چې تیندکونه خوری. پېغمبران دومره زیات نشه
دی چې خُدائ پاک کومه وحی نازلوی نو په هغې باندې نۀ پوهیږی او اِمامان هم دومره
نشه دی چې د فېصلې ورکولو په وخت زنګیږی. ۸ د هغوئ ټول مېزونه په اولټو ګنده
دی او یو ځائ هم په کښې صفا نشته. ۹ هغوئ په خپلو کښې وائی، ”دا سړے زمونږ
سره دا رنګ خبرې ولې کوی؟ د تعلیم او د مالِک خُدائ د پېغام اورولو په وخت مونږ
داسې پوهوی لکه چې مونږ وړهٔ ماشومان یُو او اوس اوس د پیو نه خلاص شوی یُو.
۱۰ هغه مونږ ته ټکے په ټکے، کرښه په کرښه او په مزه مزه تعلیم راکوی.“ ۱۱ نو
اوس به خُدائ پاک خپلو خلقو سره د پردی مُلک د خلقو په ذریعه خبرې کوی څوک
چې عجیبه ژبه وائی. ۱۲ خُدائ پاک خپلو خلقو ته فرمائیلی دی، ”دا د آرام ځائ دے.
ستړی دې دلته آرام وکړی، ولې چې هم دا ځائ د آرام دے.“ خو هغوئ غوږ نۀ
کېښودو. ۱۳ نو دا ځکه به مالِک خُدائ هغوئ ته ټکے په ټکے، کرښه په کرښه او په
مزه مزه تعلیم ورکوی. نو هغوئ به تیندکونه وخوری او راپرې به وځی. هغوئ به زخمی
شی، په جال کښې به ګیر شی او ګرفتار به شی.

## د صیون د ګوټ کاڼے

۱۴ نو اے ګستاخه کسانو څوک چې په یروشلم کښې په دې خلقو باندې حکومت
کوئ، اوس چې څۀ مالِک خُدائ فرمائی نو هغې ته غوږ ونیسئ. ۱۵ تاسو لافې وهلې
چې تاسو د مرګ سره لوظ کړے دے او د عالمِ ارواح سره مو تړون کړے دے. ستاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا يقين دے چې کله افت راشی نو تاسو به بچ شئ، ځکه چې ستاسو خيال دا دے چې
خپل دروغ او دوکه به تاسو بچ وساتی. ۱۶ نو مالِک خُدائ پاک داسې فرمائی، "زۀ په
صيون کښې يو داسې بنياد ږدم چې کلک او مضبوط وی. په هغې کښې زۀ د کوټ يو
قيمتی کاڼے لګوم چې په هغې باندې دا ليکلی وی، "څوک چې ايمان لری نو هغه به نۀ
وارخطا کيږی." ۱۷ زۀ به اِنصاف د دې فيته او صداقت د دې د سال مزے کړم. تاسو
چې په کومو دروغو باندې يقين ساتئ نو ږلۍ به يې ټول يوسی او سېلابونه به ستاسو د
پناه ځايونه وران کړی." ۱۸ تاسو چې د مرګ سره کوم لوظ کړے دے نو هغه به
منسوخ کړے شی او چې د عالمِ ارواح سره تاسو کوم تړون کړے وی نو هغه به ختم
کړے شی. هغه زورَور افت به تاسو ووهی او تاسو به ترې نه لاندې شئ. ۱۹ دا افت به
تاسو بار بار وهی او هر سحر به مو وهی. دا به په تاسو شپه او ورځ راځی، تر هغې پورې
چې تاسو يې وړی نۀ يئ. دا پيغام به ستاسو په خلقو باندې يره راولی. ۲۰ ستاسو کټ
دومره لنډ دے چې پښې په کښې نۀ شی غزېدلے او کمبله دومره وړه ده چې څوک په
کښې پټېدے نۀ شی. ۲۱ مالِک خُدائ به داسې راپاڅی لکه څنګه چې هغه د پراضيم په
غر باندې فلستيانو پسې راپاڅېدلے وو. او څنګه يې چې د جبعون په وادۍ کښې
اموريانو باندې حمله کړې وه داسې به په تاسو هم حمله وکړی. او چې کوم کارونه به
هغه کوی نو هغه به عجيبه وی. او د هغۀ هر قدم به فرق فرق وی. ۲۲ زۀ چې کوم
خبردارے درکوم نو په هغې پورې خندا مۀ کوئ. کۀ تاسو خندا وکړه نو ستاسو دپاره به
خلاصېدل نور هم ګران شی. ما د مالِک خُدائ ربُ الافواج د ټول مُلک د تباه کولو
فيصله اورېدلې ده.

## د خُدائ پاک حِکمت

۲۳ زۀ چې درته څۀ وايم نو هغې ته غوږ ونيسئ، زۀ چې درته څۀ وايم هغې ته ښۀ توجو
وکړئ. ۲۴ ولې زميدار هميشه يوه کوی او هيڅکله کر نۀ کوی څۀ؟ ولې هغه تل پټې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اړوی او هيڅکله څۀ نۀ کَری؟ ۲۵ کله چې هغه يو ځل پټے هوار او تيار کړی، نو هغه
تخم کَری لکه کاږۀ، د زيرے تخم، غنم او اوربشې په صحيح طريقه او صحيح ځائ
باندې کَری. ۲۶ زميدار ته پته وی چې څۀ به کوی، ځکه چې خُدائ پاک هغۀ ته پوهه
ورکړې ده. ۲۷ هغه د کاږو او زيرې د تخم ټکولو دپاره لوئ ډانګ نۀ استعمالوی، بلکې
د دې دپاره د يو وړوکی او برابر لرګی نه کار اخلی. ۲۸ هغه غنم په درمند کښې دومره
نۀ غوبل کوی چې خرابتُراب شی، ځکه چې هغۀ ته پته وی چې په ګاډیَ باندې به يې
څنګه غوبل کړی چې غله خرابه نۀ شی. ۲۹ مالِک خُدائ ربُ الافواج زبردست اُستاذ
دے، او هغه دې زميدارانو له ښۀ پوهه ورکوی.

## د يروشلم محاصره کيدل

۲۹ ۱ اے اری‌ايل، اری‌ايل، په تا باندې افسوس. په هغه ښار باندې افسوس کوم
کښې چې داؤد خيمې لګولې وې. اوس کال په کال خپل اخترونه کوئ. ۲ خو بيا به زۀ
په هغه ښار باندې يو افت راولم، هلته به ژړا او ماتم وی. او ټول يروشلم به داسې شی
لکه څنګه چې د هغې د اری‌ايل نوم معنیٰ ده ”يوه داسې قربان‌ګاه چې په وينو لت پت
وی.“ ۳ ولې چې زۀ به تا د هر طرف نه راګير کړم او ستا د محاصرې به پوره
بندوبست وکړم. ۴ بيا به تۀ د زمکې لاندې نه خبرې کوې، د خاورو نه به ستا غلے
آواز راوځی. څنګه چې د يو مړی روح د قبر نه د خبرو کولو کوشش کوی، دغه شان به
ستا آواز غلے شان راځی. ۵ نو سمدستی به ستا دشمنان لکه د دوړې په شان
والوځی، په تا باندې حمله کوونکی به داسې وشړلے شی لکه هوا چې بوس زغلی. ولې
چې اچانک په يوه لحظه کښې به ۶ مالِک خُدائ ربُ الافواج به ستا د بچ کولو دپاره د
لوئ تندر، زلزلې، لوئ شور، تيزې سيلۍ، طوفان او سوزونکی اور سره راځی. ۷ نو
بيا د هغه ټولو قومونو لښکرې کوم چې د خُدائ پاک د اری‌ايل په ښار باندې حمله
کوی، د هغوئ ټوله وسله او ساز و سامان به د يو خوب ليدو په شان فنا شی، داسې به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فنا شی لکه چې دا د شپې يو خيال وی. ٨ هغه ټول قومونه چې په يروشلم باندې د
حملې کولو دپاره راجمع شوی دی د هغوئ مثال به د يو اوږی کس په شان وی چې
خوب وينی چې هغه خوراک کوی خو چې راپاڅی نو پته ورته ولګی چې هغه هم هغسې
اوږے دے، يا د هغه تږی کس په شان وی چې په خوب کښې ګوری چې اوبۀ څښی خو
چې راپاڅی نو پته ورته ولګی چې هغه هم هغه شان د تندې د لاسه بېدمه دے.

## د پېغمبرانو د ځان نه کم عقل جوړول

٩ حېران شئ او اريان دريان شئ. ځان نه ړاندۀ جوړ کړئ او ړاندۀ شئ. نشه شئ خو
په ميو نه، زنګېږئ خو په شرابو نه. ١٠ نو ځکه مالِک خُدائ تاسو خوبَولی کړی يئ او
په دروند خوب باندې په اودۀ کېدو بدل يئ. هغۀ د پېغمبرانو او د رويا ليدونکو سترګې
بندې کړې دی. ١١ د هرې پېغمبرئ د وحی مطلب به ستاسو نه پټ وی، دا به د يو بند
کِتاب په شان وی. کۀ تاسو دا يو داسې کس له يوسئ چې هغه يې لوستلے شی او هغۀ
ته ووايئ چې دا ولولی، نو هغه به وائی چې زۀ دا نۀ شم لوستلے ځکه چې دا پوخ بند
دے. ١٢ کۀ تاسو دا يو بېتعليمه کس له ورکړئ چې وې لولی، نو هغه به جواب
درکړی چې زۀ بېتعليمه يم. ١٣ مالِک خُدائ وفرمائيل، ”دا خلق تش په خولۀ زما عزت
کوی خو زړونه يې رانه ډېر لرې دی. او دوئ بېفائدې زما عبادت کوی ځکه چې دوئ د
انسانانو حُکمونه د تعليم په ډول ورکوی. ١٤ نو په دې وجه به په راتلونکی وخت کښې
يو ځل بيا زما سلوک د دې قوم سره ډېر عجيبه او د حېرانتيا وی. بيا به د هغوئ د
هوښيارانو هوښيارتيا ختمه شی او د هغوئ د پوهانو پوهه به غيبه شی.“

## د راتلونکی وخت دپاره اُميد

١٥ څوک چې د مالِک خُدائ نه د خپلو منصوبو د پټولو کوشش کوی نو په هغوئ
افسوس. هغوئ په پټه باندې منصوبې جوړوی او خيال يې دا وی چې، ”څوک به مونږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وینی او څوک به مونږ ویېژنی؟“ ۱۶ هغوئ هر یو څیز ګډ وډ کوی. د کُلال اهمیت
زیات دے کهٔ د ختې؟ یو کس چې څهٔ څیز جوړ کړی نو هغه څیز خپل جوړېدونکی ته
داسې وائی څهٔ، ”تا زهٔ نهٔ یم جوړ کړے،“ او یا دا چې، ”تهٔ په هیڅ هم نهٔ پوهېږې؟“

## راتلونکے بدلون

۱۷ لږ وخت پس به د لبنان ځنګل نه پټی جوړ شی او پټی به په ځنګل بدل شی. ۱۸ کله
چې هغه وخت راشی، نو کاڼهٔ به د کِتاب تلاوت اوری او ړانده به د تورتم او تیارهٔ نه
راښهر شی او وینی به. ۱۹ عاجزان به بیا د مالِک خُدائ ورکړے شوې خوشحالئ نه په
جامو کښې نهٔ ځائیږی، او غریبانان به د بنی اِسرائیل د مقدس ذات خوشحالی کوی.
۲۰ ظالمان به باقی پاتې نهٔ شی، مغروره به ختم شی او څوک چې د بدو منصوبه
جوړوی هغوئ به قتل کړے شی. ۲۱ خُدائ پاک به هغه خلق تباه کړی چې څوک د
دروغو ګواهی کوی، هغه خلق چې قاضیان د غلطو فیصلو کولو دپاره دوکه کوی، هغه
خلق چې څوک دروغ وائی د دې دپاره چې بې‌ګناه خلقو ته اِنصاف مِلاو نهٔ شی. ۲۲ نو
ځکه مالِک خُدائ د یعقوب د اولاد خُدائ پاک، چا چې اِبراهیم د مصیبت نه خلاص
کړو، داسې فرمائی، ”زما د خلقو به نوره بې‌عزتی نهٔ کیږی او د هغوئ رنګونه به د شرم
په وجه نور زیړ نهٔ وی. ۲۳ کله چې تاسو هغه بچی ووینئ چې زهٔ تاسو له درکوم، نو
تاسو ته به بیا پته ولګی چې زهٔ د بنی اِسرائیلو مقدس ذات یم. تاسو به زما درناوی کوئ
او د یعقوب د خُدائ پاک رُعب به منئ. ۲۴ بدعمله خلق به پوهه حاصله کړی او هغه
خلق چې کوم هر وخت فریادونه کوی نو هغوئ به اصُول ومنی.“

## د مِصر بې‌فائدې معاهدې

۳۰ ۱ مالِک خُدائ فرمائیلی دی، ”اے باغیانو بچو په تاسو افسوس. ځکه چې
تاسو په هغه منصوبو باندې کار کوئ چې کومې زما نهٔ دی، او زما د مرضئ خِلاف

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

معاهدې کوئ او تاسو ګناهونو پسې ګناهونه کوئ. ۲ تاسو زما د مشورې نه بغېر د
مدد دپاره مِصر ته لاړئ. تاسو غوښتل چې مِصريان مو بچ کړی، نو په دې وجه تاسو د
مِصر په فِرعون باندې يقين وکړو. ۳ خو په فِرعون باندې اعتماد سره به تاسو رسوا
شئ او په هغهٔ باندې بهروسىٔ سره به تاسو بې‌عزته شئ. ۴ اګر چې د هغهٔ آفسران
ضُعن کښې دی او د هغهٔ سفيران حنيس ته رسېدلی دی، ۵ هغه ټول چې په هغهٔ
بهروسه کوی هغوئ به وشرميږی. او هغه به ستاسو مدد نهٔ کوی بلکې په ځائ د دې به
ستاسو بې‌عزتی وکړی.“ ۶ د جنوبی صحرا د ځناورو په حقله د خُدائ پاک پېغام دا
دے، هغه سفيران به په داسې خطرناک مُلک کښې سفر کوی، چرته چې ازمرى
اوسيږی او چرته چې تور ماران او نور زهرژن ماران دی. هغوئ د يو داسې قوم دپاره
خپل خرونه او اوښان د قيمتی تُحفو نه بار کړی دی څوک چې د دوئ هيڅ مدد نهٔ شی
کولے. ۷ د مِصر نه چې کوم مدد ملاوېږی نو هغه بې‌فائدې دے. نو ځکه ما په مِصر
باندې يو بل نوم ”بې‌ضرره اژدها“ اېښے دے.

## نافرمانه خلق

۸ اوس لاړ شه او دا الفاظ په يو کِتاب کښې وليکه. چې دا د راروانو وختونو دپاره د
تل دپاره يوه ګواهی شی. ۹ ځکه چې دا قوم سرکش دے او دا هميشه دروغ وائی او د
مالِک خُدائ تعليمات منلو ته تيار نهٔ دی. ۱۰ هغوئ رويا کتونکو ته وائی چې، ”تاسو
روياګانې مهٔ وينئ،“ پېغمبرانو ته وائی، ”مونږ ته د هغه څهٔ په حقله خبرې مهٔ کوئ چې
څهٔ حقيقت وی. مونږ ته د خوند خبرې کوئ، خبر دے کهٔ هغه دروغ هم وی. ۱۱
زمونږ د لارې نه اخوا شئ او زمونږ مخه مهٔ نيسئ. مونږ ستاسو د بنی اِسرائيلو د مقدس
ذات په حقله اورېدل نهٔ غواړُو.“ ۱۲ ځکه خو د بنی اِسرائيلو مقدس ذات داسې فرمائی،
”زهٔ چې څهٔ درته وايم نو تاسو هغه رد کړئ او د ظلم زياتی او دوکې نه کار اخلئ. ۱۳
دا ګناه به ستاسو دپاره د يو داسې اوچت دېوال په شان وی چې چاودے او کوږوالے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پکښې راغلے وی او دېوال کينوی او بيا سمدستی يو درز سره زمکې ته راګزار شی. ۱۴
دا ټوټې ټوټې شی د ختې د هغه لوښی په شان چې ټکړې ټکړې کړے شوی وی او د هغې
يوه ټوټه به هم دومره نۀ وی چې په هغې کښې بل سکارۀ راواخستلے شی، يا په کښې د
ډيګی نه اوبۀ راوويستلے شی.“ ۱۵ قادر مطلق خُدائ د بنی اِسرائيلو مقدس ذات،
فرمائی، ”راواپس شئ او په ما پوره يقين کوئ. نو بيا به تاسو تکړه او محفوظ يئ.“ خو
تاسو داسې نۀ کوئ. ۱۶ خو ستاسو منصوبه دا ده چې په تېزو آسونو باندې سوارۀ شئ
او د خپل دشمن نه وتښتئ. تاسو صحيح يئ، ځکه چې تاسو به تښتئ. ستاسو خيال دا
دے چې ستاسو آسونه ښۀ تېزه منډه وهلے شی، خو چې څوک درپسې وی نو هغوئ به
ستاسو نه تېز وی. ۱۷ کۀ ستاسو د دشمن يو فوجی دهمکی درکړی نو ستاسو زر
کسان به منډې وهی، او کۀ پينځۀ سپاهيان دهمکی درکړی نو دا به ستاسو ټولو زغلولو
دپاره کافی وی. او کۀ په آخر کښې څوک پاتې شی نو هغوئ به د غرۀ په سر باندې د
جنډې د يو لرګی په شان يواځې وی. ۱۸ خو مالِک خُدائ بيا هم په دې انتظار کښې
دے چې په تاسو باندې رحم وکړی. هغه په تاسو باندې د رحم کولو دپاره تيار دے ځکه
چې هغه وفادار خُدائ پاک دے. بختور دی هغوئ چې د هغۀ د مدد په انتظار کښې وی.

## د خُدائ پاک خپلو خلقو له برکت ورکول

۱۹ اے د يروشلم خلقو تاسو به نور نۀ ژاړئ. کله چې تاسو هغۀ ته د مدد دپاره فرياد
وکړئ، نو هغه به خامخا په تاسو رحم وکړی او چې څنګه ستاسو دُعاګانې واوری نو
جواب به درکړی. ۲۰ اګر چې مالِک خُدائ به تاسو ته د تنګ لاس روټئ او د تکليف
اوبۀ درکړی، خو هغه به په خپله ستاسو اُستاذ وی او تاسو ته به نور د هغۀ د لټولو
ضرورت نۀ پېښيږی. ۲۱ کۀ تاسو د لارې نه ښی يا ګس طرف ته واوړئ، نو د وروستو
نه به ستاسو لار ښودنه کيږی چې، ”دا لاره صحيح ده، په دې روان شئ.“ تاسو به په
خپلو غوږونو دا اورئ. ۲۲ نو بيا به تاسو خپل هغه بُتان چې په سرو زرو پټ وی او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه بُتان چې په سپينو زرو پټ وی هغه به واخلئ او وايئ به چې، "دا څۀ ګند دے." او
بهر په ډيران به يې ګزار کړئ. ٢٣ کله چې تاسو تخم وکَرئ، نو مالِک خُدائ به د دې
شين کېدو دپاره باران راولېږی او د دې نه به تاسو ته ښۀ او زيات پېداوار مِلاو شی او
ستاسو د څاروو دپاره به د څرن ښۀ ډېره زمکه وی. ٢٤ کوم غوَيِې او خرونه چې
ستاسو په پټو کښې يوې کوی نو هغه به هم هغه خوراک کوی چې چج او درې غابښې
سره صفا شوے وی. ٢٥ په هغه ورځ کله چې ستاسو د دشمن قلعې قبضه شی او د
هغوئ خلق ووژلے شی، نو د هر غرۀ نه او د هرې غونډۍ نه به د اوبو وَلې رابهيږی. ٢٦
سپوږمۍ به د نمر په شان ځلېږی او نمر به په اووۀ چنده زيات روښانه شی، دا به داسې
وی لکه چې د اوو ورځو رڼا يو ځائ شی. دا به په هغه وخت کښې وشی کله چې مالِک
خُدائ د خپلو خلقو د هغه زخمونو مرهم پټۍ وکړی او هغه زخمونه ورله روغ کړی چې
کوم زخمونه هغۀ ورکړی دی.

## د خُدائ پاک اسور له سزا ورکول

٢٧ وګورئ د مالِک خُدائ نوم د لرې ځائ نه راروان دے. هغه لوئ غضب او رُعب
داب سره رانزدې کيږی. د هغۀ شونډې د غصې نه ريږدی، او د هغۀ ژبه لکه د اور هر
څۀ ايرې کوی. ٢٨ د هغۀ ساه لکه د سېلاب په شان ده چې هر څۀ تر مرۍ
ډوبوی. هغه به مغروره قومونه د تباهۍ دپاره چاڼ کړی. هغه به دوئ قابو کړی او د
بربادۍ په طرف به يې بوسی. ٢٩ خو اے د خُدائ پاک خلقو، تاسو به خوشحاله يئ او
داسې سندرې به وايئ لکه څنګه سندرې چې د مقدس اختر په شپه وئيلے شی. تاسو به
د هغه خلقو په شان خوشحاله يئ کوم چې د مالِک خُدائ کور ته د شپېلۍ د ساز سره
روان وی، چې هغه د بنی اِسرائيلو حِفاظت کوونکے دے. ٣٠ مالِک خُدائ به په هر يو
کس باندې خپل پُرجلاله آواز واوری او د خپلې غصې زور به ورته وښائی. هلته به د اور
لمبې، تندر، ږلۍ او دروند باران وی. ٣١ کله چې اسوريان د مالِک خُدائ آواز واوری

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغهٔ د سزا پته ورته ولګی نو هغوئ به ويريږی. ۳۲ کله چې مالِک خُدائ هغوئ بار
بار ووهی، نو د هغهٔ خلق به هر ځلې د منګی او بينجو ساز ورسره غږوی. خُدائ پاک به
پخپله د اسوريانو خِلاف جنګ کوی. ۳۳ ډېره موده مخکښې يو ځائ تيار شوے وو
چرته به چې يو لوئ اور د اسور بادشاه سوزوی. د لرګو يو اوچت ډېرے به وی. مالِک
خُدائ به د نِهر په شان د سوزېدونکو ګوګړو يوه لمبه پو کړی او دې له به اور ورکړی.

## د خُدائ پاک د يروشلم حِفاظت کول

۳۱ ۱ کوم خلق چې د مدد غوښتلو دپاره مِصر ته ځی نو په هغوئ باندې افسوس.
ځکه چې هغوئ د مِصر په لوئ فوجی طاقت، آسونو، جنګی ګاډو او فوجيانو باندې
بهروسه کوی. خو هغوئ په مالِک خُدائ باندې يقين نهٔ کوی، کوم چې د بنی اِسرائيلو
مقدس ذات دے او نهٔ ترې نه مدد غواړی. ۲ خو مالِک خُدائ پاک هم هوښيار دے.
هغه په تاسو افت راولی. هغه خپلې خبرې سر ته رسوی چې بدعمله او هغه خلقو له سزا
ورکړی چې څوک د دې بدعمله خلقو حِفاظت کوی. ۳ مِصريان خو څهٔ خُدايان نهٔ
دی، هغوئ خو بنی آدم دی. د هغوئ آسونه خو څهٔ آسمانی مخلوق نهٔ دے ځکه چې دا
آسونه د غوښې نه جوړ دی. کله چې مالِک خُدائ خپل لاس اوږد کړی، نو څوک چې د
چا مدد کوی نو هغه به راپرېوځی او د چا چې مدد کيږی نو هغه به هم راپرېوځی او دا
دواړه به تباه شی. ۴ مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل، "کهٔ د شپانو ډلې هر څومره چغې
ووهی يا هر څومره آوازونه وکړی، خو هغوئ به يو غړمبېدونکی ازمری د خپل ښکار نه
ونهٔ شړی، نو هم دغه شان به مالِک خُدائ ربُ الافواج د صيون په غر راکوز شی او
جنګ به کوی. ۵ لکه څنګه چې يو مارغهٔ د خپلو بچو د بچ کولو دپاره د خپلې جالې
دپاسه الوځی رالوځی، نو داسې به زهٔ، مالِک خُدائ، ربُ الافواج د يروشلم دپاسه تېر شم
د دې د بچ کولو دپاره او د دې حِفاظت به کوم." ۶ مالِک خُدائ وفرمائيل، "اے بنی
اِسرائيلو، تاسو زما خِلاف سرکشی کړې ده. خو اوس، تاسو ما ته راوګرځئ. ۷ يو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې ورځ راروانه ده چې تاسو ټول به د سرو زرو او سپينو زرو نه جوړ شوی بُتان
غورزوئ کوم چې تاسو په خپلو ګناهګارو لاسونو جوړ کړی دی. ۸ اسوريان به په
تُوره تباه شی خو دا تُوره به د انسان نهٔ وی. د خُدائ پاک تُوره به هغوئ ووهی او هغوئ
به وارخطا شی او تښتی به. د اسوريانو ځوانانو نه به په زور کار اخستلے شی. ۹ د
يرې د وجې به هغوئ خپله قلعه پرېږدی، او د هغوئ آفسران به د مالِک خُدائ د جنګی
جنډې نه ويرېږی.“ دا مالِک خُدائ فرمائيلی دی، د چا اور چې په صيون کښې بلېږی،
او د چا تنور چې په يروشلم ګرمېږی.

## په اِنصاف سره د يو بادشاه حکمرانی

۳۲ ۱ ګورئ، يو بادشاه به په اِنصاف سره حکمرانی کوی. او د هغهٔ آفسران به هم
په اِنصاف سره حکمرانی کوی. ۲ د بادشاه هر يو کس به د سيلۍ نه د حِفاظت، او د
طوفان نه د پټېدو د ځائ په شان وی. هغوئ به د داسې نِهر په شان وی چې په صحرا
کښې بهېږی او هغوئ به په خُشک مُلک کښې د لوئ ګټ د سوری په شان وی. ۳ نو
بيا چې د چا سترګې وی نو هغوئ به حقيقت وينی، او چې د چا غوږونه وی نو هغوئ به
د اورېدو جوګه وی. ۴ څوک چې د بې‌صبرۍ نه کار اخلی هغوئ به هوښيار شی، او
چاړاګان به صفا او روانۍ سره خبرې کوی. ۵ څوک به دا نهٔ وائی چې کم عقل کس
عزتمند وی او يا بدعمله کس نېک وی. ۶ يو کم عقل کس د کم عقلتوب خبرې کوی
او د بدعملۍ کولو منصوبې جوړوی. هغه د بې‌دينۍ خبرې کوی او د مالِک خُدائ خلاف
کُفر غروی. هيڅکله اوږو خلقو له خوراک نهٔ ورکوی او تږی د څهٔ څښلو نه محرومه
ساتی. ۷ کم عقل انسان بدعمله وی او د بدعملۍ کارونه کوی، هغه د دروغو سره د
غريب د تباه کېدو منصوبې جوړوی اګر کهٔ حاجتمند په حقه هم وی. ۸ خو عزتمند
انسان د صداقت کار کوی او چې کوم کار صحيح وی نو په هغې باندې کلک ولاړ وی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د يروشلم د ښځو دپاره خبردارے

۹ اے هغه ښځو، څوک چې په آرام سره ژوند تېروئ زما خبره واورئ. اے بې‌پرواه
لوڼو زما خبره په غور سره واورئ. ۱۰ يو کال او څو ورځې پس به تاسو بې‌پرواه ښځې
په لړزان شئ، ځکه چې د انګورو فصل به ضائع شی او مېوې به هيڅکله نۀ پخيږی. ۱۱
اے هغه ښځو، څوک چې په آرام سره ژوند تيروئ، د يرې نه ولړزيږئ. اے بې‌غمه لوڼو
د يرې نه ورپيږئ. خپلې کپړې وباسئ بربنډې شئ او د ټاټ جامې واچوئ. ۱۲ د
زرخيزه پټو او د انګورو باغونو دپاره د خفګان نه خپلې سينې وهئ. ۱۳ زما د خلقو په
مُلک کښې د ازغو او غنو بوټی راشنۀ شوی دی. ستاسو د کورونو خندا او د ښارونو
خوشحالی به ختمه شی. ۱۴ محل به خوشے پاتې شی او مرکزی ښار به خالی شی. د
کورونو او قلعو نه به د تل دپاره کنډرات جوړ شی، چرته به چې ځنګلی خرونه ګرځی او
ګډې به په کښې څريږی. ۱۵ ترڅو چې خُدائ پاک خپل روح په مونږ نازل نۀ کړی نو
تر هغه وخته پورې به حالات هم داسې وی. خو بيا به هغه خوشے مُلک آباد شی او د
باغ مېوه دارې ونې به يې لکه د ځنګل په شان ګڼې وی. ۱۶ نو بيا به اِنصاف په صحرا
کښې استوګنه کوی، او صداقت به په مېوه دار باغ کښې اوسيږی. ۱۷ د صداقت اثر به
سلامتی وی، او نتيجه به يې ابدی سکون او حفاظت وی. ۱۸ زما خلق به پُرسکون او
محفوظ ځايونو کښې اوسيږی، او د هغوئ کورونه به د امن او سلامتئ نه ډک وی، ۱۹
اګر کۀ ځنګل تباه شی او ښار مکمل برباد شی. ۲۰ خو بختور يئ تاسو چې د ټولو اوبو
په غاړه به فصلونه وکرلے شئ او په آزادئ سره به خپل خرونه او څاروی وڅرولے
شئ.

## د مدد دپاره دُعا

۳۳ ۱ په تاسو اسوريانو باندې افسوس، تاسو نور خو برباد کړل خو پخپله هيڅکله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

برباد نۀ شوئ. په تاسو باندې افسوس چې تاسو نورو سره دوکه وکړه حالانکه تاسو
سره دوکه نۀ ده شوې. خو ستاسو نمبر به هم راځی. کله چې تاسو تباهی وکړئ نو تاسو
به هم تباه شئ. کله چې تاسو د دوکې کار سر ته ورسوئ نو تاسو سره به هم دوکه وشی.
٢ اے مالِکه خُدايه، په مونږ رحم وکړه، مونږ ستا په طمع يُو. هر سحر مونږ له طاقت
راکوه. او د مصيبت په وخت کښې زمونږ خلاصونکے شه. ٣ ستا د تندر په شان
آواز اورېدو سره قومونه زغلی، ستا پاڅېدو سره هغوئ خوارۀ وارۀ شی. ٤ ستا د
لوټ مال دومره راجمع شی لکه چې ډېر چينجی راجمع شوی وی، او خلق په مالِ
غنيمت باندې لکه د قحطۍ د مُولخانو ټوپونه وهی. ٥ زمونږ مالِک خُدائ ځومره لوئ
دے. هغه پاس په عرش استوګنه کوی. هغه به يروشلم د اِنصاف او صداقت نه ډک
کړی، ٦ په هغه ورځ به هغه ستاسو مضبوط بنياد وی، هغه به تاسو له لوئ خلاصون،
پوهه او حِکمت درکوی. د مالِک خُدائ يره به ستاسو خزانه وی. ٧ خو اوس تکړه
خلق په لارو کوڅو کښې ژړاګانې کوی. کومو سفيرانو چې د امن راوستلو کوشش کولو
نو اوس هغوئ په چغو چغو ژاړی. ٨ هغه سړکونه خوشې تشې پاتې دی او هيڅ څوک
هم پرې سفر نۀ کوی. معاهدې ماتې شوې دی او په لوظُونو باندې عمل نۀ دے شوے.
نور د يو کس عزت هم نۀ کيږی. ٩ مُلک خوشے او وران ويجاړ پروت دے. د لبنان
ځنګلونه اوچ شوی دی او د شارون آباده وادی د صحرا په شان ده او د بسن او د کرمل
د غرۀ د ونو نه پاڼې غورزيږی.

## د مالِک خُدائ خپلو دشمنانو له خبردارے ورکول

١٠ نو مالِک خُدائ فرمائی، ”اوس به زۀ عملی کار کوم. زۀ به تاسو ته وښايم چې زۀ
څومره طاقتور يم. ١١ تاسو اُميد سره يئ خو ستاسو په خېټه کښې اوچه ګياه ده او د
پېدايښت په وخت به درنه صرف بوس پېدا کيږی. چې کله تاسو پوکے وهئ نو ستاسو
ساه نه به اور جوړ شی او تاسو به ايرې ايرې کړی. ١٢ قومونه به په مکمل طور داسې
وسوزی، لکه د ازغو د هغه بوټو په شان چې کټ کړے شی او اور ته وغورزولے شی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ اے هغه د لرې علاقو خلقو هغې ته غوږ کېږدئ څهٔ چې ما کړی دی، او اے نزدې
اوسېدونکو زما طاقت ومنئ.“ ۱۴ د صیون ګناهګار خلق د یرې نه رېږدی. بې‌دینه خلق
رپیږی او وائی، ”د خُدائ پاک تباه کوونکی اور په وړاندې څوک ژوندی پاتې کېدے
شی؟ زمونږ د خلقو نه به څوک په داسې ابدی اور کښې ژوندی پاتې شی؟“ ۱۵ خو هغه
کس به ژوندے پاتې شی چې صداقت سره ژوند تېروی او رښتینے وی، غیر قانونی ګټه
او رشوت نهٔ اخلی، چې د قتل منصوبې نهٔ جوړوی او د غلطو کارونو نه ځان ساتی. ۱۶
نو بیا به دا خلق په اوچتو ځایونو کښې اوسیږی، هغوئ به دومره محفوظ وی لکه
څومره چې په غرونو باندې پَخو قلعو کښې محفوظ وی. هغوئ ته به روټۍ ملاویږی او د
اوبو به هیڅ کمے نهٔ راځی.

## مالِک خُدائ زمونږ بادشاه دے

۱۷ تاسو به وګورئ بادشاه به د شان او شوکت سره په یو داسې مُلک باندې حکومت
کوی چې تر لرې لرې پورې خور وی. ۱۸ بیا به تاسو د یرې دا تېر وخت رایاد کړئ او
خپل ځان سره به ووایئ، ”د دشمن هغه لوئ آفسران چرته دی؟ محصُول اخستونکی
چرته غیب شول؟ هغه آفسر چرته دے چې د برجونو حساب کِتاب به یې کولو؟“ ۱۹ نو
تاسو به نور د پردی مُلک هغه ظالمان ونهٔ وینئ چې هغوئ داسې سخته ژبه وائی چې په
هغې باندې تاسو نهٔ پوهیږئ. ۲۰ صیون ته وګورئ، دا هغه ښار دے چرته چې مونږ
مذهبی اخترونه کوُو. یروشلم ته وګورئ، دا به د اوسېدو دپاره څومره محفوظ ځائ وی.
دا به یو داسې خیمه وی چې هیڅکله به نهٔ شی اخوا کولے، د دې موږی به کله هم نهٔ
راویستلے کیږی، او د دې پړی به هیڅکله نهٔ شلیږی. ۲۱ هلته به مالِک خُدائ زمونږ
لوئ بادشاه وی. هغه به لکه د حفاظت د لوئ سمندر په شان وی چې یو دشمن به هم
ترینه نهٔ شی اوړیدے او نهٔ به پرې د دشمن سمندری جهازُونه ګرځیدے شی. ۲۲ مالِک
خُدائ به په خپله زمونږ قاضی، زمونږ حکمران، او زمونږ بادشاه وی، هغه به زمونږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خیال ساتی او مونږ به بچ کوی. ۲۳ د سمندری جهاز پړی ډیله دی، او د بادبان ستن یې
خوَزی او بادبان یې خور شوے نۀ دے. مونږ به د خپلو دشمنانو ټول د لوټ مال دولت
تقسیم کړُو او دا به دومره زیات وی چې ګوډ ته به هم په کښې خپله برخه مِلاو شی. ۲۴
د صیون یو کس به هم بیا نۀ وائی چې، "مونږ بیمار یُو،" او مالِک خُدائ به د هغوئ
ګناهونه معاف کړی.

## د خُدائ پاک خپلو دشمنانو له سزا ورکول

۳۴ ۱ اے د ټولو قومونو خلقو، راشئ. راغونډ شئ او واورئ. په ټوله دُنیا کښې چې
څوک هم اوسیږی نو هغه دې دلته راشی او وا دې وری. ۲ مالِک خُدائ ټولو قومونو
او د هغوئ ټولو لښکرو ته غصه دے او هغه به دوئ په مکمل طور تباه کړی او ذبح به
یې کړی. ۳ خو د هغوئ لاشونه به نۀ ښخیږی او هلته به پراتۀ وی چې سخا شی او
خراب بوئ وکړی، او غرونه به په وینو سرۀ وی. ۴ په آسمان کښې ستوری به فنا
شی. آسمان به داسې فنا شی لکه چې طومار راغونډولے شی او ستوری به داسې
راوغورزیږی لکه د انګورو د بوټی نه اوچې پاڼې یا د اینځر د ونې نه اوچ اینځر
راغورزیږی. ۵ او زما تُورې خپل کار په آسمان کښې پوره کړے دے، او ګورئ اوس
به دا په ادوم نازله شی، په هغه قوم کوم چې ما د تباهۍ دپاره په نښه کړے دے. ۶ د
مالِک خُدائ تُوره په وینه او وازګه باندې پټه شوې ده، دا د ګډورو او د چېلو په وینو
سره ده او وازګې ورباندې لګېدلې دی، ولې چې مالِک خُدائ به دا قربانی د بُصره په
ښار کښې پیش کړی، هغه به دا لویه حلاله د ادوم په مُلک کښې وکړی. ۷ خلق به د
ځنګلی غوَیی او د سخو په شان راوغورزیږی او زمکه به په وینه سره وی او په وازګه به
پټه وی. ۸ دا هغه ورځ ده چې مالِک خُدائ به بدل واخلی، هغه کال چې د ادوم نه به د
بنی اِسرائیلو بدله واخلی. ۹ د ادوم سیندونه به په تارکولو بدل شی، خاوره به یې په
ګوګړو بدله شی. ټول مُلک به د تارکولو په شان اور اخستے وی. ۱۰ دا به شپه او ورځ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بلېږی او د دې نه به تل لوګے خېژی. هغه مُلک به په هره زمانه کښې خوشے پروت وی
تر دې چې څوک مسافر به هم تر همېشه پورې په دې کښې سفر نۀ کوی. ۱۱ ګونګيان
او ځنګلی ځناور به دا قبضه کړی، هر قِسمه ځنګلی مارغان به په دې کښې پاتې کېږی.
مالِک خُدائ به په خيال سره د دې مُلک ناپ تول وکړی، هغه به دا ناپ تول د دې د
تباهۍ دپاره وکړی. ۱۲ هلته به د بادشاهۍ هيڅ هم پاتې نۀ وی، او د هغې ټول مشران به
ختم شی. ۱۳ د ازغو بوټی او تراخۀ بوټی به هر ځائ کښې د پَخو دېوالونو په ښارونو
کښې او قلعو کښې خوارۀ شی او ګيدړان او ګونګيان به په دې کښې اوسيږی. ۱۴
ځنګلی ځناور او ګيدړان به هلته راغونډ شی او د چېلو په شکل پيريان به په کښې يو بل
ته آوازونه کوی. د شپې بلا به هلته راځی چې د آرام ځائ پيدا کړی. ۱۵ ګونګيان به
هلته جالې جوړوی، هګۍ به اچوی، بچی به ترې نه راوباسی او وزرو لاندې به يې پټوی،
او ساتنه به يې کوی. ټپوسان به هلته راغونډيږی او هر يو سره به خپله ماده وی. ۱۶ د
مالِک خُدائ کِتاب وګورئ او په هغې کښې لټون وکړئ چې څۀ فرمائی. په دې کِتاب
کښې د دې ټول مخلوق نومونه موجود وی او يو به هم په کښې بې‌جوړې نۀ وی. مالِک
خُدائ حُکم کړے دے چې هم دغه شان دې وشی، د هغۀ روح به يې پخپله په يو ځائ
باندې راغونډ کړی. ۱۷ دا به مالِک خُدائ وی چې په دې ځناورو باندې مُلک تقسيم
کړی او هر يو له خپله برخه ورکړی. هغوئ به نسل په نسل په هغه مُلک کښې اوسيږی
او د تل دپاره به د هغوئ شی.

## د پاکوالی لار

**۳۵** ۱ صحرا او اوچه زمکه به خوشحالی وکړی، او په بيابان کښې به ګلونه غوټۍ
شی. ۲ صحرا به سندرې وائی او د خوشحالۍ چغې به وهی، دا صحرا به د لبنان د
غرونو په شان شنه وی او د کرمل غر په شان او شوکت والا او د شارون پټو په شان به
زرخېزه وی. نو هر يو کس به د مالِک خُدائ شان او شوکت ووينی، او زمونږ د خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاک لوئی او عظمت به ووينی. ۳ کوم لاسونه چې سترې شوې دی نو هغې له طاقت
ورکړه او هغه ګوډو له طاقت ورکړه چې د کمزورۍ په وجه لړزيږی. ۴ ځوک چې
بې‌حوصلې شوی دی نو هغوئ ته ووايه، ”تکړه شئ او مهٔ يرېږئ. خُدائ پاک راروان
دے چې تاسو بچ کړی، او ستاسو دشمنانو له سزا ورکړی.“ ۵ نو د ړندو به سترګې
وغړيږی، او د کڼو به غوږونه اورېدل شروع کړی. ۶ ګوډ به د هوسۍ په شان ټوپونه
وهی، او ګونګيان به د خوشحالۍ سندرې وائی. په صحرا کښې به چشمې راوځی او په
بيابان کښې به د اوبو نِهرونه بهيږی، ۷ د بلبدونکې شګې نه به تالاب جوړ شی، او
اوچه زمکه به د چينو نه ډکه شی. چرته چې ګيدړان اوسېدل، نو هلته به د نمژنې زمکې
واښهٔ او لوخې راوټوکيږی. ۸ هلته به يو لوئ سړک وی، چې نوم به يې ”د پاکوالی
لار“ وی. ناپاک خلق به په دې باندې سفر نهٔ کوی، ځکه چې دا لار صرف هغه خلقو
دپاره مخصوص شوې ده کوم چې په نېغه لار ځی، او کم عقل خلق به په دې لار نهٔ شی
تلے. ۹ هلته به زمريان نهٔ وی، بد ځناور به په هغه لار باندې نهٔ تېريږی او نهٔ به هلته
پاتې کيږی. خو مالِک خُدائ چې ځوک بچ کړی وی نو هغوئ به په هغه لار باندې ځی.
۱۰ هغوئ چې د چا فديه مالِک خُدائ ورکړې ده هغوئ به واپس راشی او سندرې به
وائی، ځنګه چې يروشلم ته داخل شی نو د هغوئ زړونه به هميشه د خوشحالۍ نه ډک
وی، او هغوئ به دومره زيات خوشحاله وی چې غم او پرېشانۍ به ترې وتښتی.

## د اسوريانو يروشلم له دهمکی ورکول

۳۶ ۱ د حزقياه بادشاه د بادشاهۍ په څوارلسم کال، د اسور بادشاه سينحرب، د
يهوداه د پَخو ديوالونو په ښارونو باندې حمله وکړه او قبضه يې کړل. ۲ بيا د اسور
بادشاه خپل مشر آفسر ته حُکم وکړو چې حزقياه بادشاه ته د يو لوئ لښکر سره د
لکيس نه يروشلم ته لاړ شی. نو آفسر په هغه سړک ودرېدو چرته به چې دهوبيانو جامې
وينځلې، دا د هغه وَلې سره نزدې وو چې په دې کښې د بره ډنډ نه اوبهٔ راتلې. ۳ نو د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یهوداه درې کسان د هغهٔ سره مِلاویدو له راغلل یعنې، د خِلقیاه زوئ اِلیاقیم، چې هغه د
محل مشر وو، شبناه، د دربار منشی، او د آسف زوئ یوآخ، چا چې د هغه زمانې تاریخ
لیکلو. ۴ د اسور آفسر هغوئ ته ووئیل چې، ”حزقیاه ته ووایه چې، لوئ بادشاه د
اسور بادشاه وائی چې تهٔ په څهٔ باندې دومره زړَور یې؟ ۵ ستا خیال دا دے څهٔ چې
تشې خبرې د فوجی طریقه کار او طاقت ځائ نیولے شی؟ د اسوریانو خِلاف په بغاوت
کښې به څوک ستا په خیال ستا مدد وکړی؟ ۶ تهٔ د مِصر نه طمع کوې؟ دا به داسې
وی لکه چې د لوخې د پانې نه امسا جوړه کړې او چې کله په دې باندې زور واچوې نو
دا به ستا لاس غوخ او زخمی کړی. کله چې څوک د مِصر په بادشاه فِرعون بهروسه
وکړی نو هغه هم دغه شان دے. ۷ شاید چې تاسو ووایئ، مونږ په مالِک خُدائ په
خپل خُدائ پاک باندې بهروسه لرو. خو دا څنګه کېدے شی؟ ولې چې حزقیاه خو د
مالِک خُدائ علاقائی عبادتخانې او قربانګاه ختمې کړې، کله چې هغهٔ د یهوداه او
یروشلم خلقو ته ووئیل چې صِرف د یروشلم قربانګاه وړاندې عبادت کوئ. ۸ نو
اوس راشئ او زمونږ د مالِک د اسور بادشاه سره یوه سودا وکړئ، زهٔ به تاسو له دوه
زره آسونه درکړم خو کهٔ تاسو د دې دپاره دومره سړی پېدا کړل چې په دې باندې
سورلی وکړی. ۹ تهٔ زما د مالِک د اسور د بادشاه د یو وړوکی آفسر مقابله هم نهٔ شې
کولے نو بیا د مِصر په جنګی ګاډی او آسونو باندې د سوَرو کسانو فائده څهٔ؟ ۱۰ ستا
خیال دا دے څهٔ چې ما د مالِک خُدائ د مدد نه بغیر ستا په مُلک حمله کړې ده او ستا
مُلک مې تباه کړے دے؟ ما ته مالِک خُدائ په خپله فرمائیلی دی چې په دې باندې حمله
وکړه او تباه یې کړه.“ ۱۱ نو اِلیاقیم، شبناه او یوآخ هغه آفسر ته ووئیل، ”صاحبه، تهٔ
زمونږ سره په آرامی ژبه کښې خبرې کوه ځکه چې مونږ په دې ښهٔ پوهیږو. مونږ سره په
عبرانی کښې خبرې مهٔ کوه، ځکه چې په دېوال باندې ټول خلق دا اوری.“ ۱۲ هغهٔ ورته
په جواب کښې ووئیل، ”ستاسو خیال دا دے څهٔ چې زما بادشاه دا پېغام صرف تاسو
او ستاسو بادشاه له رالیږلے دے څهٔ؟ نه، زهٔ هغه خلقو ته هم وایم کوم چې په دېوال
ناست دی. ستاسو په شان به هغوئ هم خپل غُل وخوری او خپلې متیازې به وڅښی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ بیا هغه آفسر ودرېدو او په عبرانئ ژبې يې آواز وکړو، "د اسور بادشاه پيغام په
کولاو غوږونو واورئ. ۱۴ هغه تاسو له خبردارے درکوی چې حزقياه مۀ پرېږدئ چې
دوکه درکړی. حزقياه تاسو نۀ شی بچ کولے. ۱۵ او هغه دې تاسو په دې دوکه نۀ کړی
چې په مالِک خُدائ يقين وکړئ. دا خيال مۀ کوئ چې مالِک خُدائ به ضرور تاسو بچ
کړی او چې هغه به زمونږ اسوری لښکر ستاسو د ښار قبضه کولو نه ايسار کړی. ۱۶
حزقياه ته غوږ مۀ نيسئ. د اسور بادشاه تاسو له حُکم درکوی چې ما سره صُلح وکړئ
د ښار نه راوځئ او ما له راشئ. نو بيا به په تاسو کښې هر يو کس خپلو د انګورو باغونو
نه انګور خورئ او د خپلو اينځرانو د ونو نه به اينځر خورئ او د خپلو کُوهو نه به اوبۀ
څښئ. ۱۷ بيا به زۀ راشم او تاسو به يو داسې مُلک ته بوځم لکه چې ستاسو د مُلک په
شان به وی، هلته به غله، مے، روټئ او د انګورو باغونه وی. ۱۸ حزقياه دې درنه کم
عقل جوړ نۀ کړی چې دا خيال مو راولی چې مالِک خُدائ به تاسو بچ کړی. د نورو
قومونو خُدايانو د هغوئ مُلکونه د اسور بادشاه نه بچ کړی دی څۀ؟ ۱۹ د حمات او
ارفاد خُدايان اوس چرته دی؟ د سفروائم خُدايان چرته دی؟ ولې کوم معبود سامريه زما
نه بچ کړے شو څۀ؟ ۲۰ د هر مُلک خُدايانو کله هم خپل مُلک زمونږ د سلطان نه بچ
کړے دے څۀ؟ نو بيا تاسو دا سوچ په څۀ باندې کوئ چې مالِک خُدائ به يروشلم زما
نه بچ کړی؟" ۲۱ خو خلق خاموش وُو او يوه خبره يې هم نۀ کوله ځکه چې حزقياه
حُکم ورکړے وو چې، "هغۀ له جواب مۀ ورکوئ." ۲۲ نو د خِلقياه زوئ اِلياقيم، چې
هغه د محل مشر وو، شبناه، د دربار منشی، او د آسف زوئ يوآخ، کوم چې د تاريخ
ليکونکو مشر وو د خفګان نه خپلې جامې وشلولې او حزقياه له واپس لاړل. او چې د
اسور آفسر هغوئ ته څۀ وئيلی وُو هغه يې ورته ووئيل.

## د حزقياه د حضرت يشعياه سره مشوره کول

۳۷ ۱ خنګه چې حزقياه بادشاه د هغوئ بيان واورېدو، نو هغۀ د خفګان نه خپلې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جامې وشلولې، د ټاټ جامې يې واغوستلې او د مالِک خُدائ کور ته ننوتو. ٢ هغهٔ د
محل مشر آفسر اِلياقيم، د دربار منشى شبناه او مشران اِمامان، د آموص زوئ يشعياه
پېغمبر له ولېږل. هغوئ هم د ټاټ جامې اغوستې وې. ٣ هغوئ هغهٔ ته ووئيل، ”حزقياه
بادشاه فرمائى، نن د خفګان، ملامتيا او شرم ورځ ده. مونږ د هغه ښځې په شان يُو چې
ماشوم يې پېدا کېدونکے وى، خو د پېدا کېدو زور نهٔ لرى. ٤ شايد چې مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک به هغه د مشر آفسر خبرې اورېدلې وى ځوک چې خپل مالِک د
اسور بادشاه رالېږلے وو چې د ژوندى خُدائ پاک په حق کښې يې ګستاخى کړې ده.
کله چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک اورېدلى دى نو کېدے شى چې هغهٔ ته د دې
سزا ورکړى څهٔ چې هغهٔ وئيلى دى. نو د هغوئ دپاره دُعا کوئ کوم خلق چې تر اوسه
پورې ژوندى پاتې دى.“ ٥ کله چې يشعياه ته د حزقياه بادشاه پېغام مِلاو شو، ٦ نو
هغهٔ دا جواب ورولېږلو، ”مالِک خُدائ تا ته فرمائى چې کومې خبرې تا اورېدلې دى د
هغې په وجه مهٔ يرېږه، هغه خبرې چې د اسور بادشاه نوکرانو کړې دى په هغې کښې يې
زما، يعنې د مالِک خُدائ ګستاخى کړې ده. ٧ ګوره، زهٔ به د هغهٔ ذِهن بدل کړم او
چې کله هغه يوه افواه واورى نو هغه به خپل مُلک ته راواپس شى، او هلته به يې په تُوره
باندې د وژلو سبب وګرځم.“

## د اسوريانو بله دهمکى ورلېږل

٨ د اسور مشر آفسر خبر شو چې بادشاه د لکيس نه تلے دے او د لِبناه ښار خِلاف
جنګ کوى، نو هغه هلته ورَغلو چې مشوره ترې واخلى. ٩ بيا اسوريانو بادشاه له دا
خبر ورورسېدو چې مِصرے لښکر په هغوئ باندې د حملې کولو دپاره راروان دے چې
مشرى يې د ايتهوپيا ترهاقه بادشاه کوى. کله چې هغه د دې نه خبر شو، نو هغهٔ د يهوداه
بادشاه حزقياه له دا پېغام ولېږلو ١٠ چې هغهٔ ته داسې ووائى، ”په کوم خُدائ چې تاسو
يقين کوئ هغهٔ تاسو ته وئيلى دى چې يروشلم به زما په قبضه کښې نهٔ راځى، خو چې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغۀ باندې دوکه نۀ شئ. ۱۱ ګورئ، تاسو ته پته ده چې د اسور بادشاهانو ټولو مُلکونو
سره څۀ کړی دی، هغوئ يې مکمل تباه کړی دی، نو تاسو به څنګه خلاص شئ؟ ۱۲
زما پلار نيکۀ د جوزان، حاران او رصف ښارونه تباه کړل، او د بيت‌عدن خلق يې ووژل
چې کوم په تلسار کښې اوسېدل، او يو قوم هم خپلو معبودانو بچ نۀ کړے شو. ۱۳ د
حمات، ارفاد، سفروائم، هينع او عِواه ښارونو بادشاهان چرته دی؟“ ۱۴ حزقياه بادشاه
د پېغام وړونکو نه خط واخستلو او وې ولوستلو. بيا هغه د مالِک خُدائ کور ته لاړو او
خط يې هلته د مالِک خُدائ په حضور کښې کېښودو، ۱۵ او حزقياه مالِک خُدائ ته
دُعا وکړه چې، ۱۶ ”اے مالِکه خُدايه، ربُ الافواجه، د بنی اِسرائيلو خُدايه پاکه، ستا
تخت د وزرو والا مخلوق دپاسه دے، يواځې تۀ هغه خُدائ پاک يې، چې د دُنيا په ټولو
بادشاهانو حکومت کوې. تا زمکه او آسمان پيدا کړی دی. ۱۷ اوس، مالِکه خُدايه،
مونږ ته غوږ ونيسه او چې په مونږ څۀ کيږی هغې ته وګوره. هغه ټولې خبرې واوره چې
سينحرب يې ژوندی خُدائ پاک ته د بې‌عزتۍ دپاره کوی. ۱۸ اے مالِکه خُدايه، دا رښتيا
دی چې د اسور بادشاهانو ډېر قومونه تباه کړی دی او د هغوئ زمکې يې شاړې کړې
دی، ۱۹ او د هغوئ معبودان يې سوزولی دی، خو دا رښتينې خُدايان نۀ وُو او تش د
لرګی او کاڼی بُتان وُو چې انسانانو جوړ کړی وُو. ۲۰ نو اوس، اے مالِکه خُدايه،
زمونږ خُدايه پاکه، مونږ د اسوريانو بادشاه نه بچ کړه، نو داسې د دُنيا ټولو قومونو ته به
پته ولګی چې صرف تۀ خُدائ پاک يې.“

## بادشاه ته د يشعياه پېغام

۲۱ بيا د آموص زوئ يشعياه، حزقياه له يو پېغام ولېږلو چې، ”مالِک خُدائ د بنی
اِسرائيلو خُدائ پاک فرمائی، په دې وجه چې تاسو ما ته د اسور د بادشاه سينحرب په
حقله دُعا کړې ده، ۲۲ دا د مالِک خُدائ کلام دے چې د هغۀ خلاف يې ووئيلو، صيون
لور تا ته سپک ګوری او درپورې خندا کوی، يېغله صيون لور د خندا نه سر خوځوی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې کله تاسو تښتئ. ۲۳ تا چا پورې خندا وکړه او د چا بې‌عزتی دې وکړه؟ تا د چا
خلاف آواز اوچت کړو؟ تا چا ته د غرور په نظر وکتل؟ دا د بنی اِسرائیلو مقدس ذات
وو. ۲۴ د خپلو پېغام وړونکو په ذریعه تا د مالِک خُدائ سپکاوے کړے دے. تا دا لافې
وهلې چې ما د بې‌شمېره جنګی ګاډو سره د لبنان د ټولو نه اوچت غرونه فتح کړی دی.
ما هلته د دِیار لوړې ونې او د نختر ښې ونې راوغورزولې دی او زۀ د ځنګلو هغه ګڼو
برخو ته رسېدلے یم. ۲۵ ما کوهی وکنستل او په پردو مُلکونو کښې مې اوبۀ وڅښلې او
زما فوجیانو د پښو سره د نیل دریاب اوچ کړو. ۲۶ ولې تا ته پته نۀ وه چې ما د دې هر
څۀ منصوبه ډېره د مخکښې نه جوړه کړې وه؟ او اوس مې داسې وکړل او تا له مې دا
طاقت درکړو چې د پَخو دېوالونو ښارونه د خاورو په ډېرو بدل کړې. ۲۷ کوم خلق چې
هلته اوسېدل هغوئ بې‌وسه وُو، هغوئ یرېدلی وُو او مازغو یې کار نۀ کولو. هغوئ د
واښو په شان کمزوری وُو، د هغه واښو په شان چې په چت باندې په خپله رازرغون
شوی وی او چې کله ګرمه هوا وچلیږی نو یک دم مړاوی شی. ۲۸ خو ما ته ستا د هر
څۀ پته ده، چې څۀ کوې او چرته ځې راځې. ما ته پته ده چې تۀ زما خِلاف څومره
غضبناک یې. ۲۹ ستا د غضب او غرور نه زۀ خبر یم او اوس به زۀ ستا په پوزه کښې
پېزوان او ستا په خولۀ کښې قیضه واچوم او چې په کومه لار راغلے یې نو په هغې به
دې واپس ولېږم.“ ۳۰ بیا یشعیاه حزقیاه بادشاه ته وفرمائیل، ”زۀ چې څۀ وایم هغه
رښتیا دی او دا د هغې ثبوت دے. په دې کال او په بل کال به تۀ صِرف هغه غله خورې
کومه به چې په خپله شوې وی، خو په دریم کال به تۀ غله کرې او فصلونه به رېبې او د
انګورو باغونه به کرې او د هغې انګور به خورې. ۳۱ په یهوداه کښې چې کوم کسان
ژوندی پاتې دی، نو هغوئ به د هغه بوټو په شان آباد شی چې جرړې یې په زمکه کښې
ژورې ځی او مېوه نیسی. ۳۲ نو ځکه د یروشلم نه به زما باقی ژوندی پاتې خلق راوځی،
او د صیون په غرۀ باندې ژوندی پاتې خلق به خوارۀ شی. د مالِک خُدائ ربُ الافواج
غیرت به دا هر څۀ کوی. ۳۳ مالِک خُدائ د اسور بادشاه په حقله داسې فرمائیلی دی،
هغه به دې ښار ته نۀ ننوځی او نۀ به د دې خِلاف یو غشے وولی. یو فوجی به هم د ډال

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره دې ښار ته نږدې رانۀ شي او د دې ګېرچاپېره محاصرې دپاره به د خاورو ډېرى
جوړ نۀ کړے شى. ۳۴ هغه چې په کومه لار راغلے وى نو په هغې به واپس لاړ شى او
دې ښار ته به نۀ شى ننوتے. مالِک خُدائ داسې فرمائيلى دى. ۳۵ زۀ به د خپل ځان او
خپل خِدمت کوونکى داؤد د خاطره د دې ښار دِفاع او حِفاظت کوم، او دا به بچ کوم.“
۳۶ په هغه شپه د مالِک خُدائ يوه فرښته د اسوريانو خېمو ته ننوتله او يو سل او پينځۀ
اتيا زره فوجيان يې ووژل. او چې کله سحر وختى خلق پاڅېدل نو هر طرف ته مړى
پراتۀ وُو. ۳۷ بيا د اسور بادشاه سينحرب خېمې وويستلې او واپس خپل مُلک ته لاړو.
هغه نينوه ته ورسېدو او هلته ايسار شو. ۳۸ يوه ورځ چې هغۀ د خپل خُدائ نِسروک په
عبادتخانه کښې عبادت کولو، نو د هغۀ دوو زامنو ادرمُلِک او شراضر هغه د خپلو تُورو
سره ووژلو او هغوئ بيا د اراراط مُلک ته وتښتېدل. د هغۀ يو بل زوئ اسرحدون د هغۀ
نه پس بادشاه جوړ شو.

## د حزقياه بادشاه بيمارېدل او بيا روغېدل

۳۸ ۱ په هغه ورځو کښې حزقياه بادشاه دومره بيمار شو چې مرګى حاله شو. د
آموص زوئ يشعياه پېغمبر هغۀ سره مِلاوېدو له ورَغلو او هغۀ ته يې وفرمائيل، ”مالِک
خُدائ تا ته فرمائى چې تۀ خپل کارونه سر ته ورسوه ځکه چې تۀ به نۀ ښۀ کېږې. د
مرګ تيارے وکړه.“ ۲ د دې اورېدو سره حزقياه مخ دېوال ته واړولو او مالِک خُدائ
ته يې سوال وکړو، ۳ ”مالِکه خُدايه، هغه راياد کړه، چې ما په وفادارۍ سره ستا
خِدمت کړے دے او هغه عمل مې کړے دے چې ستا په نظر کښې صحيح وى.“ او هغۀ
ډېر په چغو چغو وژړل. ۴ بيا د مالِک خُدائ کلام په يشعياه نازل شو چې، ۵
”حزقياه له واپس لاړ شه او هغۀ ته ووايه، ما يعنې مالِک خُدائ، ستا د پلار نيکۀ داؤد
خُدائ پاک ستا دُعا اورېدلې ده او ستا اوښکې مې ليدلى دى. زۀ به تا پينځلس کاله نور
ژوندے وساتم. ۶ او زۀ به تا او د يروشلم دا ښار د اسور بادشاه نه بچ کړم او هم زۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به د دې ښار حِفاظت کوم.“ ۷ دا پېغام يې حزقياه ته واورولو او يشعياه ورته دا هم
وفرمائيل، ”مالِک خُدائ به درته يوه نښه وښائى چې هغه به خپله وعده پوره کوى. ۸
ګوره، زۀ به د احاز د نمر د ګړۍ سورے لس قدمه وروستو بوځم.“ نو هم داسې وشول
سورے لس قدمه وروستو لاړو. ۹ کله چې حزقياه د بيمارۍ نه روغ شو، نو هغۀ دا
حمدوثناء وليکل، ۱۰ ما وئيل چې د ژوند په ښۀ دور کښې زۀ د مړو دُنيا ته روان يم،
زما د ژوند باقي ټول کالونه زما نه اخستے شوى دى. ۱۱ ما وئيل چې د ژوندو په دې
دُنيا کښې به زۀ بيا هيڅکله مالِک خُدائ ونۀ وينم او نۀ به د دې دُنيا په اوسېدونکو کښې
يو سړے ووينم. ۱۲ زما ژوند په ختمېدو وو، د شپانو د هغه خېمې په شان چې راکوزه
کړے شوې وى، د هغه قالين په شان چې مکمل کړے شوے وى او د کړۍ نه کټ
کړے شوے وى. ما وئيل چې خُدائ پاک زما ژوند ختموى. ۱۳ ټوله شپه ما د درد په
وجه چغې وهلې، دا داسې ؤو لکه چې زمرے زما هډُوکى ماتوى. ما وئيل چې خُدائ
پاک زما ژوند ختموى. ۱۴ زما آواز نرے او کمزورے شوے وو، د طوطاګرکى او
بلبلې په شان مې چينګارے کولو، او د ګوګوشتکې په آواز مې فرياد کولو. آسمان ته په
کتلو سره زما سترګې سترې شوې. اے مالِکه خُدايه، په ما باندې ظلم کيږى. زما مدد
وکړه. ۱۵ خو زۀ څۀ وئيلے شم؟ مالِک خُدائ ما سره خبرې کړې دى او هغۀ دا هر
څۀ په ما پخپله کړى دى. اوس به زۀ خپل ژوند په عاجزۍ سره تېروم ځکه چې زۀ په دې
پرېشانۍ باندې غالب شوے يم. ۱۶ اے مالِکه خُدايه، ستا تنبيه ښۀ ده، ځکه چې هم دا
انسان د صحت او ژوند طرف ته بوځى. تۀ ما روغ کړه او ژوندے مې پرېږده. ۱۷ يقيناً
چې دا سختى زما دپاره ښۀ وه. ځکه چې تا زۀ د مرګ نه بچ کړم او زما ټول ګناهونه دې
شاته وغورزول. ۱۸ خو په قبر کښې هيڅ څوک ستا ثناء صِفت نۀ شى کولے، مړى
ستا د وفادارۍ طمع نۀ شى لرلے. ۱۹ صرف ژوندى ستا ثناء صِفت کولے شى، لکه
څنګه چې زۀ نن ستا ثناء صِفت کوم. پلار خپلو بچو ته ستا وفادارى ښائى. ۲۰ مالِک
خُدائ زما روغولو ته تيار دے. مونږ به رباب غږوو او ستا ثناء صِفت به کوُو، او چې
ترڅو پورې مونږ ژوندى يُو نو ستا په کور کښې به ستا ثناء صِفت کوُو. ۲۱ يشعياه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حزقیاه نوکرانو ته فرمائیلی وُو، ”د اینځر نه مرهم جوړ کړئ او په ناسور یعنې دانه يې
ورله وتړئ، نو هغه به روغ شی.“ ۲۲ او حزقیاه تپوس کړے وو، ”کومه نښه به دا ثابته
کړی چې زۀ به بیا د مالِک خُدائ کور ته لاړ شم؟“

## د بابل پیغام وړُونکی

۳۹ ۱ تقریباً هم په هغه وخت د بابل بادشاه د بلدان زوئ مرودک‌بلدان خبر شو
چې حزقیاه بادشاه بیمار وو او اوس روغ شوے دے، نو مرودک‌بلدان ورله یو خط او
یوه تُحفه ولېږله. ۲ حزقیاه پېغام وړونکو ته په خیر راغلے ووئیل او هغوئ ته يې خپل
سپین زر، سرۀ زر، خپلې مصالحې او قیمتی تېل او ټول فوجی سامان او وسله وښودل.
د هغۀ د ګودام په کوټو کښې یا د هغۀ د بادشاهۍ په بل ځائ کښې هم داسې څۀ پاتې نۀ
شول چې هغۀ ورته ښودلی نۀ وُو. ۳ بیا یشعیاه پېغمبر حزقیاه بادشاه له لاړو او تپوس
يې ترې نه وکړو چې، ”دا سړی د کوم ځائ نه راغلی دی او هغوئ تا ته څۀ ووئیل؟“
حزقیاه ورته وفرمائیل، ”هغوئ د یو لرې مُلک، بابل نه راغلی دی.“ ۴ هغۀ ورته
وفرمائیل، ”هغوئ په محل کښې څۀ ولیدل؟“ حزقیاه ورته وفرمائیل چې، ”هغوئ هر څۀ
ولیدل. د ګودام په کوټو کښې داسې څۀ نشته چې ما ورته ښودلی نۀ وی.“ ۵ بیا
یشعیاه بادشاه ته وفرمائیل، ”مالِک خُدائ ربُ الافواج داسې فرمائی، ۶ یو داسې
وخت راروان دے چې ستا په محل کښې هر یو څیز، چې ستا پلار نیکۀ تر ننه پورې
جمع کړی دی، نو هغه به بابل ته یوړے شی. هیڅ به هم پاتې نۀ شی. ۷ ستا د خپل
اولاد نه به څۀ بوتلے شی او هغوئ به د دې دپاره خصیان کړے شی چې د بابل بادشاه
په محل کښې خِدمت کوی.“ ۸ نو حزقیاه بادشاه د دې په مطلب پوهه شو چې د هغۀ
په ټول ژوند کښې به امن او سلامتیا وی، نو هغۀ ورته وفرمائیل، ”تا چې ما له د مالِک
خُدائ نه کوم پېغام راوړے دے هغه ښۀ دے.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خُدائ پاک د خلقو دپاره تسلی

۴۰ ۱ خُدائ پاک فرمائی، ”زما خلقو له تسلی ورکړئ، زما خلقو له تسلی ورکړئ.
۲ د یروشلم خلقو سره ډیرې په نرمه ژبه خبرې کوئ. او هغوئ ته ووایئ چې ستاسو
د خفګان ورځې ختمې شوې او اوس ستاسو ګناهونه معاف شوی دی. ځکه چې د
مالِک خُدائ د لاسه هغوئ ته د خپلو ګناهونو یو په دوه سزا مِلاو شوې ده.“ ۳ په
بیابان کښې د نعرې وهونکی آواز دے، ”د مالِک خُدائ دپاره په بیابان کښې لار جوړه
کړئ. په صحرا کښې هغهٔ ته لارې نیغې کړئ. ۴ هره دره به ډکه شی، هره غونډئ او
غر به هوار شی. کاږهٔ به نیغ کړے شی، او ناهمواره به هواره کړے شی. ۵ نو د مالِک
خُدائ جلال به راڅرګند شی، او ټول بنی آدم به هغه په شریکه وګوری. مالِک خُدائ په
خپله دا فرمائیلی دی.“ ۶ یو آواز ووئیل، ”چغه ووهه.“ نو ما تپوس وکړو، ”زهٔ څهٔ
چغه ووهم؟“ دا چې بنی آدم د واښو په شان دی، او د هغوئ ښائست د ځنګلی ګل په
شان دے. ۷ کله چې د مالِک خُدائ هوا وچلیږی نو واښهٔ اوچ شی او ګلونه مړاوی
شی، نو داسې دا د خلقو دپاره هم ده. ۸ نو، واښهٔ اوچ شی او ګلونه مړاوی شی، خو د
مالِک خُدائ کلام د همیشه دپاره قائم وی. ۹ اے صیونه، یو اوچت غر ته وخیژه او
اعلان وکړه. اے یروشلمه، د اوچت آواز سره چغه ووهه، او یریږئ مهٔ. د یهوداه ښاریې
ته ووایئ چې، ”ستاسو خُدائ پاک دا دے راروان دے.“ ۱۰ ګورئ، مالِک خُدائ تعالیٰ
لوئ قدرت سره راروان دے، هغه به د طاقت سره حکومت وکړی، د هغهٔ اجر د هغهٔ
سره دے او د هغهٔ انعام د هغهٔ نه مخکښې مخکښې روان دے. ۱۱ هغه به د یو شپون په
شان د خپلو ګډو ساتنه کوی، هغه به ګډُوری په خپل غیږ کښې وړی او زړهٔ سره به یې
نزدې نیولی وی او ګډې به یې ډیر په خیال سره ځان سره روانې کړې وی.

## د خُدائ پاک ثانی نشته

۱۲ سمندر څوک په موټی کښې نیولے شی، یا څوک آسمان د لاسونو په ذریعه ناپ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولے شی؟ د زمکې د خاورې وزن چا معلوم کړے دے یا څوک په تله غرونه او د
غرونو غونډۍ تللے شی؟ ۱۳ مالِک خُدائ ته څوک ښودلے شی چې داسې کوه؟ هغهٔ
ته څوک ښودنه کولے شی یا مشوره ورکولے شی؟ ۱۴ ولې مالِک خُدائ ته د چا د
مشورې ضرورت وی څهٔ؟ چې ورته پوهه ورکړی او د صحیح کارونو طریقه ورته
وښائی؟ یا کله چا هغهٔ ته عِلم ورکړے دے چې د ښهٔ عِلم تېرولو چل ورته وښائی؟ ۱۵
نه، یقیناً چې قومونه د مالِک خُدائ دپاره هیڅ هم نهٔ دی، په بالټۍ کښې د اوبو د یو
څاڅکی یا په تله کښې د دوړې نه زیات نهٔ دی، هغه ټوله دُنیا داسې اوچتوی لکه چې د
شګې یوه دانه وی. ۱۶ د لبنان په ځنګلو کښې ټول ځناور خُدائ پاک ته د قربانۍ کېدو
دپاره لږ دی، او د دې ځنګلونو ونې د سوزېدونکو نذرانو د اور بلولو دپاره ډېرې کمې
دی. ۱۷ د هغهٔ په وړاندې ټول قومونه هیڅ هم نهٔ دی، د هغهٔ په نظر کښې هغوئ نشت
دی، هیڅ څیز هم نهٔ دی. ۱۸ د خُدائ پاک مثال د چا سره ورکولے شی؟ تهٔ به څنګه
ووائې چې د هغهٔ صورت څنګه دے؟ ۱۹ کاریګر خو اول بُت جوړ کړی، بیا زرګر په
هغې باندې سرهٔ زر وخېژوی او د سپینو زرو په زنځیرونو باندې یې ښائسته کړی. ۲۰
کوم سړے چې سرهٔ زر یا سپین زر نهٔ شی اخستلے هغه به داسې لرګی خوښوی چې نهٔ
ورَستیږی. هغه یو ماهِر کاریګر لټوی چې یو داسې بُت جوړ کړی چې نهٔ غورزیږی. ۲۱
تا ته پته نشته څهٔ؟ تا نهٔ دی اورېدلی څهٔ؟ تا ته د شروع نه نهٔ وُو وئیلے شوی څهٔ؟ د دُنیا
د شروع نه واخله تر اوسه پورې تهٔ پوهه نهٔ شوې؟ ۲۲ خُدائ پاک د زمکې نه بره په
خپل تخت ناست دے، او هلته نه خلق لکه د مُلخانو په شان ښکاری. هغهٔ آسمان د
پردې په شان خور کړے دے، د هغه خېمې په شان چې د اوسېدو دپاره وی. ۲۳ هغه
طاقتور حکمرانان راټیټوی او په نشت باندې یې بدلوی. ۲۴ هغوئ د وړو بوټو په شان
دی، چې اوس اوس راشنهٔ شوی وی او لږې لږې جرړې یې کړې وی. کله چې مالِک
خُدائ هوا راولېږی، نو دا اوچې شی او د خسنې په شان والوځی. ۲۵ د هغه مقدس
ذات مثال د چا سره ورکولے شی؟ د هغهٔ په شان بل څوک شته؟ ۲۶ آسمان ته وګوره.
تا له چې په نظر کوم ستورې راځی دا چا پیدا کړی دی؟ دا هغه ذات دے چې دا یې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لښکر په شان روان کړی دی، هغهٔ ته پته ده چې دا ستوری څومره دی او هر یو ته خپل
خپل نوم اخلی. د هغهٔ قوت دومره زیات دے، چې د دې نه یو هم نهٔ دے کم شوے. ۲۷
نو اے بنی اِسرائیلو، تاسو شکایت ولې کوئ چې مالِک خُدائ ستاسو په تکلیفونو باندې
خبر نهٔ دے یا چې ستاسو سره بې اِنصافی کیږی نو تاسو وایئ چې هغه ستاسو خیال نهٔ
ساتی؟ ۲۸ تاسو ته پته نشته څهٔ؟ تاسو اورېدلی نهٔ دی؟ چې مالِک خُدائ د همېشه دپاره
خُدائ پاک دے، هغهٔ ټوله دُنیا پیدا کړې ده. هغه هیڅکله نهٔ ستړے کیږی او نهٔ ستومانه
کیږی. او د هغهٔ د حکمت خاتمه نشته. ۲۹ هغه کمزورو او ستړو له طاقت ورکوی.
۳۰ نو ځوانان هم ستړی ستومانه شی، او خراب راوغورزیږی. ۳۱ خو چې څوک په
مالِک خُدائ باندې یقین ساتی نو هغوئ ته به یو نوے طاقت مِلاو شی. هغوئ به داسې
اوچت الوځی لکه چې د باز وزر ورته لګېدلی وی، هغوئ به منډه وهی او نهٔ به ستړی
کیږی، هغوئ به پیدل ګرځی او نهٔ به ستومانه کیږی.

## د خُدائ پاک د بنی اِسرائیلو اعتباری کول

۴۱ ۱ اے د لرې مُلکونو خلقو، خاموشۍ سره ما ته غوږ ونیسئ. تیار شئ چې په
عدالت کښې خپله مقدمه پیش کړئ، تاسو ته به د خبرو کولو موقع مِلاو شی. راځئ چې
په یو ځائ دا فیصله وکړُو چې څوک په حقه دی. ۲ هغه څوک وو چا چې فتح
کوونکے د نمرخاتهٔ نه راوستلو، او چې چرته هم تلو نو هغهٔ له به یې فتح ورکوله؟ هغهٔ له
به په قومونو او بادشاهانو چا فتح ورکوله؟ د هغهٔ تُورې به هغوئ داسې وهل لکه چې
خاوره وی. د هغهٔ غشو به هغوئ د بوسو په شان خوارهٔ وارهٔ کړل. ۳ هغه ورپسې
دے او ښهٔ په خیر سره روان دے، دومره تیز دے چې پښې یې په زمکه پوره نهٔ لګیږی.
۴ هغه څوک دے چې داسې یې وکړل؟ څوک دے چې د شروع پیړۍ په پیړۍ آوازونه
کوی؟ زهٔ، مالِک خُدائ د ابتدا نه موجود یم، او په انتها کښې به هم موجود یم. ۵ د
لرې مُلکونو خلقو دا لیدلی دی او یرېدلې دی، د دُنیا لرې علاقې لړزیږی. او هغوئ یو بل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته راجخت شی او رانزدې شی. ۶ هغوئ د یو بل مدد کوی او یو بل ته وائی چې،
"حوصله وکړئ." ۷ ترکاڼ د زرګر حوصله افزائی کوی، او څوک چې بُت په ټکولو
باندې هواروی د هغه سړی حوصله افزائی کوی څوک چې دا په مېخونو یو ځائ کوی
او وائی، "اوس ټیک دے." او بیا دا بُت هغوئ په مېخونو باندې مضبوطوی چې ونۀ
غورزیږی. ۸ خو اے زما خِدمتګاره، بنی اِسرائیله، زما د دوست اِبراهیم اولاده. تاسو
هغه خلق یئ چې ما غوره کړی یئ، ۹ تاسو ما د دُنیا د سرونو نه راوستلئ، ما تاسو د
دې لرې ګوټونو نه راوغوښتلئ او ما تاسو ته وفرمائیل، "تاسو زما خِدمت کوونکی یئ.
ما تاسو غوره کړئ او رد مې نۀ کړئ." ۱۰ یرېږئ مۀ، زۀ ستاسو مل یم. زۀ ستاسو
خُدائ پاک یم، د څۀ نه هم مۀ وارخطا کېږئ. زۀ به تاسو مضبوط کړم او طاقت به
درکړم، زۀ به په خپل زورَور ښی لاس سره ستاسو حِفاظت کوم. ۱۱ څوک چې تاسو
ته غصه وی نو د شکست د شرم سره به مخ شی. څوک چې درسره جنګ کوی نو
هغوئ به نیست و نابود شی. ۱۲ تاسو به هغه ظالمان دشمنان لټوئ، خو پېدا به یې نۀ
کړئ ځکه چې هغوئ به د زمکې د مخ نه ورک شی. ۱۳ زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک یم، زۀ تاسو تکړه کوم او درته وایم چې، "مۀ یرېږئ، زۀ به ستاسو مدد کوم." ۱۴
مالِک خُدائ فرمائی، "اے بنی اِسرائیلو، تاسو واړۀ او کمزوری یئ، خو یرېږئ مه، زۀ به
ستاسو مدد کوم. زۀ د بنی اِسرائیلو مقدس ذات یم، زۀ هغه هستی یم څوک چې تاسو بچ
کوی. ۱۵ ګورئ، زۀ به تاسو د درمند د تختې په شان جوړ کړم، چې غاښونه یې تېرۀ
وی. تاسو به غرونه ذرې ذرې کوئ او تباه کوئ به یې، د غرونو غونډۍ به لکه د بوسو په
شان شی. ۱۶ تاسو به دا هوا ته وُلئ، باد به دا اخوا وړی، او طوفان به یې خوارۀ وارۀ
کوی. نو بیا به تاسو خوشحاله یئ ځکه چې زۀ ستاسو مالِک خُدائ یم، تاسو به زما ثناء
صِفت کوئ، ځکه چې زۀ د بنی اِسرائیلو مقدس ذات یم. ۱۷ کله چې غریبانان او
ضرورتمند اوبۀ لټوی، خو مومی یې نه، او د هغوئ مرئ د تندې نه اوچې شی، نو بیا به
زۀ، مالِک خُدائ د هغوئ سوال قبول کړم، زۀ، د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک به هغوئ
هیڅکله پرې نۀ ږدم. ۱۸ زۀ به د خُشکو غرونو په مینځ کښې سیندونه روان کړم او په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وادیانو کښې به د اوبو چينې روانې کړم. زۀ به صحرا د اوبو په تالابونو بدله کړم او
اوچه زمکه به په بهېدونکو چينو بدله کړم. ۱۹ زۀ به په صحرا کښې د دِيار ونې راشنې
کړم، او د کيکر، د سر درو ونې او د زيتُونو ونې به راشنې کړم. په خُشک مُلک کښې به
ځنګل راوټوکېږى، د نخترو، د صُندل د ونو او د سبر ونو ځنګل به راوټوکېږى. ۲۰ زۀ
به دا د دې دپاره کوم چې خلق دا وګورى او پوهه شى، چې هغوئ پرې غور وکړى او
پته ورته ولګى چې د مالِک خُدائ قوت دا کړې دى. او د بنى اِسرائيلو مقدس ذات دا
پېدا کړې دى.“

## د بُتانو څۀ حيثيت نۀ وى

۲۱ مالِک خُدائ فرمائى، ”تاسو د خپلو معبودانو په حق کښې معامله وړاندې کړئ.“ د
اِسرائيل بادشاه فرمائى، ”خپل ښۀ دليلونه پېش کړئ. ۲۲ راشئ او پېشګوئې ورکړئ
چې څۀ به کيږى، نو چې پته راته ولګى کله به داسې وشى. عدالت ته د تېرې زمانې
واقعاتو وضاحت وکړئ، او مونږ ته ووايئ چې د دې څۀ مطلب دے. ۲۳ مونږ ته
ووايئ چې په راتلونکى وخت کښې به څۀ کيږى، نو بيا به مونږ ته پته ولګى چې تاسو
خدايان يئ. څۀ نه څۀ خو وکړئ کنه کۀ هغه ښۀ وى او کۀ بد، چې مونږ ګبراؤ شُو او
ويرېږو. ۲۴ خو تاسو هيڅ هم نۀ يئ او ستاسو کار هم فضول دے، څوک چې تاسو
غوره کړى هغوئ د نفرت قابل دى. ۲۵ ما يو سړے د شمال طرف نه راپارولے دے نو
هغه راروان دے، هغه زما د نوم درناوے کوى او هغه د نمرخاتۀ طرف نه راروان دے.
هغه به په حکمرانانو داسې ګرځى لکه چې په خټو ګرځى داسې لکه چې کُلال په خټه پښې
ږدى. ۲۶ د شروع نه چا دا اعلان وکړو نو چې مونږ ته به پته وے؟ د اول نه چا د دې
پېشګوئې وکړه چې مونږ ووايو چې هغه صحيح دے؟ هيچا هم د دې اعلان او پېشګوئې
نۀ ده کړې. هيچا هم ستا يوه خبره هم نۀ ده اورېدلې. ۲۷ اول ما صيون ته د دې اعلان
وکړو، او ما يروشلم ته د خوشخبرۍ پيغام وړُونکى ولېږل. ۲۸ خو ما په معبودانو کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې يو هم ونۀ ليدلو چې ما له مشوره راکړى، او په دوئ کښې يو هم نشته چې زما د
سوال جواب راکړى. ۲۹ ګورئ، دا ټول معبودان بېکاره دى، هغوئ هيڅ هم نۀ شى
کولے، دا بُتان هسې تش کدوان دى.“

## د مالِک خُدائ خِدمت کوونکے

۴۲ ۱ دا زما خادِم دے چا ته چې ما طاقت ورکړے دے او څوک چې ما غوره
کړے دے، زما محبوب چې روح مې پرې خوشحاله دے. ما خپل روح په هغۀ سورے
کړے دے، او هغه به غېرو قومونو ته اِنصاف رسوى. ۲ هغه به نۀ جنګ کوى، نۀ
شور، او نۀ به په کوڅو کښې د هغۀ آواز اورېدے شى. ۳ هغه به يوه کړه لوخه هم نۀ
ماتوى او نۀ به کمه بلېدونکې ډيوه مړه کوى. هغه به په وفادارئ سره اِنصاف قائم ساتى.
۴ هغه به نۀ بېحوصلې کيږى او نۀ به نااُميده کيږى، هغه به په زمکه اِنصاف قائم
کړى. لرې لرې مُلکونه به د هغۀ د تعليماتو په انتظار وى. ۵ خُدائ پاک آسمانونه پېدا
کړل او خوارۀ يې کړل، هغۀ زمکه او چې په دې کښې هر څۀ اوسيږى هغه يې پېدا کړل،
هغۀ د زمکې ټولو خلقو له ساه او ژوند ورکړو. او اوس خُدائ پاک خپل خِدمت کوونکى
ته وائى، ۶ ”ما، مالِک خُدائ صداقت سره راوغوښتې، زۀ به تا د لاس نه ونيسم او
محفوظ به دې ساتم. ستا په ذريعه به زۀ د ټولو خلقو سره يو لوظ وکړم، او ستا په ذريعه
به زۀ قومونو له رڼا راوړم. ۷ تۀ به د ړندو سترګې وغړوې او هغه خلق به آزاد کړې
چې کوم د قېدخانې په تيارۀ کښې پراتۀ دى. ۸ زۀ مالِک خُدائ يم. او هم دا زما نوم
دے. زۀ به خپل جلال بل هيچا ته نۀ ورکوم، او زما په ثناء صِفت کښې به بُتانو ته هيڅ
برخه نۀ ملاويږى. ۹ ما چې د کومو خبرو پېشګوئې کړې وه هغه رښتيا شوې دى. او
اوس زۀ تاسو ته د نوؤ واقعو اعلان کوم. اوس به زۀ تاسو ته نوى خيزونه وښايم چې دا
لا شوى هم نۀ وى.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## يو د ثناء صِفت، حمد

۱۰ مالِک خُدائ ته يو نوے حمد ووايئ، اے ټولې دُنيا، د هغهٔ ثناء صِفت بيان کړئ.
اے په سمندر کښې مسافرانو او د سمندر ټول مخلوقه، د هغهٔ ثناء صِفت کوئ. اے لرې
مُلکونو او په هغې کښې اوسېدونکو خلقو، د هغهٔ حمد ووايئ. ۱۱ صحرا او د دې
ښارونه دې د خُدائ پاک ثناء صِفت کوى، د قيدار د کلو خلق دې د هغهٔ ثناء صِفت
کوى. او څوک چې د سلع په ښار کښې اوسېږى هغوئ دې د غرونو د سرونو نه د
خوشحالئ چغې ووهى. ۱۲ کوم خلق چې په لرې مُلکونو کښې اوسېږى هغوئ دې د
مالِک خُدائ ثناء صِفت او جلال بيان کړى. ۱۳ مالِک خُدائ د يو جنګيالى په شان
جنګ له ځى، هغه به لکه د فوجى په شان جذبه کښې راشى او د جنګ نعرې به وهى او
د خپلو دشمنانو خِلاف به خپل طاقت ښائى. ۱۴ خُدائ پاک فرمائى، ”زهٔ د ډېر وخت
نه خاموش وم، زهٔ د ډېر وخت نه چپ وم نو غږ مې نهٔ کولو. خو اوس زهٔ د داسې ښځې
په شان يم چې فرياد کوى او چغې وهى لکه چې ماشوم يې پېدا کېږى او ساه ساه يم.
۱۵ زهٔ به غرونه او د غرونو غونډۍ تباه کړم او واښهٔ او ونې به اوچې کړم. زهٔ به د
سيندونو نه اوچې زمکې جوړې کړم او د اوبو تالابونه به يې اوچ کړم. ۱۶ زهٔ به خپل
ړاندهٔ خلق روان کړم په هغه لار به يې بوځم چې هغوئ پرې هيڅکله سفر نهٔ وى کړے.
زهٔ به د هغوئ وړاندې تيارهٔ په رڼا بدله کړم او د هغوئ مخې ته هغه کندې کَپرې زمکه به
هواره کړم. دا زما وعدې دى، او دا وعدې به زهٔ پوره کړم. ۱۷ خو هر څوک چې په
بُتانو ايمان لرى، او ورته وائى چې تاسو زمونږ خُدايان يئ، نو هغوئ به سخت وشرمېږى
او رد به کړے شى.“

## د بنى اِسرائيلو نهٔ پوهېدل

۱۸ اے کڼو خلقو، واورئ. اے ړندو خلقو، ښهٔ وګورئ. ۱۹ زما د خِدمت کوونکى په
شان ړوند څوک دے؟ زما د پيغمبر په شان کُوڼ څوک دے څوک چې زهٔ درلېږم؟ اګر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ما هغهٔ سره لوظ کړے دے خو بیا هم د مالِک خُدائ د خادِم په شان ړوند ښوک
نشته. ۲۰ اګر چې تاسو ډېر څهٔ لیدلی دی، خو تاسو څهٔ توجو نهٔ ده ورکړې، اګر چې
ستاسو غوږونه خبره واوری، خو تاسو یې نه اورئ. ۲۱ مالِک خُدائ د خپل صداقت د
خاطره خوشحاله وو، چې خپل شریعت لوئ کړی او جلال ورکړی. ۲۲ خو اوس د
هغهٔ خلق لوټ کړے شوی او شوکېدلی دی، هغوئ ټول په کندو کښې ګېر کړے شوی
دی او په قېدخانو کښې اچولے شوی دی. هغوئ نه د لوټ مال جوړ شوے دے، خو د
هغوئ بچ کولو له هیڅ څوک هم رانهٔ غلل. هغوئ نیولے شوی دی خو هیچا هم ونهٔ وئیل
چې، "دوئ واپس کړئ." ۲۳ په تاسو کښې به څوک دې ته غوږ ونیسی؟ د راتلونکی
وخت دپاره به څوک دې ته پام وکړی؟ ۲۴ اِسرائیلیان لوټ مارانو او ډاکوانو ته چا
حواله کړل؟ ولې دا مالِک خُدائ ونهٔ کړل، د چا خِلاف چې مونږ ګناه کړې ده؟ هغوئ د
هغهٔ په لاره باندې تلو نه اِنکار وکړو، هغوئ د هغهٔ د شریعت نافرمانی وکړه. ۲۵ نو په
دې وجه هغهٔ هغوئ ته د خپلې غصې زور وښودلو او د جنګ سختی یې ورباندې
راوسته. د هغهٔ غصه په ټول اِسرائیل کښې د اور په شان بلېده، خو هغوئ ته هیڅ پته نهٔ
لګېده چې څهٔ کیږی، دا د هغوئ خلاف بلېده خو هغوئ ترینه هیڅ سبق وانهٔ خستو.

## د خُدائ پاک د خپلو خلقو د بچ کولو وعده کول

۴۳ ۱ اے بنی اِسرائیلو، هغه مالِک خُدائ چا چې تاسو پېدا کړی یئ هغه فرمائی
چې، "یرېږئ مه، ځکه چې ما تاسو په بیعه اخستی یئ. ما تاسو ته په نوم آواز کړے
دے، تاسو زما یئ. ۲ کله چې تاسو د سمندر په ژورو اوبو کښې روان یئ، نو زهٔ به
ستاسو مل یم، کله چې تاسو د سمندرونو نه تېرېږئ نو ډوبېږئ به نه. کله چې تاسو په
اور کښې تېرېږئ، نو تاسو به نهٔ سوزئ، او د اور شُغلې به تاسو ته نقصان نهٔ درکوی.
۳ زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم، زهٔ د بنی اِسرائیلو هغه مقدس ذات یم، چې
ستاسو خلاصونکے یم. ستاسو د آزادولو دپاره زهٔ مِصر ورکوم، ستا په ځائ زهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ایتھوپیا او سِیبا ورکوم. ۴ زما په نظر کښې تاسو قیمتی او عزتمند یئ، او تاسو په ما
ګران یئ. نو په دې وجه به زۀ ستاسو په ځائ خلق ورکړم او ستاسو د ژوند په بدله
کښې به زۀ قومونه ورکړم. ۵ یرېږئ مه، زۀ ستاسو مل یم. زۀ به تاسو او ستاسو خلق
د نمرخاتۀ طرف نه او د نمرپرېواتۀ طرف نه راغونډ کړم. ۶ زۀ به شمال ته ووایم چې
هغوئ پرېږده چې لاړ شی او جنوب ته به ووایم چې هغوئ مۀ ایساروه. زما زامن د لرې
مُلکونو نه واپس راوله، زما لوڼه د زمکې د هر سر نه واپس راوله. ۷ هغه ځوک چې
زما خپل خلق دی، کوم چې ما د دې دپاره پېدا کړی دی چې زما د جلال سبب جوړ
شی.“ ۸ هغه خلق راولئ د چا چې سترګې شته، خو هغوئ ړاندۀ دی، د چا چې
غوږونه شته، خو هغوئ کاڼۀ دی. ۹ قومونه دې راغونډ شی. د هغوئ د معبودانو نه
کوم یو د راتلونکی وخت پېشګوئې ورکولے شی؟ چې څۀ اوس کېږی نو کوم یو د دې په
حقله مخکښې وئیلی وُو؟ هغه معبودان دې د دې ګواهان راولی چې دا ثابت شی چې
هغوئ په حقه دی، او چې ګواهی ورکړی چې د هغوئ خبرې رښتیا دی. ۱۰ مالِک
خُدائ وفرمائیل، ”اے بنی اِسرائیلو، تاسو زما ګواهان یئ، زما خِدمت کوونکی یئ او ما
غوره کړی یئ چې تاسو ما وپېژنئ او په ما به ایمان ولرئ او پته درته ولګی چې صرف
زۀ خُدائ پاک یم. زما نه بغېر بل یو خُدائ هم نشته، نۀ د دې نه مخکښې وو او نۀ به د
دې نه وروستو وی. ۱۱ زۀ، صرف زۀ مالِک خُدائ یم، او زما نه بغېر بل ځوک
خلاصونکے نشته. ۱۲ هم ما ستاسو د خلاصون اعلان وکړو او تاسو ته مې خلاصون
درکړو، او دُنیا ته مې ښکاره کړو. او ستاسو په مینځ کښې بل یو غېر معبود هم داسې
څۀ نۀ دی کړی، څۀ چې ما کړی دی.“ مالِک خُدائ فرمائی، ”تاسو زما ګواهان یئ چې
زۀ خُدائ پاک یم. ۱۳ زۀ خُدائ پاک یم او د همېشه دپاره به یم. زما د طاقت نه هیڅ
ځوک هم نۀ شی بچ کېدلے، زۀ چې کوم کار کوم نو هغه ځوک ایسارولے شی؟“

## د خُدائ پاک د فتحې لوظ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ د بنی اِسرائیلو مقدس ذات، هغه مالِک خُدائ چا چې تاسو بچ کړئ هغه فرمائی،
"ستاسو د بچ کولو دپاره، زهٔ به د بابل خِلاف یو لښکر درولېږم، زهٔ به د ښار دروازې
راوغورزوم، او د دې د خلقو د خوشحالئ چغې به په ژړا بدلې شی. ۱۵ زهٔ مالِک
خُدائ، ستاسو مقدس خُدائ پاک یم. زهٔ د بنی اِسرائیلو خالق ستاسو بادشاه یم." ۱۶
مالِک خُدائ فرمائی، "ما په سمندر کښې یوه لار جوړه کړه، او د زورَورو اوبو په مینځ
کښې مې یوه لار جوړه کړه." ۱۷ هغهٔ یو طاقتور لښکر د تباهئ طرف ته بوتلو، یو داسې
لښکر چې جنگی گاډئ او آسونه یې لرل. هغوئ پرېوتل او بیا را پا نهٔ څېدل، او د ډیوې د
لمبې په شان ختم شول. ۱۸ "د تېر شوی وخت په واقعاتو پورې مهٔ انښلئ او چې څهٔ
وړاندې شوی وی نو د هغې خیال د زړهٔ نهٔ وباسئ. ۱۹ زهٔ چې کوم نوی کارونه کوم نو
هغې ته گورئ. هغه اوس شروع کېدو والا دی، تاسو یې نهٔ وینئ څهٔ؟ زهٔ به په بیابان
کښې یوه لار جوړه کړم او هلته به د اوبو نِهرونه جوړ کړم. ۲۰ ځنگلی ځناور، گیدړان
او شترمرغ به زما درناوے کوی، ځکه چې زهٔ به په بیابان کښې اوبهٔ ورکوم او په صحرا
کښې به سیندونه روان کړم د دې دپاره چې خپلو خلقو له اوبهٔ ورکړم. ۲۱ دا هغه خلق
دی څوک چې ما د خپل ځان دپاره پېدا کړی دی، چې هغوئ زما ثناء صِفت وکړی."

## د مالِک خُدائ خپل خلق بلل

۲۲ مالِک خُدائ فرمائی، "اے بنی اِسرائیلو، ستاسو زړهٔ زما نه موړ شوے دے، او
تاسو زما عبادت ونهٔ کړو. ۲۳ تاسو ما له د گډو خپلې سوزېدونکې نذرانې رانهٔ وړلې،
تاسو د قربانو سره زما درناوے ونهٔ کړو. په تاسو مې بوج وانهٔ چولو چې نذرانې مې
درنه غوښتے وے او تنگ مې نهٔ کړئ چې خوشبودارې مصالحې مې درنه غوښتے
وے. ۲۴ تاسو زما دپاره خوشبودارې مصالحې وانهٔ خستلې او نهٔ مو د خپلو ځناورو د
وازگې سره خوشحاله کړم. خو تاسو په ما باندې ستاسو د گناهونو بوج کېښودو، تاسو
چې کوم بد عمل کړے دے د هغې په وجه مو تنگ کړے یم. ۲۵ آو، زهٔ هم هغه خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاک یم چې د خپل ځان په خاطر ستاسو په جرمونو پرده اچوم او ستاسو ګناهونه د
خپل ذهن نه وباسم. ۲۶ راځئ چې عدالت ته لاړ شُو، خپل اِعتراض بيان کړئ. خپله
خبره پېش کړئ چې ثابته شي چې تاسو په حقه يئ. ۲۷ ستاسو پلار نيکۀ ګناه وکړه، او
ستاسو مشرانو زما خِلاف بغاوت وکړو، ۲۸ نو په دې وجه به زۀ د مقدس ځائ مشران
رسوا کړم او زۀ به بنى اِسرائيليان مکمل تباهئ او شرم دپاره مخصوص کړم.“

## د بنى اِسرائيلو دپاره د خُدائ پاک برکتونه

۴۴ ۱ مالِک خُدائ فرمائى، ”اے بنى اِسرائيلو، زما خِدمت کوونکو، اے د يعقوب
اولاده، اے زما غوره کړے شوو خلقو اوس ماته غوږ ونيسئ. ۲ زۀ هغه مالِک خُدائ
يم چا چې تاسو پېدا کړى يئ، د کوم وخت نه چې تاسو پېدا شوى يئ نو زۀ ستاسو مدد
کوم. اے يعقوبه زما خادِمه، يرېږه مه، اے بنى اِسرائيله، تۀ ما غوره کړے يې، يرېږه مه.
۳ زۀ به تږى مُلک له اوبۀ ورکړم او په اوچه زمکه به نِهرونه روان کړم. زۀ به ستاسو
په بچو خپل روح نازل کړم او ستاسو په اولاد به خپل برکتونه نازل کړم. ۴ هغوئ به د
داسې واښو په شان ترقى کوى چې سيرابه وى، د هغه خاروَلو ونو په شان چې د اوبو د
روانو نِهرونو په غاړه شوې وى. ۵ خلق به وار په وار وائى چې، زۀ د مالِک خُدائ يم.
هغوئ به راشى چې د بنى اِسرائيلو سره ملګرى شى. په هغوئ کښې به ځينې په خپل
لاس د مالِک خُدائ نوم وليکى او خپل ځان به د خُدائ پاک د خلقو نه يو کس ګڼى.“
۶ مالِک خُدائ، څوک چې په بنى اِسرائيلو حکومت کوى او د بنى اِسرائيلو حِفاظت
کوى، هغه مالِک خُدائ ربُ الافواج داسې فرمائى، ”زۀ اولين او زۀ آخرين يم، زما نه
بغېر بل يو خُدائ هم نشته. ۷ زما په شان څوک دى؟ هغه دې آواز وکړى او خپل
دليلونه دې پېش کړى. هغوئ دې په ترتيب سره ووائى څۀ چې د پخوا نه شوى دى چې
کله ما خپل قوم قائم کړو. هغوئ دې د راتلونکى وخت د خبرو اعلان وکړى چې څۀ به
کيږى. ۸ مۀ يرېږئ، چې ونۀ يرېږئ. ولې ما تاسو ته ډېر مخکښې نۀ وُو وئيلى چې څۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به کيږی؟ تاسو زما ګواهان يئ. بل خُدائ پاک شته څۀ؟ بل د پناه ځائ نشته چې زۀ ترې نه خبر يم.“

## بُتان هيڅ هم نۀ شی کولے

۹ هر څوک چې بُتان جوړوی نو هغوئ هيڅ هم نۀ دی او چې کومو څيزونو ته هغوئ ډېر زيات خوشحاليږی هغه بېفائدې دی. د بُت پرستانو نۀ خو سترګې شته او نۀ پکښې عقل شته خو آخر به هم د شرم سره مخ شی. ۱۰ هغه څوک دے چې ځان له يوه مجسمه يا بُت جوړوی او د هغې به ورته هيڅ فائده نۀ وی؟ ۱۱ ګورئ، هغوئ او د هغوئ ټول ملګری به وشرميږی. کوم خلق چې بُتان جوړوی هغوئ صرف انسانان دی. هغوئ دې راشی او په عدالت کښې دې پېش شی، هغوئ به ويريږی او د شرم سره به مخ شی. ۱۲ لوهار د اوسپنې يوه ټکړه واخلی او د سکروټو په ذريعه په دې باندې کار کوی. هغه د مټو زور سره ټک وهی او د دې نه يو بُت جوړ کړی. هغه اوږے شی او د لوږې نه يې طاقت جواب ورکړی او د تندې نه يې رنګ زيړ شی. ۱۳ ترکاڼ د لرګی ناپ واخلی. هغه په دې باندې کرښې وهی، دا لرګے د خپل آوزار سره وتراشی او د يو بنی آدم شکل ترې نه جوړ کړی، چې د يو انسان په شان ښائسته صورت لری، د دې دپاره چې په يو بُتخانه کښې يې ولګوی. ۱۴ کاريګر د دِيار ونې ووهی چې د هغې نه کار واخلی، يا د ځنګل د څېړۍ ونه يا د دِيار ونه خوښه کړی. يا هغه د نختر ونه وکَری او د باران سره دا را غټه شی. ۱۵ يو کس به د ونې څۀ حِصه د خشاک دپاره استعمال کړی او د څۀ حِصې نه به يې اور بل کړی چې خپل ځان پرې تود کړی او روټۍ وربانديې پخه کړی. او دا هم يو حقيقت دے چې د څۀ حِصې نه به يې يو بُت جوړ کړی او عبادت به يې کوی. ۱۶ هغه د څۀ لرګو نه اور بل کړی، هغه وربانديې غوښه سره کړی، وې خوری او موړ شی. هغه وربانديې خپل ځان تود کړی او وائی، ”دا څومره تود او زبردست اور دے.“ ۱۷ کوم لرګے چې پاتې شی نو د هغې نه يو بُت جوړ کړی او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا ورته هغه تیتېږی او عبادت یې کوی. هغه دې ته سوال کوی او ورته وائی، "ته زما
خُدائ یې، ته ما بچ کړه." ۱۸ داسې خلقو ته هیڅ پته نه وی او نه په څه پوهېږی. د
هغوئ په سترګو او زړونو باندې پرده پرته وی، نو په دې وجه نه هغوئ څه وینی او نه په
څه پوهېږی. ۱۹ د بُتانو جوړونکی دومره عقل او پوهه نه لری چې سوچ پرې وکړی
چې، "څه لرګی ما وسوزول. د څه سره مې روټۍ پخه کړه او د دې په سکارو مې غوښه
سره کړه او ومې خوړه. نو د دې پاتې لرګی نه به زه بُت جوړوم او دې ته به زه سجده
کوم؟" ۲۰ دا داسې دی لکه چې څوک ایرې خوری. هغه خپلو کم عقلو سوچونو
بې‌لارې کړے دے. هغه به په خپل زړه کښې دا خبره هم نه اچوی چې، "زما په لاس
کښې چې کوم بُت دے هغه په رښتیا خُدائ نه دے."

## مالِک خُدائ پېدا کوونکے او خلاصونکے دے

۲۱ مالِک خُدائ فرمائی، "اے بنی اِسرائیلو، دا خبره یاده ساتئ، تاسو زما خِدمت
کوونکی یئ. ما تاسو د دې دپاره پېدا کړئ چې زما خِدمت کوونکی یئ، او زه به تاسو
هیڅکله نه هېروم. ۲۲ ما ستاسو ګناهونه د وریځې په شان لرې کړې دی. ما ستاسو
ګناهونه داسې لرې کړې دی لکه چې نمر سخت دُهند لرې کوی. ما له راواپس شئ، زه
هغه ذات یم څوک چې تاسو بچ کوی." ۲۳ اے آسمانونو، د خوشحالۍ نه چغې ووهئ،
ځکه چې مالِک خُدائ هر څه وکړل. د زمکې ژورو ځایونو، چغې ووهئ. غرونو او د
ځنګل هرې ونې، د خوشحالۍ نه چغې ووهئ. مالِک خُدائ خپل خلق بنی اِسرائیلیان بچ
کړل او خپله لوئی یې وښودله. ۲۴ مالِک خُدائ ستاسو خلاصونکے فرمائی، "زه هغه
ذات یم چا چې تاسو پېدا کړی یئ. زه مالِک خُدائ یم، ما دا هر څیز پېدا کړے دے. ما
په یواځې ځان په زمکه باندې آسمانونه ودرول، او زمکه مې پخپله خوره کړه. ۲۵ زه د
دروغو نبوت کوونکی دروغژن ثابتوم، او د فالګرو نه کم عقلان جوړوم. زه د هوښیارانو
خلقو خبرې غلطی ثابتوم او د هغوئ حِکمت په کم عقلتوب بدلوم. ۲۶ زه د خپلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خِدمت کوونکو پېشګوئیانې پوره کوم او د خپلو پېغمبرانو منصوبې سر ته رسوم. زهٔ د
یروشلم په حقله وایم چې خلق به بیا هلته اوسیږی، او د یهوداه ښارونو ته وایم چې دا به
بیا جوړ شی. او دا به د کنډرو نه په ښارونو بدل شی. ۲۷ هم زهٔ ژور سمندر ته حُکم
ورکوم چې، اوچ شه، زهٔ ستا ژوروالے اوچوم. ۲۸ زهٔ خورس ته وایم، تهٔ زما شپون
یې، تهٔ به هغه کار کوې چې څهٔ درته زهٔ وایم یعنې، تهٔ به حُکم ورکړې چې یروشلم دې بیا
جوړ شی او د خُدائ پاک د کور بنیادونه دې واچولے شی.“

## د خُدائ پاک د خورس مقررول

۴۵ ۱ مالِک خُدائ خپل غوره کړے شوے خادِم خورس ته فرمائی، ”ما ستا ښے
لاس نیولے دے، نو ځکه چې تهٔ هر چرته ځې هلته به قومونه ستا تابع کړم، د بادشاهانو
زور به ختم کړم، د ښارونو دروازې به ستا دپاره کولاو کړم او بندوم به یې نه. ۲ زهٔ
به په خپله ستا نه وړاندې ځم، او غرونه به درته هوار کړم. زهٔ به د زېړو دروازې
راوغورزوم او د دې د اوسپنې سیخونه به ټوټې ټوټې کړم. ۳ زهٔ به تا له د تورې تیارې
او د پټو ځایونو نه خزانې درکړم، نو بیا به تا ته پته ولګی چې زهٔ مالِک خُدائ یم، او چې
د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک یم څوک چې تا ته په نوم آواز کوی. ۴ زما د خِدمت
کوونکو او غوره کړے شوو بنی اِسرائیلو د خاطره، زهٔ تا ته په نوم آواز کوم او تا له مې
د لوئ عزت لقب درکړے دے، اګر چې تهٔ ما نهٔ پېژنې. ۵ زهٔ مالِک خُدائ یم، بل یو
خُدائ هم نشته. زهٔ تا له طاقت درکوم، اګر چې تهٔ ما نهٔ پېژنې. ۶ دا زهٔ د دې دپاره
کوم چې د دُنیا د یو سر نه تر بل سره پورې هر چا ته پته ولګی چې زهٔ مالِک خُدائ یم او
بل یو خُدائ هم نشته. ۷ زهٔ رڼا او تیارهٔ دواړه پیدا کوم، سلامتی او بربادی دواړه زهٔ
راولم. زهٔ، مالِک خُدائ دا هر څهٔ کوم. ۸ اے آسمانه باران ووروه او زمکه تازه کړه.
اے وریځو، صداقت راوروئ. زمکه دې دا جذب کړی چې خلاصون راوټوکیږی او دې
سره صداقت هم راوټوکیږی. ما، مالِک خُدائ دا پیدا کړی دی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د پيدايښت او د تاريخ مالِک خُدائ

٩ په هغهٔ باندې افسوس چې د خپل خالق سره جګړه کوى، هغه داسې دے لکه چې د
ماتو لوښو يو ټيکرے وى. ولې خټه د کُلال نه تپوس کوى څهٔ چې، "تهٔ څهٔ جوړوې؟"
ولې ستا کوم جوړ شوے څيز ستا په حقله شکايت کوى څهٔ؟ د هغهٔ هيڅ اختيار نشته.
١٠ په هغهٔ باندې افسوس چې خپل پلار ته وائى چې، "زهٔ دې ولې پېدا کړم؟" يا خپلې
مور ته ووائى چې، "تا ولې زهٔ داسې جوړ کړم؟" ١١ مالِک خُدائ، د بنى اِسرائيلو
مقدس ذات، کوم ذات چې هغوئ پېدا کړى دى، هغه وائى، "تاسو څنګه زما د بچو په
حقله ما نه تپوس کولے شئ؟ څهٔ چې ما جوړ کړى دى د هغې په حقله تاسو څنګه ما له
حُکم راکولے شئ؟ ١٢ زهٔ هغه ذات يم چا چې زمکه پېدا کړه، ما بنى آدم پېدا کړل چې
هلته اوسيږى. ما د خپل طاقت په ذريعه آسمانونه خوارهٔ کړل، او هم ما په آسمان کښې
ټول ستورى جوړ کړل. ١٣ ما په خپله خورس راپاڅولے دے چې واک اختيار په لاس
کښې واخلى او زما مقصد پوره کړى او کارونه سم کړى. زهٔ به هم د هغهٔ ټولې لارې
سيدها کوم. هغه به زما ښار بيا جوړ کړى، او زما خلق به د قيد نه آزاد کړى. هغه به دا
هر څهٔ مفت کوى، نهٔ به پېسې اخلى او نهٔ تحفې." مالِک خُدائ ربُ الافواج دا فرمائيلى
دى. ١٤ مالِک خُدائ فرمائى، "د مِصر او ايتهوپيا مال دولت به ستاسو وى، او د
سبائيانو لوړ لوړ سړى به ستاسو غلامان وى، هغوئ به په تاسو پسې په زنځيرونو کښې
روان وى. هغوئ به تاسو ته ټيټ شى او اِقرار به وکړى چې، خُدائ پاک ستاسو مل
دے، صرف هغه خُدائ پاک دے. د هغهٔ نه بغير بل خُدائ نشته." ١٥ بېشکه تهٔ هغه
خُدائ يې څوک چې ځان پټ ساتى، اے د بنى اِسرائيلو خُدائ پاکه، خلاصونکيه. ١٦
څوک چې بُتان جوړوى نو هغوئ به د شرم سره مخ شى، او هغوئ ټول به سپک شى.
١٧ خو مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو مُلک بچ کوى، د يو نهٔ ختمېدونکى خلاصون سره.
او د دې خلق به کله تر آخره پورې هم بېعزته نهٔ شى. ١٨ مالِک خُدائ فرمائى، "زهٔ
مالِک خُدائ يم، او بل يو خُدائ هم نشته." څوک چې دا وائى هغه خُدائ پاک دے. چا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې آسمانونه پېدا کړی دی، دا هغه ذات دے کوم چې زمکه پېدا کړه او جوړه یې کړه،
او زمکه خوشې او شاړه پاتې نۀ شوه بلکې هغۀ دا د اوسېدلو قابله جوړه کړه، چې
ژوندے مخلوق په کښې اوسيږی. مالِک خُدائ فرمائی، ”زۀ مالِک خُدائ يم ما نه غېر بل
مالِک نشته. ۱۹ ما څۀ په پټه ځائ کښې پټې خبرې نۀ دی کړې. او نۀ مې بنی اِسرائيلو
ته دا وئيلی دی چې، ”بې‌شکه ما لټوئ، خو تاسو به ما مومئ نه.“ زۀ، مالِک خُدائ يم او
زۀ رښتيا وايم، او څۀ چې صحيح وی نو زۀ د هغې اعلان کوم.“

## معبودان د بابل حِفاظت نۀ شی کولے

۲۰ ”هغه ټول خلق چې د بادشاه د زوال نه پس ژوندی پاتې يئ، راغونډ شئ، خپل
ځانونه زما حضور کښې پېش کړئ. څوک چې ځان سره د لرګی بُتان ګرځوی هغوئ په
هيڅ هم نۀ پوهيږی. چې کوم معبودان خلاصون نۀ شی ورکولے نو د هغوئ نه دُعا ولې
غواړی؟ ۲۱ راشئ او خپله مقدمه په عدالت کښې پېش کړئ، بې‌شکه اول د يو بل سره
مشوره وکړئ. ډېر پخوا دا پېشګوئې چا ورکړې وه؟ ولې ما مالِک خُدائ ډېره موده
مخکښې دا اعلان نۀ وو کړے؟ ځکه چې بغېر زما نه بل يو خُدائ هم نشته. زۀ
خلاصونکے او صادق خُدائ يم. زما نه بغېر بل يو خُدائ هم نشته. ۲۲ اے د ټولې دُنيا
خلقو، اوس ما ته راوګرځئ او خلاصون حاصل کړئ. صرف زۀ خُدائ پاک يم او زما
نه بغېر بل يو خُدائ هم نشته. ۲۳ زما وعده رښتيا ده، او زما وعده به نۀ بدليږی. ما په
خپل ذات باندې قسم خوړلے دے، چې هره يوه ګوډه به ما ته په سجده شی او هره ژبه
به اِقرار وکړی. ۲۴ او وائی به چې فتح او طاقت صرف د مالِک خُدائ په ذريعه
ملاويږی، خو هغه ټول څوک چې زما نه نفرت کوی نو هغوئ به زما حضور ته راشی او
شرم سره به مخ شی. ۲۵ خو د اِسرائيل ټول اولاد به د مالِک خُدائ په نظر کښې
صادقان شی او په هغۀ به فخر کوی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بابل معبودان

۴۶ ۱ د بابل د معبودانو بيل او نبو سرونه ښکته ؤُو کله چې دوئ راکوز کړے
شول، او اوس هغه په ځناورو باندې بار دی، چې د سترې شوو ځناورو دپاره بوج دے.
۲ دا دواړه معبودان ټيټ شول او پړمخې پرېوتل. هغوئ د بوج جوړېدو نه بچ پاتې نۀ
شول او اوس په خپله جلاوطن شول. ۳ ”اے د يعقوب اولاده، ما ته غوږ ونيسئ، اے
په بنی اِسرائيلو کښې زما باقی پاتې شوو ټولو خلقو. د مور د خېټې نه ما ستاسو پالنه
کړې ده، چې کله تاسو پېدا شوی يئ نو د هغې وخت نه زۀ په تاسو پام کوم. ۴ زۀ
ستاسو خُدائ پاک يم او زۀ به ستاسو ساتنه کوم چې تاسو بوډاګان او سپين سَری هم
شئ. نو ما تاسو پېدا کړی يئ او ستاسو خيال به ساتم، زۀ به ستاسو ملاتړ يم او تاسو به
بچ کوم.“ ۵ مالِک خُدائ فرمائی، ”تاسو به ما د چا سره برابروئ؟ زما په شان بل
څوک شته څۀ؟ ۶ خلق خپلې کڅوړې کولاو کړی او سرۀ زر ترې نه غورزوی، هغوئ
په تله سپين زر تلی. هغوئ زرګر له پيسې ورکړی چې يو بُت ورله جوړ کړی، او بيا ورته
ټيټيږی او عبادت يې کوی. ۷ هغوئ دا خپلو اوږو ته اوچت کړی او يو خوا او بل خوا
يې وړی راوړی، او بيا په يو ځائ کښې يې کېږدی او هلته ولاړ وی، خو چې چرته وی نو
د هغه ځائ نه حرکت نۀ شی کولے. کۀ څوک دې ته په چغو فرياد وکړی، نو دا جواب
نۀ ورکوی او نۀ هغه کس د مصيبت نه بچ کولے شی. ۸ اے ګناهګارانو، دا ياد ساتئ،
او چې ما څۀ کړی دی هغه مۀ هېروئ. ۹ هغه راياد کړئ چې ډېره موده مخکښې
شوی ؤُو، ځکه چې صرف زۀ خُدائ پاک يم او زما په شان بل هيڅ څوک هم نشته. ۱۰
د شروع نه ما د اَنجام پېشګوئې ورکوله، ما ډېر پخوا وئيلی دی چې څۀ کېدونکی دی. ما
وئيل چې زما منصوبې به نۀ ناکامه کيږی، او چې زۀ به هغه هر يو کار کوم چې ما يې
اراده کړې وه. ۱۱ زۀ د نمرخاتۀ طرف نه يو ښکاری مارغۀ راغواړم، د لرې مُلک نه به
يو داسې سړے راشی چې زما منصوبه به پوره کوی. څۀ چې ما وئيلی دی زۀ به هغه
سر ته رسوم. او چې کومه منصوبه ما جوړه کړې وی هغه به سر ته رسوم. ۱۲ اے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ضدی خلقو، ما ته غوږ ونيسئ څوک چې د خلاصون نه ډېر لرې يئ. ⑬ ما خپل
خلاصون نزدې راوړے دے، هغه لرې نۀ دے. زما خلاصون راتلو کښې به وخت نۀ
لګی. زۀ به يروشلم بچ کړم او بنی اِسرائيلو ته به خپل شان او شوکت وښايم.“

## د بابل سره عدالت کېدل

٤٧ ① اے د پېغلې په شان بابله، د خپل تخت نه راکوز شه، او په زمکه په خاورو
کښې کښېنه. ځکه چې ستا په تخت د ناستې وخت ختم دے. اے بابله، تۀ به بيا د
شهزادګۍ په شان نرم او نازک نۀ يې. ② د ژرندې کاڼے واخله او اوړۀ مېده کړه.
نقاب لرې کړه، خپلې ښائسته جامې وباسه، پېنځې اوچتې کړه چې د نِهرونو نه پورې
وځې. ③ خلق به تا وګورى چې بربنډه يې، هغوئ به ستا شرمګاه وګورى. زۀ به بدله
واخلمه او هيڅ څوک به نۀ پرېږدم. ④ د بنی اِسرائيلو مقدس ذات مونږ په بيعه اخستى
يُو، د هغۀ نوم مالِک خُدائ ربُ الافواج دے. ⑤ اے د بابليانو لورې، په تيارۀ کښې
خاموش کښېنه، نور به تا ته څوک د قومونو مَلِکه نۀ وائى. ⑥ زۀ خپلو خلقو ته غصه
وم، ما هغوئ له داسې سزا ورکړه چې تا ته مې حواله کړل. او تا په هغوئ باندې هيڅ
رحم ونۀ کړو، او په بوډاګانو دې هم ډېر درونډ بوج کېښودو. ⑦ تا وئيل، ”زۀ به هميشه
مَلِکه يم.“ او هيڅکله دې فکر نۀ دے کړے او نۀ دې د دې په اَنجام باندې غور وکړو.
⑧ نو اوس دا خبره واوره، اے د عيش سره مينه لرونکې، تۀ خپل ځان محفوظ ګڼې او
وائې، ”هم زۀ يم. او زما نه بغير بل څوک نشته. زۀ به نۀ کله کونډه شم او نۀ بې‌اولاده.“
⑨ خو په يوه لحظه او هم په يوه ورځ کښې به دا دواړه کارونه درسره وشى. تۀ چې هر
څومره د جادو نه کار واخلې، خو ستا خاوند او بچى به ختم شى. ⑩ تا خپل ځان په
بدعملۍ کښې محفوظ وګڼلو، ستا خيال دا وو چې هيڅ څوک دې نۀ وينى. خپل حِکمت
او پوهې تۀ بې‌لارې کړې، او تا د خپل ځان سره ووئيل چې، ”هم زۀ يم. او زما نه بغير بل
څوک نشته.“ ⑪ داسې افت به په تا راشى، چې ستا يو جادو منتر به هم دا منع کولے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نۀ شی. تباهی به په تا باندې راشی او هیڅ منښته به دا بندولے نۀ شی. وبا به په تا باندې
ناڅاپه راشی، او تۀ به د هغې دپاره تیاره نۀ یې. ۱۲ خپل جادو او کوډې ځان سره
وساته، تا د وړوکوالی نه دا استعمال کړی دی. کېدے شی چې دا ستا دپاره مددګار
ثابت شی، او تۀ په دې خپل دشمنان ویروی. ۱۳ تا له چې کومې مشورې درکړے
کیږی نو د هغې نه تۀ ستړے یې. ستا نجومیان چرته دی، چې ستورو ته ګوری او
میاشت په میاشت پېشګویانې کوی؟ هغوئ دې راشی او څۀ چې کېدونکی دی تا دې د
هغې نه بچ کړی. ۱۴ هغوئ په اور کښې د سوزېدونکی بوسو په شان دی چې خپل ځان
د دې د لمبو نه نۀ شی بچ کولے. دا به د سکرو اور نۀ وی چې انسان ورته کښېنی او
ځان ګرم کړی. ۱۵ هغوئ به تا مایوسه کړی، چا سره چې تۀ د ځوانۍ نه په وفادارۍ
چلېدلے یې. هر یو به درنه په خپله مخه لاړ شی، او داسې به هیڅ څوک پاتې نۀ وی چې
تاسو بچ کړی.

## خُدائ پاک د راتلونکی وخت مالِک دے

۴۸ ۱ اے د یعقوب خاندانه، دا خبره واورئ، تاسو چې د بنی اِسرائیلو په نامه
یادیږئ او د یهوداه اولاد یئ، او تاسو چې د مالِک خُدائ په نوم قسم خورئ او د بنی
اِسرائیلو خُدائ پاک ته آواز کوئ، خو نۀ په کښې اخلاص شته او نۀ سمه طریقه. ۲
تاسو د مقدس ښار اوسېدونکی یئ او وایئ چې تاسو د بنی اِسرائیلو په خُدائ پاک باور
کوئ، د چا نوم چې مالِک خُدائ ربُ الافواج دے. هغه فرمائی، ۳ ”ما ډېر پخوا
پېشګوئی کړې وه چې څۀ به کیږی، او بیا مې ناڅاپه هم دغه شان وکړل، او زما ټولې
پېشګویانې رښتیا شوې. ۴ ما ته پته وه چې تاسو به ضدیان یئ، ستاسو د مرۍ
رګونه به د اوسپنې په شان کلک او ستاسو تندی به لکه د متکور غوز په شان وی. ۵
نو ما ډېر پخوا ستاسو د راتلونکی وخت پېشګوئی وکړه، د حالاتو بیان مې د وړاندې نه
وکړو، د دې دپاره چې تاسو دا دعویٰ ونۀ کړئ چې ستاسو بُتانو او تراشلے شوو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مجسمو د دې حُکم کړے وو. ۶ ما چې د څۀ پېشګوئي کړې وه نو هغه هر څۀ شوی
دی، خو تاسو د هغې منلو نه اِنکار وکړو. اوس به زۀ تاسو ته د نوؤ خبرو په حقله ووايم،
دا هغه رازونه دی چې تاسو تر اوسه پورې نۀ دی اورېدلی. ۷ په تېره زمانه کښې داسې
څۀ نۀ ؤو شوی، بلکې هم اوس اوس دا ستا په عِلم کښې راغلل. داسې څکه وشول چې
تاسو ونۀ شئ وئيلے، چې مونږ ته مخکښې نه د دې پته وه. ۸ ما ته پته وه چې تاسو
ناقابلِ اعتماد يئ، څکه چې تاسو د وړوکوالی نه په باغيانو مشهور وئ. او هم دا وجه ده
چې تاسو هيڅکله د دې په حقله نۀ دی اورېدلی، او دا څکه د دې يوه خبره هم ستاسو
غوږونو ته نۀ ده رارسېدلې. ۹ زما د نوم د خاطره زۀ خپله غصه په قابو کښې ساتم،
زما د ثناء صِفت د خاطره زۀ خپل ځان ستاسو د تباهئ نه را ايساروم. ۱۰ ما تاسو
صفا کړی يئ، خو داسې نه لکه چې سپين زر صفا کيږی، بلکې ما تاسو صفا کړی يئ،
د مصيبت په بټئ کښې مې آزمائيلی يئ. ۱۱ زۀ چې څۀ کوم نو هغه زۀ د خپل خاطر په
وجه کوم، زۀ نۀ غواړم چې زما د نوم بې‌عزتی وشی او نۀ به په خپل جلال کښې چا له
برخه ورکړم، دا به زما وی او صرف زما به وی.“

## مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خلاصونکے دے

۱۲ ”اے بنی اِسرائيلو، زما غوره کړے شوو، ما ته غوږ ونيسئ. صرف زۀ خُدائ پاک
يم، زۀ اولين او آخرين يم. ۱۳ ما په خپل لاس بانديې د زمکې بنيادونه لګولی دی او زما
ښی لاس آسمانونه خوارۀ کړی دی. کله چې زۀ آواز ورکړم نو دوئ ټول يو ځائ حاضر
شی. ۱۴ ټولو خلقو، راغونډ شئ او واورئ. په معبودانو کښې کوم يو د دې پېشګوئي
ورکړې ده؟ ما چې کوم سړے خوښ کړے دے هغه به په بابل حمله وکړی، او د
بابليانو خلاف به خپل زور استعمالوی. ۱۵ زۀ هغه څوک يم چې هغۀ ته مې آواز وکړو
او راومې غوښتلو، د هغۀ مې لارښودنه وکړه او هغه به کامياببږی. ۱۶ نو اوس ما له
رانزدې شئ او چې زۀ څۀ وايم هغې ته غوږ ونيسئ. ما د شروع نه صفا خبره کړې ده،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ما همېشه خپله خبره رښتيا کړې ده.“ او زهٔ اوس مالِک خُدائ تعالىٰ د خپل روح
سره رالېږلے يم.

۱۷ د بنى اِسرائيلو مقدس ذات، مالِک خُدائ ستاسو خلاصونکے فرمائى، ”زهٔ مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم، هغه ذات چې ستاسو د خپلې فائدې دپاره تاسو ته ښودنه
کوى او هغه لار درته ښائى چې په کومه باندې درله تلل په کار دى. ۱۸ خو کهٔ صرف
تاسو زما حُکمونو ته پام کړے وے. نو ستاسو امن به لکه د سيند په شان وو، او
ستاسو صداقت به د سمندر د چپو په شان وو. ۱۹ ستاسو اولاد به د شګو په شان ډېر
او بېشمېره وے، او ما به هيڅ امکان نهٔ وے پرېښے چې د هغوئ نام و نشان زما د
وړاندې نه ختم شى.“ ۲۰ د بابل نه ووځئ. او د بابليانو نه وتښتئ. د خوشحالىٔ سره د
دې خبر چغه ووهئ، او د دُنيا تر ګُټ ګُټه پورې دا خبره مشهوره کړئ چې، ”مالِک
خُدائ خپل خِدمت کوونکى بنى اِسرائيليان بچ کړى دى.“ ۲۱ کله چې مالِک خُدائ
خپل خلق په خُشکه صحرا کښې روان کړل، هغوئ د تندې په وجه د تکليف سره مخ نهٔ
شول. د هغوئ دپاره يې د ګټ نه اوبهٔ راوويستلې، هغهٔ ګټ په مينځ ښېل کړو او اوبهٔ ترې
نه راوبهېدلې. ۲۲ مالِک خُدائ فرمائى، ”د شريرانو دپاره سلامتى نشته.“

## بنى اِسرائيليان، د قومونو دپاره رڼا

۴۹ ۱ اے لرې قومونو، ما ته غوږ ونيسئ، اے هغه خلقو، چې لرې اوسېږئ. زما د
پېدا کېدو نه مخکښې مالِک خُدائ زهٔ خوښ کړم او زهٔ يې خپل خِدمت کوونکے مقرر
کړم. ۲ هغهٔ زما خبرې د تُورې په شان تېرې کړې. او د خپل لاس د سورى لاندې يې
پټ کړم، هغهٔ زهٔ د غشى په شان تېرهٔ کړم او په خپل د غشو تيلىٔ کښې يې پټ وساتلم.
۳ هغهٔ ما ته وفرمائيل چې، ”تهٔ زما خِدمت کوونکے بنى اِسرائيل يې، ستا په وجه به
زما نوم ته جلال ملاويږى.“ ۴ خو ما ووئيل چې، ”زما محنت بېفائدې دے، ما خپل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

طاقت بېفائدې او بېمقصده ضائع کړے دے، خو يقيناً چې زما حق مالِک خُدائ سره
دے او زما خُدائ پاک به ما له اجر راکړی." ۵ خو زما د پېدا کېدو نه مخکښې،
مالِک خُدائ زۀ مقرر کړم، هغۀ زۀ د دې دپاره خپل خِدمت کوونکے جوړ کړم چې د
هغۀ خلق واپس راولم، او دا چې بنی اِسرائيليان د هغۀ د حضور وړاندې راغونډ کړم.
مالِک خُدائ ما له عزت راکوی، او هغۀ ما له طاقت راکړے دے. ۶ هغه فرمائی،
"زما خِدمت کوونکيه، زۀ ستا دپاره يو لوئ مقصد لرم. تۀ به نۀ صرف هغه بنی
اِسرائيليان بحال کړې چې کوم ژوندی پاتې دی، بلکې زۀ به تا د قومونو دپاره رڼا
وګرځوم نو چې دغه شان تۀ زما خلاصون ټولې دُنيا ته ورسوې." ۷ د بنی اِسرائيل
مقدس ذات او خلاصونکے هغه چا ته وائی چې د چا نه سخت نفرت شوے دے، د چا
نه چې قومونو نفرت کړے دے چې دے د حکمرانانو خِدمت کوونکے دے، "بادشاهان
به تا وګوری او د عزت نه به درته پاځيږی، شهزادګان به هم وګوری، او هغوئ به تا ته د
عزت نه ټيټيږی. دا ځکه چې مالِک خُدائ خپل خِدمت کوونکے خوښ کړے دے، د
بنی اِسرائيلو مقدس ذات خپلې وعدې پوره کوی."

## د يروشلم بحال کېدل

۸ مالِک خُدائ فرمائی، "کله چې ستاسو د بچ کېدو وخت راغلو، نو ما په تاسو نظر
وکړو او د مدد دپاره مې ستاسو فرياد واورېدو. زۀ به ستاسو حِفاظت او ساتنه وکړم او
ستاسو په ذريعه به د ټولو خلقو سره يو لوظ وکړم. او زۀ به يو ځل بيا تاسو په هغه مُلک
کښې آباد کړم کوم مُلک چې اوس شاړ او ويجاړ پروت دے. ۹ زۀ به قېديانو ته ووايم
چې، تاسو آزاد يئ. او څوک چې په تيارۀ کښې وی نو هغوئ ته به ووايم چې، رڼا له
راوځئ. هغوئ به د هغه ګډو په شان وی چې د غرونو په غونډو کښې څريږی، ۱۰
هغوئ به هيڅکله نۀ اوږی شی او نۀ به کله تږی شی. د نمر او د صحرا ګرمی به هغوئ نۀ
تنګوی، د هغوئ مشری به هغه ذات کوی چې څوک د هغوئ سره مينه کوی. او هغه به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې د اوبو چينو له بوځى. ۱۱ زۀ به په غرونو کښې يو لوئ سړک جوړ کړم او د خپلو
خلقو دپاره به يوه لار جوړه کړم چې په هغې به مزل کوى. ۱۲ ګورئ زما خلق به د لرې
لرې نه راځى، د شمال طرف او د نمرپرېواتۀ طرف نه، او د سينم نه به راځى." ۱۳ اے
آسمانه، د خوشحالئ چغې وهه. اے زمکې، خوشحالى وکړه. اے غرونو، د خوشحالئ
سندرې ووايئ. ځکه چې مالِک خُدائ خپلو خلقو له تسلى ورکړې ده، او هغه به په خپلو
کړېدلو خلقو رحم وکړى. ۱۴ خو د يروشلم خلقو ووئيل، "مالِک خُدائ مونږ پرېښى
يُو. او هغۀ مونږ هېر کړى يُو." ۱۵ "هيڅکله نه. يو مور خپل د پيو ماشوم هېرولے شى
څۀ؟ او چې کوم بچے ترې نه پېدا شوے وى نو د هغۀ سره به مينه نۀ کوى څۀ؟ کۀ يوه
مور خپل بچے هېر هم کړى، خو زۀ به تاسو هيڅکله هم هېر نۀ کړم. ۱۶ ګوره ما ستا
نوم د خپلو لاسونو په تلو باندې ليکلے دے، او ستا دېوالونه هميشه زما په وړاندې دى.
۱۷ څوک چې تا بيا آبادول غواړى نو هغه زر واپس راروان دے، او چا چې تۀ تباه
کړے يې نو هغوئ درنه ځى. ۱۸ ګېرچاپېره نظر وګرځوه او وګوره. ستا خلق
راغونډېږى او هغوئ کورونو ته راروان دى. مالِک خُدائ فرمائى چې زما دې په خپل
ذات قسم وى، هغوئ به تا ته داسې راغونډ شى لکه څنګه چې په ناوې کالى امبار وى.
۱۹ ستا مُلک تباه شوے وو او وران ويجاړ وو، خو اوس چې څوک د اوسېدو دپاره
ورله راروان دى، نو دا مُلک به د هغوئ د اوسېدو دپاره ډېر وړوکے وى. او چا چې
تاسو په کنډرو کښې پرېښودئ نو هغوئ به ستاسو نه لرې وى. ۲۰ ستاسو کوم خلق
چې په جلاوطنئ کښې پيدا شوى وُو نو هغه خلق به يوه ورځ تا ته ووائى، دا مُلک خو
وړوکے دے، مونږ ته نوره زمکه په کار ده. ۲۱ بيا به تۀ په خپل زړۀ کښې ووائې، دا
دومره بچى ما له چا راکړل؟ زما بچى خو ختم شوى وُو او نور بچى مې نۀ کېدل. زۀ
جلاوطن کړے شوے وم او شړلے شوے وم، دا بچى ما له چا راکړل؟ زۀ خو يواځې
پاتې وم، دا بچى د کوم ځائ نه راغلل؟" ۲۲ خُدائ تعالىٰ داسې فرمائى، "ګورئ، زۀ به
قومونو ته اِشاره وکړم، او هغوئ به ستاسو زامن په غېږ کښې او ستاسو لوڼه په اوږو
کورونو ته راولى. ۲۳ بادشاهان به ستاسو دپاره د پلارانو په شان وى او ستاسو خيال

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به ساتی، او د هغوئ مَلِکې به ستاسو او ستاسو د بچو دپاره د مېندو په شان وی. هغوئ
به ستاسو په وړاندې ټيټ شی او ستاسو په پښو دوړې به څټی، نو بيا به تاسو ته پته
ولګی چې زهٔ مالِک خُدائ يم، هر څوک هم چې زما د مدد په طمع وی نو هغه به نهٔ
شرمېږی." ۲۴ څوک د جنګيالی نه مالِ غنيمت اخستلے شی څهٔ؟ يا څوک د يو ظالم
کس نه قېديان خلاصولے شی څهٔ؟ ۲۵ خو مالِک خُدائ وفرمائيل، "يقيناً چې د
جنګيالی نه به قېديان بوتلے شی، او د ظالم کس مالِ غنيمت به ونيولے شی. هر څوک
هم چې تا سره جنګ کوی نو زهٔ به هغوئ سره جنګ کوم، او هم زهٔ به ستا د بچو
حِفاظت کوم. ۲۶ چا چې په تا ظلم کړے دے زهٔ به په هغوئ باندې د هغوئ خپله
غوښه وخوروم، هغوئ به د خپلې وينې په څښلو سره د ميو په شان په نشه کښې وی. نو
داسې به بيا ټولو انسانانو ته پته ولګی چې زهٔ مالِک خُدائ يم، زهٔ هغه ذات يم څوک چې
تاسو بچ کوی او تاسو آزادوی او د بنی اِسرائيلو طاقتور ذات يم."

## د مالِک خُدائ د سزا ورکولو طاقت لرل

**۵۰** ۱ مالِک خُدائ فرمائی، "د يهوداه خلقو راشئ، او ما ته هغه طلاق نامه وښايئ
چې ما ستاسو مور له ورکړې وه او ستاسو مور مې پرېښوده. هغه طلاق نامه چرته ده؟
او يا ما ته هغه قرض ورکوونکے وښايئ چې ما د خپل قرض په وجه تاسو ورته حواله
کړی وئ هغه چرته دے؟ ګورئ هم ستاسو د خپلو ګناهونو له وجې خرڅ کړے شوئ او
ستا د خپلو ګناهونو په وجې ستاسو مور وشړلې شوه. ۲ چې زهٔ راغلم نو څوک هم نهٔ
وو، ولې؟ چې ما آواز وکړو نو چا هم جواب رانهٔ کړو، ولې؟ ولې زما لاس دومره
کمزورے وو څهٔ چې تاسو مې خلاصولے نهٔ شوئ؟ ولې زهٔ دومره کمزورے يم څهٔ چې
تاسو بچ کولے نهٔ شم؟ زما يو حُکم سره سمندر اوچ شی او سيندونه په صحرا بدل شی،
او بغير اوبو نه کبان مړهٔ شی او هر طرف ته بدبوئ خوره شی. ۳ هم زهٔ آسمان باندې
توره کپړه اچوم او هم زهٔ هغې ته د غم جامې اچوم."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مالِک خُدائ د خِدمت کوونکی تابعداری

۴ خُدائ تعالىٰ ما له د يو اُستاذ ژبه راکړې ده، د دې دپاره چې ستړو خلقو له تسلى
ورکړم. هر سحر هغه ما پاڅوى او هغه زما په زړۀ کښې دا جذبه اچوى چې د هغۀ
ښودنې ته غوږ ونيسم. ۵ خُدائ تعالىٰ ما ته صفا وينا کړې ده، او ما د هغۀ نه
سرکشى نۀ ده کړې او نۀ د هغۀ نه اوړيدلے يم. ۶ چا چې زما وهل غوښتل ما هغوئ
ته خپله ملا وړاندې کړه، چا چې زما نه ږيره ويستله ما هغوئ ته خپل مخ وړاندې کړو.
ما د هغوئ د بې‌عزتۍ او توکانو نه خپل مخ نۀ دے پټ کړے. ۷ خو خُدائ تعالىٰ زما
مدد کوى نو زما بې‌عزتى به نۀ کيږى. ما د هغۀ د مرضۍ پوره کولو کلکه اراده کړې ده.
ما ته پته ده چې زۀ به د شرم سره نۀ مخ کېږم. ۸ څوک چې ما ته صداقت ښائى هغه
نزدې دے، څوک دا جرأت کولے شى چې په ما اِلزامونه ولګوى؟ زما مخالف چرته دے
چې په ما اِلزام ولګوى. هغه دې رامخامخ شى. ۹ هم خُدائ تعالىٰ زما ملګرتيا کوى،
نو څوک به ما مجرم ثابت کړى؟ په ما باندې ټول اِلزام لګوونکى به ورک شى هغوئ به
داسې ختم شى لکه چې کپړه چينجو خوړلې وى. ۱۰ په تاسو کښې څوک د مالِک
خُدائ نه يريږى او د هغۀ د خِدمت کوونکى آواز منى؟ څوک چې په تيارۀ کښې روان وى
هيڅ رڼا ورسره نۀ وى خو بيا هم دې د هغۀ ايمان په مالِک خُدائ وى او د هغۀ توکل دې
په خُدائ پاک باندې وى. ۱۱ خو تاسو خلق څوک چې خپل ځانونه بَلو غشو سره
وسله بند کړئ، نو هم د خپل اور د شغلو په رڼا کښې لاړ شئ. زما د لاس نه به تاسو ته
هم دا اجر ملاويږى، تاسو به سخت درد کښې راپريوځئ.

## د يروشلم دپاره د تسلۍ خبرې

**۵۱** ۱ ”ما ته غوږ ونيسئ، څوک چې صداقت غواړئ، او د مالِک خُدائ لټون
کوئ. د هغه ګټ په حقله سوچ وکړئ د کوم نه چې تراشلے شوى يئ، د هغه کان په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حقله سوچ وکړئ چې د کوم نه تاسو راویستلے شوی یئ. ۲ د خپل پلار نیکهٔ اِبراهیم
او مور ساره په حقله سوچ وکړئ، چې تاسو یې زیږولی یئ. کله چې ما اِبراهیم
راوغوښتلو، نو هغه بېاولاده وو، خو ما هغهٔ له برکت ورکړو او ډېر اولاد مې ورکړو.
۳ یقیناً چې مالِک خُدائ به بیا صیون له تسلی ورکړی. او د هغې په ټولو کنډرو به
ترس وکړی. د هغې صحرا به د باغِ عدن په شان ګلستان کړی، د هغې بنجره زمکه به د
مالِک خُدائ د باغ په شان شی. هلته به خندا او خوشحالی وی، او د ثناء صِفت او د
شکرانې حمدونه به وئیلے شی. ۴ زما خلقو بنی اِسرائیلو، ما ته غوږ ونیسئ، زهٔ چې
څهٔ وایم هغې ته توجو وکړئ، زهٔ به قومونو ته خپل تعلیمات وښایم، زما اِنصاف به د
هغوئ دپاره رڼا وی. ۵ زما رحم او اِنصاف زر راروان دی. زما خلاصون په لاره
دے. زما مضبوط لاس به قومونو له اِنصاف راوړی. لرې مُلکونه زما انتظار کوی،
هغوئ په دې طمع دی چې بچ یې کړم. ۶ بره آسمان ته وګورئ، او لاندې زمکې ته
وګورئ. آسمانونه به د لوګی په شان ورک شی، او زمکه به د زړې چړې په شان وَرسته
شی، او د دې ټول خلق به د مچانو په شان مړهٔ شی. خو زما خلاصون به د همېشه دپاره
وی، او زما صداقت به هیڅکله نهٔ ختمېږی. ۷ اے هغه خلقو چې څوک په صداقت
پوهېږئ، ما ته غوږ ونیسئ، اے هغه خلقو چې د چا په زړُونو کښې چې زما تعلیم
اچولے شوے دے. کله چې خلق په تاسو پورې خندا کوی یا ستاسو بېعزتی کوی، نو
مهٔ یرېږئ، ۸ ولې چې چینجی به هغوئ لکه د کپړې په شان وخوری، او چینجی به یې
لکه د وړئ په شان وخوری. خو زما صداقت به تر همېشه پورې وی، او زما خلاصون
به تر ټولو نسلونو پورې قائم وی.“ ۹ اے مالِکه خُدایه، پاڅه. ویښ شه او زمونږ مدد
وکړه. د خپل طاقت نه کار واخله او مونږ بچ کړه، خپل طاقت داسې استعمال کړه لکه
څنګه دې چې مخکښې استعمالولو. دا تهٔ وې چې سمندری بلا راحب دې ټوټې ټوټې
کړه. ۱۰ دا هم تهٔ وې چې سمندر دې اوچ کړو او په اوبو کښې دې لار جوړه کړه، نو
چې هغه څوک په دې ژور سمندر کښې تېر شی چې کوم دې بچ کول. ۱۱ د چا فدیه
چې مالِک خُدائ ورکړې ده نو هغوئ به راواپس شی، او څنګه چې صیون ته ننوځې نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خوشحالۍ نه به چغې وهی او سندرې به وائی. هغوئ به د همېشه دپاره خوشحاله وی،
او د غم او پرېشانۍ نه به په امن وی. ۱۲ ”زۀ، صرف زۀ تاسو له تسلی درکوم. نو بيا
تاسو د انسانانو نه ولې يرېږئ، چې هغوئ د واښو نه هم زر فنا کيږی؟ ۱۳ تاسو هغه
مالِک خُدائ هېر کړے دے چا چې پيدا کړئ، چا چې آسمانونه خوارۀ کړل او چې د
زمکې بنيادونه يې ولګول؟ تاسو هر وخت د هغه خلقو نه ولې په يره کښې يئ ځوک چې د
غصې نه په تاسو باندې ظلم زياتے کوی، ځوک چې ستاسو د تباه کولو دپاره تيار دی؟
اوس د هغوئ غصه چرته ده؟ ۱۴ قېديان به زر راخلاص شی، هغوئ به په قېدخانه
کښې نۀ مری او د هغوئ سره به د خوراک کمے نۀ وی. ۱۵ زۀ مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک يم، سمندر ما راپاڅولو او د دې چپې مې غضبناکې کړې. زما نوم مالِک
خُدائ ربُ الافواج دے. ۱۶ ما خپل کلام ستاسو په ژبه ګويا کړو، او د خپل لاس د
سورى لاندې مې تاسو پټ کړئ، آسمانونه مې خوارۀ کړل او د زمکې بنيادونه مې
کېښودل، او ما يروشلم ته وفرمائيل، تاسو زما خلق يئ.“

## د يروشلم د مشکلاتو ختمېدل

۱۷ ويښ شه. ويښ شه. پاڅه ودرېږه اے يروشلمه. تا د مالِک خُدائ د لاس نه هغه
جام څښلے دے کوم چې د هغۀ د غصې نه ډک وو، دا جام تا تر آخرى قطرې پورې
وڅښلو کوم چې د نشه ورو شرابو نه ډک وو. ۱۸ ستا چې څومره زامن شوی دی په
هغوئ کښې يو هم نشته چې ستا رهنمائى وکړی، تا چې څومره زامن لوئ کړی دی په
هغوئ کښې يو هم نشته چې تا د لاس نه ونيسی او بو دې ځی. ۱۹ په تا باندې دوه
افتونه راغلې دی يعنې تباهى او بربادى، جنګ او قحط. خو څوک پاتې دی چې تا سره
همدردى وکړی؟ او څوک پاتې دې چې تا له تسلی درکړی؟ ۲۰ ستا خلق د کمزورۍ د
وجې نه په هره کوڅه کښې غورزيږی، هغوئ بےمددګاره لکه د هوسۍ په شان په جال
کښې انښتی دی. او د مالِک خُدائ غضب په هغوئ نازل دے او خُدائ پاک هغوئ رټلی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی. ٢١ اے تاسو چې په مصيبت کښې ګېر يئ واورئ، څوک چې په نشه کښې يئ خو
د ميو له وجې نه نه. ٢٢ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک چې د خپل قوم دپاره جنګېږی
داسې فرمائی، "ګورئ، ما دا د نشه ورو شرابو نه ډک جام ستاسو د لاس نه لرې کړے
دے، نو تاسو به نور زما د غصې د جام نه نهٔ څښئ. ٢٣ دا به زهٔ هغه خلقو له ورکړم
چا چې په تاسو باندې ظلم زياتے کولو، هغه خلقو له چا چې تاسو په کوڅو کښې
څملولئ او پښې به يې درباندې کېښودې او په تاسو به ګرځېدل."

## د خُدائ پاک د يروشلم بچ کول

٥٢ ١ اے يروشلمه، پاڅه، ويښ شه. خپلې د طاقت جامې واغونده. اے مقدسې
ښارېې، د شان او شوکت والا جامې واغونده. ناسنته او ناپاک خلق به هيڅکله ستا په
دروازو بيا درننه نهٔ وځی. ٢ اے يروشلمه، د ځان نه خاورې وځنډه او پاڅه او په
تخت کښېنه. اے د صيون قيد شوې لورې، د غلامۍ زنځيرونه د خپلې غاړې نه وشلوه.
٣ مالِک خُدائ فرمائی، "کله چې تاسو غلامان شوئ، نو ستاسو په سر پيسې نهٔ وې
ورکړے شوې، او چې کله تاسو آزادولے شئ نو ستاسو په سر به پيسې نهٔ شی
ورکولے." ٤ مالِک خُدائ تعالىٰ فرمائی، "ډېره موده وړاندې زما خلق مِصر ته د څهٔ
مودې دپاره لاړل، خو اوس اسوريان بغير د څهٔ وجې په هغوئ باندې ظلم زياتے کوی."
٥ مالِک خُدائ فرمائی، "او په بابل کښې هم هغه کار شوے دے يعنې، زما خلق
قېديان دی او د هغوئ په سر هيڅ پيسې نهٔ دی ورکړے شوې. څوک چې په هغوئ
حکومت کوی نو هغوئ هر وخت زما د نوم سپکاوے کوی. ٦ نو داسې به زما خلقو
ته زما د نوم پته وی، او داسې به هم په هغه ورځ هغوئ ته پته ولګی چې هم زهٔ کلام کوم
او زهٔ حاضر يم." ٧ د هغوئ قدمونه څومره ښکلې دی چې په غرونو باندې روان دی
او زېرے راوړی. څکه چې هغه به د امن و امان پيغام او د خلاصون اعلان کوی، او
صيون ته به وائی، "ستا خُدائ پاک بادشاه دے." ٨ څوک چې د ښار حفاظت کوی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو هغوئ د خوشحالۍ چغې وهی، هغوئ په خپلو سترګو باندې ګورى چې مالِک خُدائ
صيون ته واپس راروان دے. ٩ اے د يروشلم کنډرو، په يو ځائ د خوشحالۍ سندرې
ووايئ. مالِک خُدائ به خپل ښار بچ کړى او خپلو خلقو له به تسلى ورکړى. ١٠ مالِک
خُدائ به د خپل مقدس طاقت نه کار واخلى، خُدائ پاک به خپل خلق بچ کړى، او ټول
قومونه او ټوله دُنيا به په خپلو سترګو دا وګورى. ١١ ځئ، ځئ، د دغه ځائ نه ځئ. چې
يو ناپاک څيز له هم لاس ورنۀ وړئ، څوک چې د مالِک خُدائ د کور سامان وړى تاسو
خپل ځانونه پاک وساتئ او لاړ شئ. ١٢ ضرورى نۀ ده چې تاسو په منډه لاړ شئ، او نۀ
تاسو ته اچانک د تېښتې ضرورت شته، ولې چې مالِک خُدائ به ستاسو نه وړاندې ځى،
د بنى اِسرائيلو خُدائ پاک به د وروستو نه ستاسو حِفاظت کوى.

## کړېدلے خِدمت کوونکے

١٣ ګورئ، زما خِدمت کوونکے به په خپل کار کښې کامياب شى، د هغۀ به ډېر زيات
عزت کيږى. ١٤ خو کله چې يې هغه وليدو نو ډېر خلق حېران شول، د هغۀ شکل
صورت داسې خراب وو چې هغه د نورو انسانانو په شان نۀ ښکارېدو. ١٥ اوس به ډېر
قومونه هغۀ ته حېران شى، او د هغۀ په وړاندې به د بادشاهانو د خولې نه خبرې نۀ وځى.
ځکه چې هغوئ به هغه څۀ وګورى چې د څۀ ورته وئيلے شوى نۀ وى، او هغوئ به په
هغه څۀ پوهه شى د څۀ چې يې اورېدلى نۀ وى.

٥٣ ١ زمونږ په پيغام چا يقين کړے دے؟ مالِک خُدائ خپل قوت په چا ظاهر
کړے دے؟ ٢ د مالِک خُدائ په وړاندې زما خِدمت کوونکى داسې وده وکړه لکه
څنګه چې يو نرم تېغ په زمکه جرړې نيسى. هغۀ څۀ شان شوکت او حُسن نۀ لرلو چې د
هغې په وجه مونږ ورباندې پام کړے وے. او نۀ په کښې څۀ داسې کشش وو چې مونږ
يې متاثره کړې وے. ٣ خلقو هغۀ ته سپک وکتل او هغه يې رد کړو، هغه د درد او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړاؤ سره مخ شو. او خلقو به هغهٔ ته دومره سپک کتل چې مخ به يې ترينه اړولو. موږ
د هغهٔ هيڅ قدر نهٔ کولو. ۴ خو بېشکه چې هغهٔ زموږ بيمارۍ او کمزورۍ اوچتې
کړې. خو بيا هم زموږ دا خيال وو چې هغهٔ له سزا ورکړې شوه، او دا چې خُدائ پاک
هغه ووهلو او د هغهٔ د ګناهونو سزا يې ورکړه. ۵ خو زموږ د ګناه په وجه هغه زخمي
شو، زموږ د بغاوت په وجه هغه چخنې کړې شو. چې کومه سزا ورکړې شوه نو د
هغې په وجه موږ ته شفا مِلاو شوه، هغهٔ چې کوم وهل وخوړل نو د هغې په وجه موږ
روغ شُو. ۶ موږ ټول د ورکو ګډو په شان يُو، موږ د خُدائ پاک د لارې نه اوړېدلی
يُو. هر يو کس په خپله مخه روان دے. خو بيا هم مالِک خُدائ زموږ د ټولو ګناهونه په
هغهٔ باندې واچول. ۷ هغهٔ باندې ظلم زياتے وشو، خو هغهٔ په خولهٔ باندې هيڅ هم ونهٔ
وئيل. لکه چې يو ګډُورے د حلالولو دپاره بوتلے شي، لکه چې يوه ګډه د وړۍ کلولو
والا په مخکښې خاموش وي، نو هم هغه شان هغهٔ د خولې نه يوه خبره هم نهٔ ويستله.
۸ هغه په دروغه مجرم وګرځولے شو او بوتلے شو. او هيچا د دې پرواه ونهٔ ساتله
چې هغه بېاولاده مړ شو، او هغه د ژوندو د زمکې نه لرې کړے شو. خو هغه زما د
خلقو د ګناه په وجه ووژلے شو. ۹ د هغوئ اراده وه چې د بدعمله خلقو سره يې ښخ
کړي، خو هغه د مالداره سړي په قبر کښې کېښودلے شو، خو هغهٔ هيڅ جرم هم نهٔ وو
کړے او نهٔ يې څوک دوکه کړي وُو. ۱۰ خو دا د مالِک خُدائ رضا وه چې هغه
ووهلے شي، او درد ورته مِلاو شي. کله چې د هغهٔ ژوند د ګناه دپاره کفاره شي، د هغهٔ
به ډېر اولاد وي. هغه به يو اوږد عُمر تېر کړي، او د هغهٔ په ذريعه به د مالِک خُدائ
مقصد پوره شي. ۱۱ کله چې هغه وګوري چې د هغهٔ د مصيبت اوچتولو په وجه هغهٔ
څهٔ حاصل کړي دي، نو هغه به مطمئن شي. زما صادق خِدمت کوونکے به ډېر خلق
صادقان کړي، ځکه چې هغه به د هغوئ ګناهونه اوچت کړي. ۱۲ نو زهٔ به هغهٔ له د
عزت مقام ورکړم، او زهٔ به د زورَورو سره مالِ غنيمت تقسيم کړم، ځکه چې هغهٔ خپل
ځان مرګ ته حواله کړو او هغه په باغيانو کښې حساب کړے شو. د ډېرو خلقو ګناه يې
واخستله او د بدعملو د ګناه معافي يې وغوښتله.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د امن و امان ابدی لوظ

٥٤ ١ مالِک خُدائ فرمائی، ”اے شنډې ښځې د چا چې اولاد نشته. د خوشحالۍ نه
چغې ووهه، د خوشحالۍ نه سندرې ووايه، ولې چې تا د ماشوم د راوړو درد نۀ دے تېر
کړے. ولې چې د شنډې ښځې بچی اوس د وادۀ شوې ښځې نه زيات دی. ٢ تاسو
چې په کومه خېمه کښې اوسېږئ هغه لويه کړئ او پردې يې خورې کړئ، بچت مۀ
کوئ، د خېمې پړی اوږدۀ کړئ او موږی يې کلک کړئ. ٣ ځکه چې تاسو به خپل
سرحدونه هر طرف ته خوارۀ کړئ، ستاسو اولاد به قومونه فتح کړی او چې کوم ښارونه
خوشې دی نو هغه به دوباره آباد کړی. ٤ يرېږئ مۀ، تاسو به نور د شرم سره نۀ مخ
کېږئ. شرمېږئ مۀ، تاسو به نۀ بې‌عزته کېږئ. تۀ به خپل د ځوانۍ شرم هېر کړې او د
کونډېدو رسوائی به ستا د ذهن نه ختمه شی. ٥ ځکه چې ستاسو خالِق به ستاسو
خاوند وی، د هغۀ نوم مالِک خُدائ ربُ الافواج دے. د بنی اِسرائيلو مقدس ذات ستاسو
خلاصونکے دے، هغه د ټولې دُنيا خُدائ پاک دے. ٦ مالِک خُدائ به تاسو بيا
راوغواړی داسې لکه چې خاوند ښځه پرېښې وی او سخته پرېشانه وی. تاسو د داسې
ښځې په شان يئ چې ځوانه وادۀ شوی وی او خاوند رد کړې وی. ستاسو خُدائ پاک
داسې فرمائی، ٧ د يوې لحظې دپاره ما تاسو پرېښودلئ، خو اوس ډېر لوئ رحم سره
به تاسو بيا راجمع کړم. ٨ ما د غصې په تاو کښې د لږ ساعت دپاره ستاسو نه مخ
واړولو، خو زۀ به تل په مينې سره په تاسو رحم کوم.“ ستاسو خلاصونکے مالِک خُدائ
داسې فرمائی. ٩ ”لکه څنګه چې د نوح په وخت کښې ما وعده کړې وه چې بيا به
هيڅکله په زمکه داسې سېلاب نۀ راځی. نو هغسې ما قسم کړے دے چې زۀ به بيا تاسو
ته نۀ غصه کېږم، او نۀ به تاسو رټم. ١٠ اګر کۀ غرونه لرې کړے شی او غونډۍ غېبې
شی، خو زما وفاداره مينه به ستاسو سره هيڅکله نۀ ختمېږی، او زما د امن لوظ به
هيڅکله تاسو سره نۀ ختمېږی.“ هغه مالِک خُدائ داسې فرمائی څوک چې په تاسو رحم
کوی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## نوے یروشلم

١١ مالِک خُدائ فرمائی، ”اے یروشلمه، په تا سخت طوفان تېر شو او هيچا هم تسلی
درنۀ کړے شوه. زۀ به تا د قيمتی کاڼو نه بيا آباد کړم او ستا بنيادونه به د نيلم کاڼو نه بيا
جوړ کړم. ١٢ ستا منارې به زۀ د ځلېدونکو عقيقو نه جوړې کړم، ستا دروازې به د
پړقېدونکو لعلونو نه جوړې کړم، او ستا دېوالونه به د قيمتی کاڼو نه جوړ کړم. ١٣ زۀ به
خپله به ستاسو ټولو بچو ته ښودنه کوم، او هغوئ به خېر خېريت سره وی. ١٤ ستا د
بادشاهت بنياد به په اِنصاف باندې وی، د ظلم زياتی نه به په امان يې، نۀ به تۀ يرېږې، او
نۀ به يره تا ته نزدې راځی. ١٥ کۀ څوک په تاسو باندې حمله کوی نو دا به زما د طرف
نه نۀ وی. نو هر څوک چې ستاسو خِلاف جنګ کوی هغه به شکست خوری. ١٦ ما
لوهار پيدا کړے دے، څوک چې د هوا په ذريعه سکارۀ ګرموی او وسله جوړوی. د
تباهۍ دپاره ما تباه کار هم پيدا کړی دی. ١٧ داسې وسله به نۀ وی چې تاسو ته ضرر
ورسوی، او څوک چې په تاسو اِلزام لګوی نو تاسو به د هغوئ خولې بندې کړئ. د
مالِک خُدائ خادِمان به د دې فائدو نه خوند اخلی، زۀ به د هغوئ حق څرګند کړم.“
مالِک خُدائ داسې فرمائی.

## د خُدائ پاک د رحم دعوت

۵۵ ١ مالِک خُدائ فرمائی، ”هر څوک چې تږی وی، راشئ اوبۀ وڅښئ. څوک چې
مال دولت نۀ لری، نو راشئ، واخلئ او وې خورئ. راشئ، مے او پئ واخلئ، دا مفت
دی. ٢ چې په څۀ باندې تاسو نۀ مړېږئ نو په هغې باندې پيسې ولې خرچ کوئ؟ چې
فائده نۀ درکوی نو په هغه خوراک پيسې ولې ورکوئ؟ غور سره ما ته غوږ شئ او ښۀ
خوراک کوئ. تاسو به د ډېرو مزيدارو خوراکونو نه خوند واخلئ. ٣ اوس غوږ ونيسئ
او ما له راشئ، نو تاسو به ژوندی اوسئ. زۀ به تاسو سره يو نۀ ختمېدونکے لوظ وکړم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زۀ به تاسو له هغه نۀ ختمېدونکې مينه درکړم چې ما يې د داؤد سره لوظ کړے وو.
۴ ګوره، ما هغه د قومونو ګواه جوړ کړو، ما هغه د قومونو مشر او فوجى آفسر جوړ
کړو. ۵ اوس به تاسو د بل مُلک هغه قومونه راوغواړئ، چې په يو وخت کښې هغوئ
تاسو نۀ پېژندئ، خو اوس به هغوئ په منډه منډه تاسو له راشى. زۀ مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک، د بنى اِسرائيلو مقدس ذات به دا هر څۀ وکړم، او تاسو له به عزت درکړم.
۶ د مالِک خُدائ لټون وکړئ کله چې هغه موندے شئ، هغۀ ته آواز وکړئ کله چې
هغه نزدې دے. ۷ بدعمله خلق دې خپلې د ژوند طريقې بدلې کړى او شرپسند دې
خپل خيالونه بدل کړى. او هغوئ دې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک ته راوګرځى، نو
هغه رحم کوونکے دے او کولاو زړۀ سره معاف کوى.“ ۸ مالِک خُدائ فرمائى، ”زما
خيالونه ستاسو د خيالونو په شان نۀ دى، او زما لارې ستاسو نه بدلې دى. ۹ لکه
څنګه چې آسمانونه د زمکې نه اوچت دى، نو هم دغه شان زما لارې او سوچونه هم
ستاسو نه اوچت دى. ۱۰ لکه څنګه چې باران او واوره د آسمان نه راوريږى او هسې
واپس نۀ ځى بلکې زمکه اوبۀ کوى. دې سره فصلونه راشنۀ کيږى زميندار له تخم او
اوړى له خوراک ورکوى. ۱۱ زما کلام هم، هم دغسې دے. چې زما د خولې نه وځى نو
خالى لاس به واپس نۀ راځى. دا به زما مرضى پوره کوى او په هغه هر څۀ کښې به
کامياب وى د څۀ دپاره چې ما لېږلے وى. ۱۲ تاسو به خوشحالۍ سره وځئ، او
سلامتۍ سره به بوتلے شئ. غرونه او د غرونو غونډۍ به په تېز آواز سندرې وائى، او په
پټى کښې ټولې ونې به د خوشحالۍ نه لاسونه پړقوى. ۱۳ چرته چې اوس د غنو بوټى
دى نو هلته به د سبر ونې راوټوکيږى، او د ازغو په ځائ کښې به د نختر ونې
راوټوکيږى. دې سره به د مالِک خُدائ نوم ته جلال ملاويږى، دا به د هغۀ د قدرت او د
مينې يو نۀ ختمېدونکې نښه وى.“

## د ټولو قومونو دپاره برکت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵۶ ۱ مالِک خُدائ خپلو خلقو ته فرمائی چې، ”هغه څۀ کوئ څۀ چې صحيح او د
اِنصاف دی، ولې چې زۀ زر راروان يم چې تاسو له خلاصون درکړم، او ستاسو مينځ
کښې خپل صداقت څرګند کړم. ۲ بختور دی هغوئ چې په صداقت کلک ولاړ وی.
بختور دی هغوئ چې د سبت د ورځې بې‌حرمتی نۀ کوی بلکې منی يې، او خپل ځانونه د
بدعملئ نه ساتی.“ ۳ د پردی مُلک کوم خلق چې د مالِک خُدائ منونکی جوړ شوی
دی نو هغوئ دې ونۀ وائی چې، ”مالِک خُدائ به مونږ خامخا د خپلو خلقو نه جدا
کړی.“ او نۀ دې خصی وائی چې، ”زۀ خو اوچ بوټے يم، نۀ مې بچی شته او نۀ مستقبل.“
۴ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”کوم خصيان چې د سبت ورځې د منلو په وجه زما
درناوے کوی او هغه کار کوی چې زۀ ورباندې رضا کېږم او زما په لوظ ټينګ ولاړ
وی، ۵ نو زۀ به هغوئ له زما په خپل کور او د هغې چارديواری کښې يو داسې يادګار
او نوم ورکوم چې د لوڼو او زامنو نه به زيات ښۀ وی. او کوم نوم به چې زۀ هغوئ له
ورکوم نو هغه به تل تر تله وی او هيڅکله به ختمېږی نه. ۶ او مالِک خُدائ د پردی
مُلک هغه خلقو ته فرمائی چې کوم د هغۀ منونکی جوړ شوی دی، څوک چې د هغۀ سره
مينه کوی او د هغۀ خِدمت کوی، کوم چې د سبت ورځ منی او د هغۀ په لوظ ټينګ ولاړ
وی، ۷ نو زۀ به هغوئ خپل مقدس غر صيون ته راولم، او خپل د دُعا کور کښې به د
هغوئ زړونه د خوشحالئ نه ډک کړم. او زۀ به د هغوئ سوزېدونکې نذرانې او قربانئ
قبولې کړم. ځکه چې زما کور به د ټولو قومونو دپاره د دُعا کور بللے شی.“ ۸ مالِک
خُدائ تعالیٰ، چا چې خپل خلق بنی اِسرائيليان د جلاوطنئ نه راوستی دی هغه فرمائی
چې هغه به نور خلق هم راجمع کړی هغوئ سره څوک چې مخکښې نه راجمع دی.

## د بنی اِسرائيلو د مشرانو بدعملی

۹ اے ټولو بلاګانو. اے د ځنګل ټولو بلاګانو راشئ. او زما خلق لواړ تېر کړئ. ۱۰
زما د خلقو مشران لکه د محافظانو په شان دی څوک چې په سترګو ړاندۀ دی، او ټول د
هيڅ نه هم نۀ دی خبر. هغوئ ټول د ګونګی سپی په شان دی او غپلے نۀ شی، هسې پراتۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وی او خویونه کوی. د هغوئ خوب ډېر خوښ دے. ۱۱ هغوئ د لالچی سپو په شان
دی چې هیڅکله نۀ مړېږی. باوجود د دې چې هغوئ ته شپانۀ وئیلے شی خو هغوئ په
هیڅ هم نۀ پوهیږی. هغوئ ټول په خپله مخه روان دی او خپلې ګټې پسې ګرځی. ۱۲
هغوئ وائی، "راځئ چې مے واخلو او ځانونه پرې ښۀ په سور کښې کړُو. او سبا به د
نن نه هم زیاته خوشحالی کوُو."

## د بُت پرستئ په حقله خبردارے

۵۷ ۱ صادق سړے مړ شی او هیڅ څوک يې پرواه نۀ ساتی. دیانتدار خلق د دُنیا نه
اوچت کړے شی، خو هیڅوک پرې نۀ پوهیږی. هیڅوک پرې نۀ پوهیږی چې صادقان د
بدئ نه بچ کېدو دپاره دُنیا نه اوچت کړے شوی دی. ۲ څوک چې د خُدائ پاک په
لارو ژوند تېر کړی، او چې کله وفات شی نو ورته آرام او سکون ملاویږی. ۳ خو اے
د کوډګرې بچو، د زناکارې او کنجرې بچو، دیخوا راشئ. ۴ تاسو چا پورې ټوقې
کوئ؟ چا ته خپل بوتاړ وران کړئ او ژبې ورته راویاسئ؟ تاسو هم د دوکه بازو او
ګناهګارو بچی یئ. ۵ تاسو د بُتانو عبادت داسې کوئ چې د هر شین بوټے او د خېړئ
د مقدسو ونو لاندې زنا کوئ. تاسو د ګټو په غارونو کښې او وادیانو کښې خپل بچی
قربانی کوئ. ۶ د وادیانو هوار کاڼی ستاسو معبودان دی. تاسو دې ته د څښلو نذرانې
تویَوئ او د غلې نذرانې ورته پېش کوئ. ستاسو خیال دا دے څۀ چې زۀ په دې هر څۀ
باندې خوشحالیږم؟ ۷ تاسو په هر اوچت غر د پاسه زنا کړې ده. هلته تاسو بُتانو ته
نذرانې پېش کړی دی او ما سره مو بېوفائی کړې ده. ۸ تا د خپل کور په چوکاټونو او
د دروازو شاته د بُتانو نښې ولګولې. زۀ دې پرېښودم او د نفرت نه ډکو بُتانو سره کټ ته
اوختې. تا د هغوئ سره سودا کړې ده. د هغوئ بربنډو جسمونو ته کتل تا له خوند
درکوی. ۹ تۀ د زیتُونو تیلو، او ډېرو عطرو سره مولک بُت له لاړې. د نوی معبودانو
پیدا کولو دپاره چې مینه ورسره وکړې تا خپل پیغام وړُونکی لرې لرې تر دې چې عالمِ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ارواح پورې دې ولېږل. (۱۰) د نورو معبودانو په لټولو کښې تاسو خپل ځانونه سترې
کړئ، خو تاسو هیڅکله نۀ وایئ چې، "دا فضول دی." ستاسو شوق تاسو له طاقت
درکوی نو ځکه تاسو سترې کېږئ نه. (۱۱) تۀ د چا نه دومره سخت یرېدې چې تا ما ته
دروغ ووئیل، نۀ دې زۀ یاد کړم او نۀ دې زما پرواه وکړه؟ زۀ چې دا دومره موده
خاموش وم نو په دې وجه تۀ زما نه نۀ یرېږې څۀ؟ (۱۲) زۀ به ستا تش د نامې صداقت
او کارونه خلقو ته څرګند کړم. او دا به ستا هیڅ په ښه نۀ راځی. (۱۳) کله چې تاسو د
مدد دپاره آواز وکړئ، نو ستاسو هغه بُتان دې تاسو بچ کړی کنه. هوا به هغوئ اوچت
کړی، د ساه یو پوکے به هغوئ یوسی. خو څوک چې په ما ایمان لری نو هغه به د مُلک
مالِک شی، او زما د مقدس غر وارث به شی.

## د مدد او د روغولو دپاره د خُدائ پاک لوظ

(۱۴) مالِک خُدائ فرمائی، "لار جوړه کړئ، لار جوړه کړئ. دا تیاره کړئ او زما د خلقو
د لارې نه هر خنډ لرې کړئ. (۱۵) زۀ هغه مقدس خُدائ تعالیٰ یم، چې د همیشه دپاره
ژوندے یم. زۀ په اوچت او مقدس مقام کښې اوسېږم، خو زۀ د هغه خلقو سره هم
اوسېږم چې څوک د روح عاجزان او توبه ګار وی، نو چې داسې زۀ د هغوئ خوشحالی
او حوصله بحال کړم. (۱۶) زۀ به همیشه خپلو خلقو سره جنګ نۀ کوم، او تل تر تله به
ترینه خفه نۀ یم. کۀ ما داسې وکړل نو د خلقو نه به ساه وځی، هغه ژوندون ورکوونکی
ساه چې ما تخلیق کړې ده. (۱۷) د هغوئ د بدترین لالچ په وجه زۀ هغوئ ته په قهر وم،
نو په دې وجه ما هغوئ له سزا ورکړه او هغوئ مې رد کړل. خو هغوئ ضدیان ؤو او بیا
بیا به خپلو لارو ته راواپس کېدل. (۱۸) هغوئ چې څۀ کوی ما هغه لیدلی دی، خو
باوجود د دې به زۀ هغوئ ښۀ کړم. زۀ به د هغوئ رهنمائی کوم او چې څوک غمژن وی
نو زۀ به تسلی ورکوم. (۱۹) زۀ به د هغوئ په ژبه باندې د حمد و ثناء الفاظ راولم. کۀ
څوک لرې وی او کۀ نزدې وی، نو زۀ به هغه ټولو ته امن پیش کوم، او زۀ به ورله شفا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکوم. ۲۰ خو بدعمله خلق د چپې وهونکی سمندر په شان دی، چې هیڅکله په آرام
کیږی نه او چپې یې ځان سره ګند ګریل راوړی.“ ۲۱ زما مالِک خُدائ فرمائی، ”د
بدعمله خلقو دپاره امن نشته.“

## حقيقي روژه

**۵۸** ۱ ”په زوره چغې ووهئ، ورو ورو خبرې مۀ کوئ. د بیګل په شان په اوچت
آواز سره زما خلقو بنی اِسرائیلو ته د هغوئ د ګناه او بغاوت په حقله ووایئ. ۲ هغوئ
هره ورځ زما لټون کوی او زما د لارې په پېژندلو خوشحالیږی. داسې لکه چې هغه یو
ډېر صادق قوم وی او د خپل خُدائ پاک حُکمونه یې رد کړې نۀ وی. هغوئ زما نه د
اِنصاف فیصلې غواړی، او داسې ښکاروی چې خُدائ پاک ته په نزدې راتلو
خوشحالیږی. ۳ هغوئ وائی، ”کله چې مونږ روژې نیسو نو تۀ پرې ولې نۀ
خوشحالیږې؟ مونږ ځانونه دومره عاجز کړُو او تۀ هډو توجو نۀ کوې.“ ګورئ، حقیقت
دا دے چې کله تاسو روژه نیولې وی نو هم په هغه وخت تاسو په خپلو فائدو پسې ګرځئ
او د خپلو مزدورانو سره ظلم زیاتے کوئ. ۴ د داسې روژې نۀ څۀ فائده چې تاسو په
کښې جنګ جګړې کوئ؟ کۀ تاسو داسې قسمه روژې ساتئ نو د دې توقع هم نۀ شئ
کولے چې ستاسو آواز به آسمان ته ورسی. ۵ ولې زۀ داسې روژه خوښوم څۀ چې
انسان دې په کښې یوې ورځې دپاره خپل ځان عاجز کړی؟ او د لوخې د پاڼې په شان
خپل سرونه ټیټ کړی او د ټاټ په جامو کښې په ایرو دپاسه ښملی؟ تاسو دې ته روژه
وایئ؟ دا ورځ به مالِک خُدائ ته قبوله وی څۀ؟ ۶ نه، زۀ چې څنګه روژه غواړم هغه
داسې ده یعنې، د بې‌اِنصافئ په زنځیرونو کښې راګیر خلق آزاد کړئ، د خپلو ماتحتو بوج
کم کړئ. مظلومان آزاد کړئ، هر جغ مات کړئ. ۷ اوږې خلق په خپل خوراک کښې
شریک کړئ، او بې‌کوره غریبانانو له پناه ورکړئ. چا ته چې د جامو حاجت وی نو
هغوئ له جامې ورکوئ او د خپلو خپلوانو سره د مدد کولو نه مۀ پټېږئ. ۸ نو بیا به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو لکه د سحر د نمر په شان ځلېږئ، او ستاسو زخمونه به زر زر جوړ شی. او
ستاسو صداقت به ستاسو نه مخکښې روان وی، او د مالِک خُدائ جلال به د وروستو
نه ستاسو حِفاظت کوی. ۹ نو بيا به تاسو آواز کوئ او مالِک خُدائ به جواب
درکوی، تاسو به د مدد دپاره سوال کوئ او مالِک خُدائ به فرمائی، ”زۀ حاضر يم.“ کۀ
تاسو ظلم زياتے، بل ته ګوته نيول او د چُغلۍ خبرې پرېږدئ، ۱۰ کۀ تاسو اوږو خلقو
له روټۍ ورکړه او د مظلومانو مدد مو وکړو، نو بيا به ستاسو رڼا په تيارۀ کښې
وځلېږی، او چې ستاسو نه ګېرچاپېره کومه تيارۀ وی نو هغه به د غرمې په رڼا بدله شی.
۱۱ نو زۀ به هميشه ستاسو لارښودنه کوم او په اوچ بيابان کښې به هم ستاسو حاجتونه
پوره کوم. او زۀ به ستاسو وجود مضبوط کړم. تاسو به د يو داسې باغ په شان يئ چې
ډېرې تېرې اوبۀ لری، د هغه چينې په شان چې هيڅکله نۀ اوچيږی. ۱۲ او ستاسو هغه
پخوانی کنډرات به دوباره آباد کړے شی. تاسو به تېرو نسلونو بنيادونه بيا آباد کړئ. او
بيا به تاسو ديوالونه دوباره جوړولو والا، او لارې کوڅې دوباره آبادولو والا ياديږئ.“

## د سبت ورځې د منلو اجر

۱۳ ”کۀ تاسو د سبت ورځ يعنې زما په مقدسه ورځ کښې کاروبار نۀ کوئ، او دې ته د
خوشحالۍ ورځ وايئ، دا د مالِک خُدائ مقدسه ورځ ګڼئ، د دې ادب کوئ او په دې ورځ
خپل د روزانه کارونه نۀ کوئ او په خپلو فائدو پسې نۀ ګرځئ، او فالتُو خبرې نۀ کوئ،
۱۴ نو بيا به تاسو د مالِک خُدائ سره په تعلق لرلو خوشحاله شئ. او زۀ به تاسو له
لوئ عزت درکړم او په هغه ميراث به مو ماړۀ کړم د کوم لوظ چې ما ستاسو پلار نيکۀ
يعقوب سره کړے دے. ما، مالِک خُدائ دا فرمائيلی دی.“

## د ګناه خلاف خبردارے

۵۹ ۱ واورئ، د مالِک خُدائ لاس دومره وړوکے نۀ دے چې هغه تاسو بچ کولے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نهٔ شی او نهٔ یې غوږ کُوڼ دے چې ستاسو آواز نهٔ اوری. ۲ خو ستاسو ګناه د خُدائ پاک او ستاسو تر مينځه ديوال جوړ شوے دے. ستاسو ګناهونو د هغهٔ مخ ستاسو نه پټ کړے دے، نو په دې وجه هغه ستاسو نهٔ اوری. ۳ ځکه چې ستاسو لاسونه خونی، او ستاسو ګوتې په ګناه ککړې دی. ستا شونډې دروغژنې دی او خولهٔ دې د بدعملۍ پس پس کوی. ۴ په عدالت کښې څوک هم د اِنصاف مقدمه نهٔ چلوی، څوک هم د رښتيا دليلونه نهٔ پيش کوی. خلق حقيقت نه خالی خبرو باندې اعتبار کوی او دروغ وائی، هغوئ د بدعملۍ نه اُميدواره شی او بيا ترينه ګناه پيدا شی. ۵-۶ هغوئ د زهرژنو مارانو په هګو کښېنی چې بچی ترې راوځی. څوک چې د هغوئ هګۍ وخوری نو مړهٔ شی او چې ماتې شی نو زهرژن مار ترينه راوځی. دا خلق د جولا جال جوړوی او داسې کپړه ترې جوړوی چې هيڅ د کار نهٔ وی. هغه کپړه چې هغوئ جوړه کړه خپل ځان پرې پټولے نهٔ شی. د هغوئ عملونه هم د ګناه دی، او ظلم زياتے د هغوئ کار دے. ۷ بدعملۍ له هغوئ په منډه ځی، او د بېګناه وينې تويولو دپاره تېزی کوی. د هغوئ خيالونه د ګناه دی، او هر چرته چې ځی نو تباهی او بربادی کوی. ۸ نه هغوئ د امن لار پيژنی او نه د هغوئ په لارو کښې اِنصاف شته. هغوئ خپلې لارې کږې وږې جوړې کړې دی، نو هر څوک چې په دې لار ځی هغه امن نهٔ پيژنی.

## د خلقو د ګناه اِقرار کول

۹ نو ځکه اِنصاف زمونږ نه لرې دے او صداقت مونږ ته رارسی نه. مونږ د رڼا په انتظار کښې يُو، خو ګوره صرف تيارهٔ راته ښکاری. مونږ د سپينې رڼا په اُميد کښې يُو خو په تکه توره تيارهٔ کښې ګرځُو. ۱۰ او مونږ د ړندو په شان لاس په ديوال باندې اېښودلو اېښودلو سره لار معلوموو، د هغه خلقو په شان چې بلکل سترګې نهٔ لری. مونږ د غرمې هم داسې تيندکونه خورو لکه چې شپه وی، مونږ په ژوندو کښې د مړو په شان يُو. ۱۱ مونږ ټول لکه د ميلوګانو غوريږُو، لکه د کونترو غورغور کوُو، مونږ د اِنصاف

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په انتظار کښې يُو خو شته دے نه، مونږ د خلاصون په انتظار کښې يُو خو دا زمونږ نه
لرې دے. ۱۲ زمونږ جرمونه ستا په وړاندې انبار دى، او زمونږ ګناهونه زمونږ خلاف
ګواهى کوى. مونږ ته د خپل بغاوت احساس شته او مونږ ته پته ده چې مونږ څومره
ګناهګار يُو. ۱۳ مونږ د مالِک خُدائ خِلاف بغاوت کړے دے او د هغهٔ مو اِنکار کړے
دے، مونږ خپل خُدائ پاک ته شا کړې ده. زمونږ خبرې د ظلم او بغاوت نه ډکې دى.
مونږ به دروغ جوړول او بيا به مو دغه دروغ په عمل کښې راوستل. ۱۴ اِنصاف
وروستو شوے دے او صداقت لرې ولاړ دے. رښتيا د ښار په چوک کښې تيندک
خوړلو سره راپرېوته، او ديانتدارى ورته ورداخلېدے نۀ شى. ۱۵ رښتيا هيڅوک هم نۀ
وائى، او څوک چې غلط کار نه لاس اخلى هغه لوټ کيږى. مالِک خُدائ دا وليدل او هغه
په دې نارضا وو چې اِنصاف نشته. ۱۶ هغهٔ وکتل چې هيڅوک هم نۀ وو، هغه حيران
شو چې د خلاصى والا څوک هم نۀ وو چې د مظلوم مدد وکړى. خو بيا د هغهٔ خپل لاس
هغهٔ له خلاصون ورکړو، او د هغهٔ صداقت د هغهٔ مدد کولو. ۱۷ هغهٔ صداقت د زغرې
په شان واغوستو او د خلاصون ټوپۍ يې په سر کړه. د بدل جامې يې واغوستې او د
غيرت څادر يې ځان نه تاو کړو. ۱۸ هغه به خپلو دشمنانو له د هغوئ د بدو عملونو
سزا ورکړى. د هغهٔ غضب به د هغهٔ په مخالفينو راګزار شى. هغه به د دُنيا تر آخرى سره
پورې دوئ له سزا ورکړى. ۱۹ نو بيا به د نمرپرېواتهٔ په طرف خلق د مالِک خُدائ د
نوم نه يرېږى او نمرخاتهٔ په طرف خلق به د هغهٔ د نوم جلال بيانوى. ځکه چې هغه به د
يو تېز سيلاب په شان په هغوئ راشى لکه چې د مالِک خُدائ باد راروان کړے وى. ۲۰
مالِک خُدائ فرمائى چې، ”يو خلاصونکے به صيون ته راځى، د يعقوب هغه اولاد له
چې د خپلو ګناهونو نه اوړى. ۲۱ او ترڅو چې زما خبره ده نو زۀ به هغوئ سره يو لوظ
وکړم. زما روح چې په تاسو دے او زما کلام چې ما ستاسو په خولهٔ کښې اچولے دے،
هغه به هيڅکله ستاسو د خولې نه، ستاسو د اولاد د خولې نه او د هغوئ د اولاد د خولې
نه لرې نۀ شى. دا د مالِک خُدائ وينا ده او تر هميشه هميشه پورې به هم داسې وى.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یروشلم د راتلونکي وخت شان او شوکت

٦٠ ۱ پاڅه، وځلېږه. ځکه چې ستا نُور راغلے دے، او د مالِک خُدائ جلال په تا
ځلېدلے دے. ۲ ګورئ، داسې لکه چې په زمکه تيارۀ خوره وی او قومونه تکې تورې
تيارۀ لاندې پټ وی، خو په تا باندې به د مالِک خُدائ نُور ځلېږی او د هغۀ جلال به ستا
دپاسه ښکاری. ۳ قومونه به ستا نُور له راشی، او بادشاهان به ستا د سحر راختونکې
رڼا له راشی. ۴ خپل ځان نه ګېرچاپېره نظر واچوه او وګوره، هغوئ ټول راغونډېږی
او تا له راځی. ستا زامن به د لرې لرې نه راشی، او ستا لوڼه به په غېږ کښې راوستلے
شی. ۵ بيا به تۀ دا وګورې او خوشحاله به شې، ستا زړۀ به غټ شی او د خوشحالئ
نه به درزېږی. ځکه چې د لرې مُلکونو خزانې به تا له راوړے شی، او د قومونو دولت به
تا له راشی. ۶ د اوښانو غټې قافلې به تا له راشی، د ميديان او عيفه نه به اوښان
راشی. هغوئ به د شيبا نه راشی او سرۀ زر او خوشبودارې مصالحې به راوړی او د
مالِک خُدائ ثناء صِفت به کوی. ۷ د قيدار ټولې ګډې چېلئ به تا له راوستے شی، او
د نبايوت ټول ګډان به ستا خِدمت دپاره حاضر کړے شی. زۀ به په قربان ګاه د هغوئ
قربانيانې قبولې کړم او خپلې عبادتخانې له به شان او شوکت ورکړم. ۸ دا څوک دی
چې د ورېځې په شان رالوځی، لکه چې ګوګوشتکې جالې ته راروانې وی؟ ۹ دا د
ترسيس سمندری جهازُونه دی چې تا له راروان دی. ځکه چې دا جزيرې په ما يقين
ساتی. دا سمندری جهازونه ستا اولاد سره د هغوئ د سرو زرو او سپينو زرو د لرې
لرې مُلکونو نه راولی، او داسې به ستا د مالِک خُدائ د نوم درناوے وشی، کوم چې د
بنی اِسرائيلو مقدس ذات دے، ځکه چې هغۀ تا له شان او شوکت درکړے دے. ۱۰ د
پردی مُلک خلق به ستا دېوالونه بيا جوړ کړی، او د هغوئ بادشاهان به ستا خِدمت
کوی. ما په غصه کښې تا له سزا درکړه، خو اوس به زۀ خپل فضل سره په تا رحم
وکړم. ۱۱ ستا دروازې به تل کولاو وی، شپه او ورځ به دا نۀ بندېږی، ځکه چې د
قومونو مال دولت او د هغوئ ګرفتار شوی بادشاهان به د فتحې په جلوس کښې ښار ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دننه راوستل شی. ۱۲ خو چې کوم قوم او بادشاهی ستا خِدمت نۀ کوی نو هغوئ به
برباد شی، هغوئ به په مکمل طور تباه شی. ۱۳ د لبنان شان او شوکت به تا له راشی.
د نختر، د صُندل او د سبر ونې به تا له راشی چې زما کور ښائسته کړے شی او داسې
به زۀ خپل کور له جلال ورکوم. ۱۴ کومو خلقو چې به په تا ظلم زياتے کولو نو د
هغوئ اولاد به راځی او د عزت نه به تا ته ټيټيږی. هر چا چې ستا سپکاوے کړے دے
نو هغه به ستا پښو ته ټيټيږی. هغوئ به تا ته ”د مالِک خُدائ ښار“ يا ”د بنی اِسرائيلو د
مقدس ذات صيون“ نوم اخلی. ۱۵ اول تۀ رد کړے شوے وې او خلقو به تا نه نفرت
کولو، او نۀ به څوک په تا کښې تېريدل. خو اوس به زۀ تا د همېشه دپاره ښائسته کړم او
د ټولو نسلونو دپاره به د خوشحالۍ ځائ يې. ۱۶ طاقتور بادشاهان او زورَور قومونه به
ستا هر ضرورت پوره کړی، داسې لکه چې تۀ يو ماشوم يې او د مَلِکې سينه روې. بيا به
تا ته پته ولګی چې زۀ مالِک خُدائ ستاسو خلاصونکے، حفاظت کوونکے د بنی
اِسرائيلو طاقتور حکمران يم. ۱۷ زۀ به ستا زيړ په سرو زرو، اوسپنه په سپينو زرو،
لرګی په زيړو او کاڼے په اوسپنه بدل کړم. امن به ستا رهنما او صداقت به ستا
حکمران جوړ کړم. ۱۸ ستا په مُلک کښې به نور د ظلم زياتی، تباهۍ او بربادۍ ذکر
قدرې نۀ کيږی. تۀ به خپلو ديوالونو ته خلاصون او دروازو ته حمدوثناء نوم اخلې. ۱۹
تا ته به نور د ورځې د نمر ضرورت نۀ وی او د شپې به درته د سپوږمۍ ضرورت نۀ
وی، ځکه چې مالِک خُدائ به ستاسو نۀ ختمېدونکے رڼا وی او خُدائ پاک به ستاسو
جلال وی. ۲۰ ستا نمر به هيڅکله نۀ پرېوځی او نۀ به دې کله سپوږمۍ کوزيږی. ځکه
چې مالِک خُدائ به ستا ابدی نُور وی، او ستا د غم ورځې به ختمې شی. ۲۱ ستا د
قوم ټول خلق به صادقان وی، او هغه مُلک به د همېشه دپاره د هغوئ په قبضه کښې
وی. ما هغوئ په خپلو لاسونو لکه د ونو په شان کَرلی دی، ترڅو خپله لوئی او جلال
ټولو ته ښکاره کړم. ۲۲ ستا ټولو نه وړه او کمزورې خاندان به هم د يو طاقتور قوم په
شان لويه شی. په مقرر وخت به زۀ داسې وکړم. زۀ مالِک خُدائ يم.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بچ کېدو زېرے

٦١ ١ د مالِک خُدائ روح په ما نازل دے ځکه چې زهٔ هغهٔ مسح کړے يم، او دې
له يې رالېږلے يم چې غريبانانو ته زېرے ورکړم، مات شوى زړونه روغ کړم، د
خلاصون اعلان وکړم او غلامانو ته آزادى ورکړم. ٢ هغهٔ زهٔ د دې دپاره رالېږلے يم
چې د مالِک خُدائ د برکت نه ډک کال اعلان وکړم، او د خُدائ پاک د بدل اخستلو
ورځ راغلې ده چې ټولو ماتم کوونکو ته تسلى ورکړم. ٣ څوک چې په صيون کښې
ماتم کوى نو هغوئ له به د ايرو په ځائ ښائسته تاج ورکړم، او د غم په ځائ به
خوشحالى ورکړم، او د پرېشانۍ په ځائ به حمدوثناء ورکړم. هغوئ به په خپل صداقت
کښې د څېړۍ د داسې ونو په شان وى چې مالِک خُدائ په خپله د خپل جلال دپاره
کَرلى وى. ٤ هغوئ به پخوانى کنډرات بيا آباد کړى او د هغه ځايونو مرمت به وکړى
کوم چې ډېره موده مخکښې تباه شوى وُو. هغوئ به هغه تباه شوى ښارونه بيا قائم کړى
کوم چې تر ډېرو نسلونو پورې غېر آباد وُو. ٥ د نورو مُلکونو خلق به ستاسو خِدمت
کوى. هغوئ به ستاسو د رَمو خيال ساتى، ستاسو پټو کښې به يوه کوى او ستاسو د
انګورو د باغونو خيال به ساتى. ٦ په هغه وخت به تاسو د مالِک خُدائ اِمامان
يادېږئ، او خلق به تاسو ته د خُدائ پاک خادِمان وائى. تاسو به د نورو قومونو د مال
دولت نه خوند واخلئ او د هغوئ نه چې کوم مال حال تاسو ته ملاويږى په هغې به لافې
وهئ. ٧ د بې‌عزتۍ او سپکاوى په ځائ به تاسو ته يو په دوه عزت درکړے شى. په
خپل مُلک کښې به تاسو د مال دولت يو په دوه حِصه دار يئ، او ستاسو خوشحالى به د
هميشه دپاره وى. ٨ مالِک خُدائ فرمائى، ”زهٔ د اِنصاف سره مينه کوم او زهٔ د غلا او
بدۍ نه نفرت کوم. زهٔ به وفادارۍ سره خپلو خلقو له د هغوئ اجر ورکړم او د هغوئ
سره به د هميشه دپاره يو لوظ وکړم. ٩ د هغوئ نسل به په قومونو کښې او د هغوئ
اولاد به په اُمتونو کښې مشهور شى، هر څوک چې هغوئ وګورى نو پته به ورته لګى چې
دا هغه خلق دى چا له چې مالِک خُدائ برکت ورکړے دے.“ ١٠ زهٔ په مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې ډېر خوشحاله يم. زما ځان د خُدائ پاک په تعريف کښې د خوشحالۍ سندرې
وائی. ځکه لکه څنګه چې د وادۀ زلمے د وادۀ په جوړه کښې او ناوې په کالو ځان
سنګار کړے وی داسې مالِک خُدائ زۀ د خلاصون په لباس او د صداقت په څادر کښې
رانغښتے يم. (١١) لکه څنګه چې زمکه شينکے راټوکوی او باغ خپل تخم زرغونوی، نو
داسې به خُدائ تعالىٰ خلق صداقت ته جوړ کړی او دوئ به د ټولو قومونو په مخکښې د
هغۀ ثناء او صِفت وکړی.

## د صيون خلاصون

62 (١) د صيون د خاطره به زۀ غلے نۀ کښېنم، د يروشلم د خاطره به زۀ تر هغې
پورې آرام نۀ کوم چې د هغې صداقت د سحر د رڼا په شان ونۀ ځليږی او د هغې
خلاصون د مشعل په شان ونۀ ځليږی. (٢) قومونه به ستا صداقت ووينی، او ټول
بادشاهان به ستا شان او شوکت وګوری. او تا ته به يو نوے نوم درکړے شی، يو داسې
نوم چې مالِک خُدائ به په خپله خولۀ دربانديږ ايښے وی. (٣) نو تۀ به د مالِک خُدائ
په لاس کښې د شاندار تاج په شان يې او د خپل خُدائ پاک په لاس کښې به د شاهی
پټکی په شان يې. (٤) تا ته به بيا هيڅکله "پرېښودلے شوے ښار" نوم نۀ شی اخستلے،
او نۀ به ستا زمکې ته "خوشے مُلک" نوم اخستلے شی. ستا نوے نوم به "د خُدائ پاک
د خوشحالۍ ښار" او "د خُدائ پاک ناوې" وی، ځکه چې مالِک خُدائ ستا نه خوشحال
دے او ستا نه به خپله ناوې جوړه کړی. (٥) لکه څنګه چې يو زلمے يوې پېغلې سره
وادۀ کوی، نو داسې به ستا زامن تا سره لوظ وکړی. لکه څنګه چې د وادۀ زلمے د
خپلې ناوې سره خوشحاله وی، نو داسې خُدائ پاک به ستا نه خوشحاله وی. (٦) اے
يروشلمه، ستا په ديوالونو ما څوکيداران ودرولی دی، هغوئ به شپه او ورځ مسلسل دُعا
کوی. تاسو چې څوک مالِک خُدائ ته دُعا کوئ هيڅ آرام مۀ کوئ. (٧) او مۀ مالِک
خُدائ آرام ته پرېږدئ ترڅو چې هغۀ يروشلم قائم کړی نۀ وی او د دُنيا دپاره يې د فخر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باعث جوړ کړی نۀ وی. ۸ مالِک خُدائ په خپل ښی لاس او زورَور مټ باندې قسم
خوړلے دے او لوظ یې کړے دے چې، ”زۀ به بیا ستا غله ستا په دشمنانو نۀ خوروم،
او نۀ به محنت سره جوړ شوی ستا مے د پردی مُلک خلقو باندې څښوم. ۹ خو چا
چې دا غله ریبلې وی نو هغوئ به دا خوری او د مالِک خُدائ ثناء صِفت به کوی. او چا
چې دا انګور راټول کړی وی نو هغوئ به په خپله د دې شراب د مالِک خُدائ د کور په
دربار کښې وڅښی.“ ۱۰ بهر لاړ شئ، د ښار دروازو نه بهر لاړ شئ. او چې کوم خلق
واپس راځی نو د هغوئ دپاره یو سړک جوړ کړئ. یو لوئ سړک تیار کړئ، د دې نه
کاڼی لرې کړئ. یوه جنډا ولګوئ چې قومونو ته پته لګی. ۱۱ ګورئ، مالِک خُدائ ټولې
دُنیا ته دا اعلان کوی، ”د صیون لور ته ووایئ چې ګورئ، ستاسو خلاصون راتلونکے
دے. ګورئ، د هغۀ اجر د هغۀ سره دے، او د هغۀ انعام د هغۀ نه مخکښې مخکښې روان
دے.“ ۱۲ هغوئ ته به ”مقدس خلق“ او ”د مالِک خُدائ بچ کړے شوی خلق“ نوم
اخستلے شی. او یروشلم ته به ”غوره کړے شوے ښار،“ ”هغه ښار چې پرېښودے
شوے نۀ وی“ نوم اخستلے شی.

## په قومونو باندې د مالِک خُدائ فتح

۶۳ ۱ دا څوک دے چې د ادوم نه راروان دے، سرې جامې یې اغوستې دی او د
بُصره ښار نه راروان دے؟ دا څوک دے چا چې د رُعب شاهی لباس اغوستے دے او
قوت سره روان دے؟ ”هم زۀ یم، چې د صداقت اعلان کوم، او د بچ کولو طاقت لرم.“
۲ ستا جامې ولې دومره سرې دی؟ داسې لکه چې ستا جامې د انګورو نچوړولو سره
سرې شوې وی. ۳ ”ما یواځې انګور نچوړ کړی دی، په قومونو کښې هیڅ څوک هم ما
سره نۀ وو. ما په غصه کښې هغوئ نچوړ کړی دی او د قهر نه پرې ګرځېدلے یم. د
هغوئ د وینې دارې زما په کپړو پرېوتې دی او زما جامې په وینو سرې شوې دی. ۴
ځکه چې هغه وخت راغلے دے چې د خپلو خلقو دپاره بدل واخلم. او هغه کال راغلے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے چې هغوئ په بيعه واخلم. ۵ زۀ حيران شوم چې هيڅوک نۀ وو چې خلاصے يې
کړے وے او د مظلومانو مدد يې کړے وے. نو زۀ پخپله ورووړاندې شوم چې هغوئ د
خپل مضبوط لاس سره بچ کړم. او زما غصې زما مدد وکړو. ۶ ما په خپله غصه
کښې قومونه چخنړی او نشه کړل او د هغوئ وينه مې په زمکه توئ کړه.“

## په آزادېدو د مالِک خُدائ ثناء صِفت

۷ زۀ به د مالِک خُدائ د نۀ ختمېدونکې مينې بيان وکړم، هر څۀ چې هغۀ زمونږ دپاره
کړی دی نو د هغې دپاره به زۀ د هغۀ ثناء صِفت کوم. هغۀ چې بنی اِسرائيلو سره
بې‌شمېره ښېګړې کړې دی په هغې به خوشحالی کوم، کومې چې هغۀ د خپل رحم او
مينې په مطابق کړی دی. ۸ هغۀ وفرمائيل، ”دوئ زما خپل خلق دی، يقيناً چې هغوئ
به ما سره دوکه نۀ کوی.“ او هغه د هغوئ خلاصونکے جوړ شو. ۹ هغه د هغوئ په
ټولو تکليفونو کښې شريک شو. او هغوئ هغه فرښتې بچ کړل کومه چې د خُدائ پاک د
حضور نه ورغلې وه. د خپلې مينې او زړۀ سواندی له وجې يې هغوئ په بيعه واخستل،
او ټوله پخوانی زمانه کښې يې هغوئ اوچت کړی وُو او ګرځول يې. ۱۰ خو هغوئ د
هغۀ خِلاف سرکشی وکړه او د هغۀ مقدس روح يې خفه کړو. نو مالِک خُدائ د هغوئ
دشمن شو او د هغوئ خِلاف يې جنګ وکړو. ۱۱ بيا هغوئ ته هغه تېره زمانه رايادہ
شوه کله چې موسیٰ د خپلو خلقو د مِصر نه راوتو کښې رهنمائی کوله. هغوئ چغه کړه،
”هغه چرته دے چا چې بنی اِسرائيل د سمندر نه پورې ويستل، چې موسیٰ د هغوئ
شپون وو؟ هغه چرته دے چا چې خپل مقدس روح راولېږلو چې د هغۀ د خلقو په مينځ
کښې وی؟ ۱۲ هغه چرته دے چا چې خپل طاقت ښرګند کړو کله چې موسیٰ خپل لاس
اوچت کړو، هغه چرته دے چا چې د هغوئ په وړاندې سمندر تقسيم کړو او خپل ځان
يې د همېشه دپاره مشهور کړو؟ ۱۳ هغه چرته دے چا چې د سمندر ببخ کښې د دوئ په
تېرېدو کښې رهنمائی وکړه؟“ هغوئ لکه د ښو آسونو په شان وُو چې په صحرا کښې تيز

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

روان وُو او هيڅ تيندکونه يې نۀ خوړل. ۱۴ لکه څنګه چې څاروی د آرام وادۍ ته
کوزيږی، داسې د مالِک خُدائ روح هغوئ له آرام ورکړو. مالِک خُدائ خپل خلق بوتلل
او د هغۀ د نوم درناوے وشو.

## د رحم او د توبې دُعا

۱۵ اے مالِکه خُدايه، د آسمان نه په مونږ نظر وکړه، چرته چې تۀ د پاکوالی او جلال
سره اوسيږې. ستا غيرت او ستا طاقت چرته دے؟ مونږ ستا د رحم او همدردۍ نه
محروم پاتې شُو. ۱۶ هم تۀ زمونږه پلار يې. اګر کۀ اِبراهيم او يعقوب مونږ خپل نۀ ګڼی،
خو بيا هم مالِکه خُدايه، هم تۀ زمونږه پلار يې، د پخوا نه تۀ زمونږ بچ کوونکے يې. ۱۷
اے مالِکه خُدايه، تا ولې مونږ دې ته مجبور کړو چې ستا لارې نه واوړُو؟ او زمونږ
زړونه دې ولې دومره سخت کړل چې ستا نه نۀ يريږو؟ د خپلو خِدمت کوونکو د خاطره
راوګرځه، د هغه قبيلو د خاطره چې ستا ميراث دے. ۱۸ ستا مقدس ځائ د لږ وخت
دپاره ستا مقدسو خلقو سره وو، خو اوس زمونږ دشمنانو هغه تباه کړے دے. ۱۹ کله
کله خو داسې ښکاری لکه چې مونږ هډو ستا خلق نۀ وُو او نۀ کله ستا د خلقو د نوم
پورې تړلې يُو.

## ۶۴

۱ اے، چې تۀ آسمان وشلوې او راکوز شې، نو غرونه به تا وګوری او ستا په
وړاندې به په ريږديدو شی. ۲ لکه څنګه چې اور لرګی سيزی او اوبۀ خوټکوی، نو ستا
راتګ به قومونه ولړزوی. بيا به ستا دشمنانو ته ستا د مشهورتيا پته ولګی. ۳ پخوا کله
چې تا يروونکی کارونه وکړل چې مونږ يې هيڅ توقع نۀ کوله، نو تۀ داسې راکوز شوې
چې غرونه ستا په وړاندې په لړزان شول. ۴ د پخوا نه نۀ ستا په شان خُدائ پاک چا
ليدلے دے او نۀ يې اوريدلې دی، صرف تۀ هغه خُدائ يې چې د هغوئ مدد کوې څوک
چې ستا په انتظار کښې وی. ۵ تۀ هغه خلقو ته هرکلے وائې څوک چې په خوشحالۍ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره د صداقت کارونه کوی او ستا په لار ځی. ګوره، تهٔ مونږ ته غصه وې، خو مونږ
ګناه نهٔ پرېښودله، چې د ډېرې زمانې نه مونږ په ګناه کښې بوخت يُو، نو څنګه به بچ
شُو؟ ۶ مونږ ټول د هغه سړی په شان يُو څوک چې ناپاک وی، او زمونږ ټول ښهٔ
عملونه د پليتې کپړې په شان دی. مونږ د خزان د پاڼو په شان مړاوی شُو او راپرېوځو،
او زمونږ ګناهونه مونږ لکه د هوا په شان جارُو کړی. ۷ هيڅ څوک هم ستا نوم نهٔ
اخلی او نهٔ تا ته د رحم سوال کوی. تا زمونږ نه مخ اړولے دے او مونږ دې زمونږ د
ګناه په حواله کړې يُو. ۸ خو اے مالِکه خُدايه، تهٔ زمونږ پلار يې. مونږ د خټې په شان
يُو او تهٔ د کُلال په شان يې. تا مونږ جوړ کړی يُو، ۹ مونږ ته سخت مهٔ غصه کېږه او
زمونږ ګناه د همېشه دپاره ياده مهٔ ساته. مونږ ته وګوره، مونږ تا ته مِنت کوُو، او ګوره
مونږ ټول هم ستا خلق يُو. ۱۰ ستا مقدس ښارونه تباه شوی دی، د صيون نه بيابان
جوړ شوے دے، او د يروشلم نه کنډر جوړ شوے دے. ۱۱ او ستا هغه ښائسته او
مقدس کور، چرته چې زمونږ پلار نيکهٔ ستا ثناء صِفت کولو، اور سيزلے دے. او زمونږ
د خوښې ټول ځايونو نه کنډر جوړ شوے دے. ۱۲ اے مالِکه خُدايه، د دې هر څهٔ
باوجود به تهٔ زمونږ مدد نه اِنکار کوې څهٔ؟ خاموش به يې او بې‌انتها سزا به راکوې؟

## د سرکشۍ دپاره د خُدائ پاک سزا

**۶۵** ۱ مالِک خُدائ فرمائی، ”ما خپل ځان هغوئ ته څرګند کړو چا چې زما تپوس
نهٔ کولو، او په هغوئ مې ځان پيدا کړو چا چې زما لټون نهٔ کولو. ما وئيل چې، زهٔ
حاضر يم، زهٔ حاضر يم. خو بيا هم دې قوم زما نوم نهٔ اخستلو. ۲ ما ټوله ورځ
سرکشه خلقو ته لاسونه کولاو نيولی وُو. خو هغوئ په خپلو غلطو لارو ځی او ګډو وډو
خيالونو پسې ګرځی. ۳ هغوئ مسلسل زما په وړاندې زما بې‌ادبی کوی. هغوئ په
مقدسو باغونو کښې قربانيانې پېش کوی او د غېرو قومونو په قربان‌ګاه باندې خوشبويۍ
سوزوی. ۴ هغوئ په قبرستان کښې کښېنی او په پټو ځايونو کښې شپې تېروی. هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خنزير غوښه خوری، او د حرام خوراک ښوروا د هغوئ په لوښو کښې وی. ۵ او
بيا دوئ يو بل ته وائی، ”ما ته مۀ رانزدې کيږه ګنې ما به پليت کړې. زۀ ستا نه زيات
مقدس يم.“ داسې خلق زما په سپږمو کښې د بدبوئ په شان دی، د داسې خراب بوئ په
شان چې هيڅکله نۀ ختميږی. ۶ ګورئ، دا زما په وړاندې ليکلے شوی دی، زۀ به
غلے نۀ پاتې کيږم او هغوئ له به پوره پوره سزا ورکوم. آو، بېشکه زۀ به هغوئ نه بدله
اخلم.“ ۷ مالِک خُدائ فرمائی، ”هغوئ ته به نۀ صرف د خپلو ګناهونو بلکې د پلار
نيکۀ د ګناهونو سزا به هم ورته ملاويږی. ځکه چې هغوئ په غرونو کښې خوشبوئيانې
سوزولې دی او زما بې‌ادبې يې کړې ده. نو ځکه به هغوئ له پوره پوره سزا ورکړم.“ ۸
مالِک خُدائ فرمائی، ”ترڅو پورې چې په انګورو کښې لږ رس پاتې وی نو خلق وائی،
چې دا مۀ ضائع کوئ، ځکه چې په دې کښې څۀ نه څۀ شته چې باعثِ برکت دی. زۀ به
بنی اِسرائيلو سره هم داسې کوم. د خپلو خادِمانو د خاطره به زۀ ټول نۀ تباه کوم. ۹
زۀ به يعقوب او يهوداه له داسې اولاد ورکړم چې زما غرونه به قبضه کړی. زما غوره
کړے شوی به د دې وارثان شی او زما خِدمت کوونکی به هلته اوسيږی. ۱۰ د شارون
په ميدان کښې به ګډې چيلۍ څری او د مصيبت په وادۍ کښې به څاروی آرام کوی. دا
به زما د هغه خلقو دپاره وی چې څوک زما لټون کوی. ۱۱ خو تاسو چا چې مالِک
خُدائ ته شا کړه او زما مقدس غر مو هير کړو، چا چې د قِسمت معبود ته دسترخوان
ويړ کړو او د بخت معبود ته مو د ميو جامونه ډک کړل، ۱۲ اوس به زۀ تُوره ستاسو په
قِسمت کړم. تاسو ټول به د حلالونکی په وړاندې ټيټ شئ، ځکه چې کله ما آواز درکړو،
نو تاسو جواب رانۀ کړو، او چې کله مې درسره کلام کولو، نو تاسو نۀ اوريدو. او زما د
سترګو په وړاندې تاسو قصداً ګناه کوله او هغه څۀ به مو کول د څۀ چې تاسو ته پته ده
چې زۀ ترې نفرت کوم.“ ۱۳ نو ځکه مالِک خُدائ تعالىٰ فرمائی، ”زما خادِمان به
خوراک کوی خو تاسو به اوږی يئ. زما خادِمان به څښل کوی خو تاسو به تږی يئ. زما
خادِمان به خوشحالی کوی خو تاسو به غمژن او په شرم پټ يئ. ۱۴ زما خادِمان به د
خوشحالۍ سندرې وائی، خو تاسو به په مايوسۍ او غمژن زړۀ سره ژړا کوئ. ۱۵ زما د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غوره کړے شوو خلقو په مینځ کښې به ستاسو نوم لعنتی وی، ځکه چې مالِک خُدائ به
تاسو تباه کړی. او خپلو حقیقی خادِمانو له به یو بل نوم ورکړی، ۱۶ نو چې په مُلک
کښې هر څوک هم د برکت دُعا غواړی نو هغه به د رښتیاو خُدائ پاک په نوم برکت
غواړی. هر څوک هم چې قسم کوی نو هغه به د رښتیاو خُدائ پاک په نوم قسم خوری.
ځکه چې د تېرې زمانې تکلیفونه به هېر کړے شی. او زما د سترګو نه به پناه شی.“

## نوے مخلوق

۱۷ ”ګورئ، زهٔ نوی آسمانونه او نوې زمکه جوړوم. د تېرې زمانې څیزونه به نهٔ شی
یادولے، او نهٔ به په خیال خاطر کښې راځی. ۱۸ خوشحاله شئ. او زهٔ چې څهٔ پېدا
کوم نو په هغې همېشه خوشحالی کوئ. ګورئ، زهٔ به یروشلم د خوشحالۍ ځائ جوړ
کړم، او د هغې خلق به د خوشحالۍ سبب وی. ۱۹ زهٔ پخپله به په یروشلم خوشحالی
کوم، او د هغې په خلقو به خوشحاله یم. په هغې کښې به نور د ژړا شور او د پرېشانۍ
چغې نهٔ شی اورېدے. ۲۰ وارهٔ ماشومان به نور په کم عُمر کښې نهٔ مری او ټول خلق
به اوږدهٔ عُمرونه تېروی. د چا عُمر چې صرف سل کاله وی نو هغه به هم ځوان ګڼلے
شی. او څوک چې د سلو کالو نه مخکښې مړ شی نو هغه به لعنتی ګڼلے شی. ۲۱ خلق
به کورونه جوړوی او په خپله به په کښې اوسیږی، د انګورو باغونه به کَری او په خپله به
یې خوری. ۲۲ بیا به داسې نهٔ وی چې د کور جوړولو نه پس به بل څوک پکښې
اوسیږی، او د باغ لګولو نه پس به بل څوک د دې مېوه خوری. زما د خلقو عُمرونه به د
ونو په شان اوږدهٔ وی. او زما غوره کړے شوی به د خپل محنت څیزونو نه ښهٔ خوند
اخلی. ۲۳ د هغوئ خواری به بې ځایه نهٔ وی او د هغوئ بچی به د افت سره نهٔ مخ
کیږی. ځکه چې هغوئ به د مالِک خُدائ بختور خلق وی، هغوئ او د هغوئ اولاد به
برکتناک وی. ۲۴ د دې نه مخکښې چې هغوئ ما له آواز راکړی زهٔ به جواب ورکړم.
هغوئ به لا د خپلو حاجتونو په حقله خبرې کوی چې ما به د هغوئ دُعاګانې قبولې کړې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وی. ۲۵ شرمخان او ګېډې به يو ځائ خوراک کوی، زمريان به د څاروو په شان بوس
خوری او ماران به خاورې خوری. زما په مقدس غر، صيون باندې به نۀ څۀ غلط کار
کيږی او نۀ به چا ته څۀ نقصان رسی. ما، مالِک خُدائ دا فرمائيلی دی.“

## د مالِک خُدائ د قوم عدالت کول

۶۶ ۱ مالِک خُدائ فرمائی، ”آسمان زما تخت دے او زمکه زما د پښو چوکۍ ده.
نو بيا هغه کور چرته دے چې تاسو يې زما دپاره جوړَوئ؟ هغه ځائ کوم دے چرته به
چې زۀ آرام کوم؟“ ۲ مالِک خُدائ فرمائی، ”ما په خپل لاس دا هر څۀ جوړ کړل، نو
بيا دا په وجود کښې راغلل. زۀ د هغه خلقو خيال ساتم څوک چې عاجزان او توبه
کوونکی دی، او زما د کلام په وړاندې د يرې نه ريږدی. ۳ خو څوک چې غوَيے حلال
کړی هغه داسې دے لکه چې انسان حلال کړی، څوک چې يو ګډُورے حلال کړی هغه
داسې دے لکه چې د يو سپی څټ مات کړی، څوک چې د غلې نذرانه پېش کړی هغه
داسې دے لکه چې د خنزير وينه پېش کړی، څوک چې خوشبوئی پېش کړی هغه داسې
دے لکه چې بُت پرستی وکړی. دې خلقو خپلې غلطې لارې خوښې کړې دی، او د دوئ
ځان په خپلو حرامو څيزونو خوشحاليږی. ۴ زۀ به په هغوئ باندې لوئ مصيبت
راولم، هغه ټول څيزونه چې دوئ ترې نه يريدل. ځکه چې کله ما آواز ورکړو، نو هغوئ
جواب رانۀ کړو، او چې کله مې ورسره کلام کولو، نو هغوئ اوريدو نه. او زما د سترګو
په وړاندې هغوئ قصداً ګناه کوله او هغه څۀ به يې کول د څۀ چې هغوئ ته پته ده چې
زۀ ترې نفرت کوم.“ ۵ اے تاسو ټول څوک چې د مالِک خُدائ د کلام په وړاندې
ريږدئ، د هغۀ کلام واورئ، ”ستاسو خپل خلق ستاسو نه نفرت کوی او زما د نوم له
وجې تاسو د خپلوالۍ نه وباسی. هغوئ په تاسو پورې خندا کوی او وائی، مالِک خُدائ
دې خپله لوئی ښکاره کړی چې مونږ ستاسو خوشحالی ووينو. خو هغوئ به په خپله د
شرم سره مخ شی. ۶ واورئ. په ښار کښې شور او غوغا، د خُدائ پاک په کور کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آواز ته غوږ ونيسئ، دا د مالِک خُدائ آواز دے، خپلو دشمنانو له سزا ورکوی. ۷ د
ماشوم د پېدا کېدو درد نه مخکښې د يروشلم ماشوم وشو، د پېدايښت درد نه مخکښې د
هغهٔ زوئ پېدا شو. ۸ چا داسې خبره اورېدلې ده؟ يا يې داسې څيز ليدلے دے؟ يو
مُلک په يوه ورځ کښې پېدا کېدے شی؟ يا يو قوم په يوه لحظه کښې پېدا کېدے شی څهٔ؟
خو صيون سره هم داسې شوی دی. د ماشوم د پېدا کېدو درد نه مخکښې د هغهٔ
ماشومان پېدا شول.“ ۹ مالِک خُدائ فرمائی، ”ولې زهٔ به دا قوم د پېدا کېدو حد ته
راولم او بيا به يې پېدا کېدو ته نهٔ پرېږدم؟ نه، هيڅکله نه.“ ستاسو خُدائ پاک فرمائی،
”زهٔ به دا قوم هيڅکله د پېدا کېدو نه نهٔ پاتې کوم. ۱۰ اے هغه ټولو خلقو چې څوک د
دې ښار سره مينه کوئ، د يروشلم سره خندا او خوشحالی وکړئ. اے هغه ټولو خلقو
چې په دې باندې غمژن وئ، نو اوس ورسره خوشحالی وکړئ. ۱۱ اوس به تاسو د
هغې تسلی ورکولو والا سينې نه ښهٔ په مړه ګېډه پئ وخښئ، تاسو به د هغې ښائسته ډېرو
پيو نه ښهٔ خوند واخلئ.“ ۱۲ مالِک خُدائ فرمائی، ”ګورئ، زهٔ به د درياب په شان د
يروشلم سلامتی زياته کړم، او د قومونو دولت به پرې لکه د سېلاب په شان راروان وی.
بيا به تاسو د هغې سينه روئ، او هغه به تاسو په ډوډی ګرځوی، او په خپل غېږ کښې به
مو ځنګوی. ۱۳ لکه چې يوه مور خپل بچی له تسلی ورکوی، نو زهٔ به په يروشلم کښې
تاسو له داسې آرام درکړم. ۱۴ کله چې تاسو دا څيزونه وګورئ نو ستاسو زړونه به
خوشحاله شی، او د تازه شينکی په شان به زور کښې شئ. او هر څوک به ووينی چې د
مالِک خُدائ لاس د هغهٔ د خادِمانو سره دے، او د هغهٔ غصه د هغهٔ د دشمنانو خلاف
ده. ۱۵ ګورئ، مالِک خُدائ د اور په صورت کښې راروان دے، او د هغهٔ جنګی ګاډی
لکه د طوفان په شان غړمبېږی. هغه به سخت قهر سره او د اور د شغلو په شان سخت
رټلو سره سزا ورکړی. ۱۶ مالِک خُدائ به اور او خپلې تُورې سره د دُنيا عدالت
وکړی، او ډېر خلق به د هغهٔ د لاسه ووژلے شی.“ ۱۷ مالِک خُدائ فرمائی، ”د هغه
خلقو ختمېدل رانزدې دی څوک چې خپل ځانونه مقدس کوی او صفا کوی چې مقدسو
باغونو ته لاړ شی او د هغې په مينځ کښې د بُتانو پيروی وکړی، د خنزير غوښه، ناولی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځيزونه او منړکان وخوری. ﴿١٨﴾ ما ته د هغوئ د خيالونو او عملونو پته ده. زۀ ټول
قومونه او جدا جدا ژبو وئيلو والا راغونډوم. هغوئ به راشی او زما جلال به ووينی. ﴿١٩﴾
زۀ به د هغوئ په مينځ کښې يوه نښه قائمه کړم. او په هغوئ کښې چې کوم ژوندی پاتې
وی نو ځۀ به ترې نورو قومونو ته ولېږم. هغوئ به ترسيس، ليبيا او لِديه چې په غشو او
ليندو استعمالولو کښې تکړه دی، او توبل او يونان ته ولېږم. او هغه لرې مُلکونو ته به يې
ولېږم چې هغوئ زما د شُهرت نه نۀ دی خبر او چې زما جلال يې هم نۀ دے ليدلے.
هغوئ به دغه قومونو ته زما د لويئ اعلان وکړی. ﴿٢٠﴾ هغوئ به ستاسو باقی پاتې خلق د
هر يو قوم نه واپس راولی. هغوئ به يې په يروشلم کښې زما مقدس غر ته مالِک خُدائ ته
د نذرانې په توګه راولی. مالِک خُدائ فرمائی، هغوئ به يې په آسونو، قچرو، اوښانو،
جنګی ګاډو، نورو ګاډو داسې راولی لکه څنګه چې بنی اِسرائيليان په پاکو لوښو کښې
زما کور ته د غلې نذرانې راوړی. ﴿٢١﴾ زۀ به د هغوئ نه څۀ کسان اِمامان او ليويان جوړ
کړم. دا د مالِک خُدائ وينا ده.“ ﴿٢٢﴾ مالِک خُدائ فرمائی، ”لکه څنګه به چې زما نوی
آسمانونه او نوې زمکه زما په وړاندې قائمه وی، نو هم داسې به ستاسو اولاد او ستاسو
نوم تر هميشه پورې قائم وی.“ ﴿٢٣﴾ مالِک خُدائ فرمائی، ”د هرې نوې مياشتې په راختو
او د هر سبت په ورځ به ټول خلق ما له راځی او زما عبادت به کوی. ﴿٢٤﴾ کله چې
هغوئ د ښار نه بهر ځی نو هغوئ به د هغه خلقو لاشونه ووينی چا چې زما خِلاف
سرکشی کړې وه. کوم چينجی چې دغه لاشونه خوری نو هغه به هيڅکله نۀ مری او کوم
اور چې هغوئ سوزوی نو هغه به نۀ مړ کيږی. د هغوئ دا منظر به د ټولو انسانانو دپاره
يرووونکے وی.“


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.